
په سمندر کي دملغلرو لټون
تـولنیزې ستـونزې او دحـل لارې یـې
دفکرونو جوربښت او هغوئ ته وده ورکول
لیکوال
محمـــود (حمیدزي)
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب پېژند پاڼه
نوم:په شمندرکي دملغلرولټون
تاليف، ليکنه :محمودحميدزی
کمپوزر:محمودحميدزی
دقلمي ليکنې نېټه:۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ډالۍ دې وي زما محترم پلار ښا غلي معلم خير الله ته!
زمامحترم پلارلومړی هغه شخص دی چي ماته يې قلم او کتابچه په لاس کي راکړه.
زه دلوی خدای (ج) په مرسته او دهغه په واسطه په دې وپوهيدم چي ليک او لوست وکړم.
زما محترم پلار ماته تل همدغه يوه خبره کوې چي علم،پوهه غوره ده ښه ده اواړينه ده.
ما خپل ډېر علم دخپل پلار څخه زده کړی اوحاصل کړی دی.
هغه تل زماسره زما دزيرکتيا او وړتيا په لوړولو کې مرسته کړې ده.
زه يي تل د ناسمو کړونودکولو څخه راګر ځولی ،منعه کړی يم.
زما محترم پلار زما د ژوند دهو ساينې لپاره تل هڅه کړې ده،او کوي يې.
په رښتيا هم زما داوړه ډالۍ دهغه دښيګڼو په وړاندې هيڅ هم نه ده!
او زه تل دالله (ج) څخه دهغه د دونيا او اخرت دنيکمرغۍ غوښتنه کوم!
الله (ج) زما پلارخيرالله ته دنيکيو په شتون کي اوږد عمر ورکړې.
الله (ج) دې تاته دهغه کړونو اجر او ثواب درکړې کوم چې تا زما سره کړې دي زما محترمه پلاره.
خدای(ج)دی ستاسيوری زما او زما دکورنۍ دغړو دسر څخه نه کمه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**عنوانونه مخونه**

۱ :دلیکوال خبرې........................................ ۱
۲ :بریا ته درسیدولار........................................ ۲
۳ :ځان ښودنه اوزیانونه یې........................................ ۴
۴ :په مثبت ډول درسنیو کارونه........................................ ۷
۵ :د هیواد سره مینه اووفاداري ........................................ ۱۱
۶ :قومي ژبني او نژادي توپیرونه........................................ ۱۴
۷ :علم اوپوهه ........................................ ۱۶
۸ :شفقت او مهرباني........................................ ۱۹
۹ : دمور او پلار احترام کول او حقونه یې ........................................ ۲۲
۱۰ :نشیي توکي ........................................ ۲۴
۱۱ : خپل منځي شخړې او بدی........................................ ۲۶
۱۲ :معلولیت عیب نه دی........................................ ۲۹
۱۳ : دماشومانو ژوند ته لنډه کتنه ........................................ ۳۲
۱۴ :دجنګ زیانونه........................................ ۳۴
۱۵ :دولتي اوشخصی دندې........................................ 38
۱۶ :د وخت بي ځایه نه تیرول،د وخت ارزښت........................................ ۴۲
۱۷ :ځوانان........................................ ۴۴
۱۸ :نیک اخلاق او ښه سلوک........................................ ۴۶
۱۹ :مرسته کول........................................ 48
۲۰ :دوستي او ملګرتیا........................................ ۵۰
۲۱ :شراکت، ګډکار........................................ ۵۲
۲۲ :ګدایي یا فقر کول........................................ ۵۳
۲۳ :ډار (وېره) یوازي دالله (ج) څخه په کارده........................................ ۵۵
۲۴ : دځان څخه ښه شخص جوړول........................................ 58
۲۵ :مطالعه،کتاب لوستنه........................................ ۶۰
۲۶ : خپل لوبي او خویندې په لوړ ولوړ ورکول........................................ ۶۲
۲۷ ښکاره او پټه پاکي........................................ ۶۵
۲۸ :دانسان په ژوند کي دورزش (تکرښت) ارزښت........................................ ۶۶
۲۹ : دماشینونو سمه کارونه........................................ ۶۸
۳۰ :دچا پیریال پاکه ساتنه او سمسورتیا........................................ ۷۰
۳۱ : دیني عالمان........................................ ۷۲
۳۲ :دالله (ج) عبادت په سمه توګه کول، اواحکاموته یې غاړه ایښودنه........ ۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عنوانونه** **مخونه**

**۳۳:پرماشومانو باندي د هغوی دمور او پلار او یا د هغوی دنورو دوستانود خوا ښځه ناسم نوم ایښودنه او په ناسمو نومونو سره دهغوی یادول................۷۷**
**۳۴:په ښوونځیوو او مدرسوو کې کیفیت لرونکي او ښه زده کړه...............۸۹**
**۳۵:دمیرمنې او خاوند(میره) ترمنځ ښې اړیکې او یوبل ته درناوی............۸۳**
**۳۶:مشوره کول..........................................................................۸۴**
**۳۷:دمشرانو(ډیرعمرلرونکو) درناوی کول...........................................۸۶**
**۳۸: پخلاینه................................................................................۸۷**
**۳۹: په غیري قانوني اوپټ ډول سره خارجي هیوادونو ته سفر،دسفر په دوام او هغه هیواد کې بدې پېښې**
**...................................................................۸۹**
**۴۰تشویق کول اودتشویق اغیزې..........................................................۹۱**
**۴۱:اتفاق او یوالی...........................................................................۹۲**
**۴۲:په یوه ټولنه کې وړاو په کارپوه مشران ټاکل ..................................۹۳**
**۴۳:غیبت کول.................................................................................۹۷**
**۴۴:پرحیواناتو ظلم.............................................................................۹۹**
**۴۵: جورت درلودل..........................................................................۱۰۱**
**۴۶:رښتیا ویل اورښتنولي...................................................................۱۰۳**
**۴۷:شګون او زموږ ټولنه ...................................................................۱۰۵**
**۴۸: فرهنګ...................................................................................۱۰۶**
**۴۹:اسلام .......................................................................................۱۱۱**
۵۰:هغه سرچینې چې په دې کتاب کې ورڅخه ګټه اخیستل سوې ده ۱۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دليکوال خبرې

ثنا او ستاينه دې وي پاک الله (ج) لره چې پالو نکی دټولو عالميانو دی. درود او سلام دې وي پر حضرت محمد (ص) بانـدي.دلوی خدای (ج) شکر ادا کوم چې ماعاجزه او ناتوانـه بنـده تـه يـي دا تـوان را وبـخښئ چـې زه دخپلـو ورونـو او خويندو لپاره داستاسوپه لاس کي ليکنه(کتاب)

چي نوم يې (په سمندر کي دملغلرو لټون) دی ولـيکم. الله (ج) دې وکړې چـي زمـا دغه ليکنه زما دورو نو او خويندو لپار دګټې څخه ډکه يوه ليکنه وي او درانـه لـو ستونـکي ور څخه دژوند په چارو کي پوره ګټه پورتـه کړې؛ دخپل ځان او يا هم دټـولنې لپـاره يـوه ملغلـره پـه کښـي ومومې.مـا پـه دې ليکنـه کـي زمـوږ او ستاسو دټولنې ستونزې،کړاوونه،دهغوی دحل لارې او هغه څه را اخيستي دي چې دهغوپه پلي کولو سره زموږ او ستاسو ټولنه پرمختګ کولی شي.

مـا پـه دې ليکنـه کـي دځنيـو ټولنيزو،کلتـوري اواسلامي موضوعاتو څخـه يادونـه کړې ده.مـا پـه دې ليکنـه کـي زمـوږ او ستاسـو دټـولنې ښـګڼې او بـدی دواړی را اخيستي دي. ستاسو درنو لو ستونـکو څخه مې غوښتنه دا ده: چې

تاسو هم درخپل توانه پوري دټولنې په اصلاح کـي خپل تـوان او وس مـه سپموې ترڅو زموږ او ستاسو ټولنه دهره اړخه يوه پر مختللي او دستو نزو څخه خلاصـه ټولنـه و اوسـي.هيله مـې ستاسـو لـو ستونـکو څخـه دا ده چـې کـه کوم ځـای زمـا عاجزه بنده څخه په دې ليکنه کي وړه يالويـه غلطي سوې وي نـو تاسودرانـه يـې پـه اصلاح کولـو کـې را سره مرسته وکړئ.مـا دا ستاسـو پـه لاس کـي ليکنـه ددې لپـاره ليکلـي ده چـې زمـا مسلمانانو ورو نـو او خوينـدو تـه يـې ګټـه ورسـيږي او يوازي او يوازي مې هيله خپل ټولنې ته ددې لارې څخه خدمت کول اونيکي کـول دي، الله (ج) دې زما څخه په دې کار کول نـه نـاراضـه کيږی.مـا چي پـه دې ليکنـه کي دکومو موضوعاتوڅخه يـا دونـه کړې ده تاسو لوستوونـکي پـه هـره موضـوع کـي ژور فکـر کـوونـکي و اوسـي، او دخپـل وس او توانـه پـوري تاسـو هـم زيـار وباسې چي زموږ اوستاسـو هيـواد اوټولنـه نـور هم پيـا وړي شـي. موږ او تاسو بايد تل زيار ايستونـکي و اوسو اوتل موهڅه داوي چي دخپل ځان سربيره نوروتـه هم ګټه ورسوو.دنيکوانسانانو لار ښووني اوزموږ او ستاسو ګډ کـار زموږ ټولنـه او زموږګران هيواد (لوی افغانستان) پياوړی کوي. موږ او تاسو هر يو بايد خپلـې مفکورې او تجربې دنورو سره شريکې کړو، تر څو دموجوده ستونزو څخه ليري واوسو او نور ستونزې موږ ونـه ګوابنې. موږ هريو کولی سو کار وکړو دځـان او خپلې ټولنې لپار ديوې لارې نـه دبلې لارې خدمت وکړو.هيلـه مـي ستاسـو درنـو لـو ستونـکو څخـه داده چـې مـاحقير بنـده پـه خپلـو دعاګـانو کـې ديـاده مـه بـاس‌ئ.پـه درنښت:محمود((حميدزی))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بریا ته د رسیدو لار

ډیر خلګ په دې فکر کې وي چې بریالیتوب دي تل زما په برخه وي، مګر داسې نه ده ،بریا او کامیابي هغه وخت شونې ده چې موږ زحمت وکاږو، هڅه وکړو، هوډولرو، او هیڅکله خپلو سمو او پر ځای پر یکړو ته بدلون ورنه کړو او شا ته تګ ونه منو،که څه هم موږ په زرګونو ځلې خپل په هیلو کې ناکام سو. دبریا راز په نا کامۍ کې پټ دی.کله چې تاسو دناکامۍ سره مخ کیږي. نو دا فکرمه کوئ چې زه ددې توان نه لرم چې بریالی به سم.امتحان یې کړئ او بیابیا خپل بریاته د رسیدلو هیله تکرار کړئ، کوښښ وکړئ ترڅو بریالیتوب ته ورسیږي.ډیر خلګ داسې دي چې کله په یوه کارکې دنا کامۍ او ماتې سره مخ سي نو بیا هغه شاته تګ وکړي ماتي ومني اونور بیادهغه کار دکولو هڅه نه کوي؟ چې داکړنه یوازې اویوزې ددوی وهم او وېره ده، نورهیڅ هم نه. هیڅ وخت داسې نه سې کیدای مګر ډېر په لږه اندازه اونامعلوم وخت داسې کیږي. چې یو بریالی شخص دي په لومړی ځل خپلې موخې ته ورسیږي، او بریالی دې سي. بریاته درسیدلوپه لاره کې هرورمرو ستاسو مخ ته خنډونه اوستونزې راځي مګر تاسو خپله هیله دلاسه مه ورکوئ او بیابیا خپل هدف(موخې)ته درسیدلو فکروکړئ،او داسې وګڼئ که چیرې داځل لازه هڅه وکړم نو زه به بریالی سم،او کامیابي به مې په برخه شي.تل په خپلو کارونو کې دحوصلې څخه کاراخلئ،صبر ولرئ اود زغم خاوندان واوسئ.په خپل ژوند کې هر وخت ځان ته بیل، بیل انتخا بونه اوموخې مه ټاکئ.غوره انتخاب ولرئ او بیا دغره په شان کلک ودریږئ،تر څو تاسوته دبریا لارې پرانیستې پاتې سي، اوتاسوپر هغه لاره بیله دې چې راوپر زیږي مخته لاړسئ.ماهیره لامبوزن هغه نه دی چې په لږو اوبو کې لامبو ووهې، بلکې ماهیره لامبوزن هغه دی چې دسمندر په شدیدو(سختو) څپو کې لامبو ووهې او نه پریکیدونکي څپې پرې کړئ او خپل منزل ته ځان ورسوئ.انسان فکرکوي چې زه پیا وړې اراده اوټینګ هوډ لرم؟خودانسان فکربه یویې کوچنې حشرې ته نه وي ورواوښتی،چې آیا انسان پیا وړي آراده ،اوهوډلري او که هغه کو چنۍ حشره؟البته دا خبر زه دټو لو انسانانو په اړه نه کوم، داسې ډېر انسانان وه او سته چې هو ډیې دغرونو دسختو ډبرو څخه سخت وو اودی او په خپل کلک هوډ سره غرونه سورې کوي،مګرداسې انسانان هم سته چې استقامت (هوډ)یې ډېر کمزوری وی اوهتأ ژوند کول لا هم ورته ستونزمن او بې ګټې ښکاري؟ مخکې مو دحشرې یادونه وکړل. یوه حشره راوا خلئ او یوه صاف لوښي ته یې وا چوئ او بیا وګورئ چې داحشره دخپل خلاصون لپاره درکومې اندازې هڅه کوي،دخپل هوډ او کلکې آرادې څخه درکومه بریده ساتنه کوي اوهوډمنه او مباریزه پاتې کیږي. تاسوبه دهغې مباریزه اوپیاوړی هوډپه خپلوسترګووګورئ او دا به دهغې حشرې په لیدلو درته معلومه سي چې یوه حشره چې دانسان څخه په جسمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومعنوي لهازکمزوري ده هوډيې بيا دځينوانسانانوڅخه ځومر ډيرپياوړی دی!
يوه حشره چې دکړاونواوستونزوپه وړاندي دردې حده مبارزه کوي اودخپل هيلې څخــه چــي دســتونزې څخــه خلاصــون دی نــه اوړي نــو يوانســان بايــد ديــوکړاو اوستونزې پر وړاندې درکومه حده ودريږي اوڅومره ټينګ هوډبايد ولري ؟
يوه ونه ټول ژمی ددې په تمه اوهيله تېروي چې کله به سپرلی راځی،ونه انتظار کوي او بيا دسپرلي پـه راتلو هغه ونـه زر غونيږي، پاڼې، غوټۍ،ګلونـه اوميوې کوي.
اوبـه خپل تګ تـه درهغو پوري دوام ور کـوي تر څو يـاخو وچې سوي نــه وي اوياخوخپل منزل ته نه وي رسيدلي.ستوري هره ورځ دې ته انتظار باسي چې کله به تياره راځي او موږ به ځليږو.متل دی چي وايي: بې زحمته رحت نسته!
ځوک چي ډېره هڅه کوي نو هتمن به هغه تـه ډېر څـه هم پـه لاس ورځـي خدای جل جلاله انسان په دې نه دی مکلف کړی چې په کارو نو کې تلوار وکړئ او دبې صبرۍ څخـه کـار واخلئ،الله جل جلالـه موږپـه تلوارنـه کولـوامرکړي يو،پـه دې خبره دلاښه پوهيدلو لپاره سُوْرَةُ الأنبيَاء : 37نمبرايات ولولئ.
ديوه حديث شريف مفهوم دی(ځوک چي دصبرعادت جوړکړي نوپرهغه الله جل جلاله صبراسانه کوي.① تل خدای جل جلاله انسان ته دزحمتو نو اجر ور کړی او ورکوي يې. هر هغه ځوک چي په روا، او سا ليم ډول دبريا هيله لري، لوی خدای جل جلا له دهغه سره مرسته کوي او هغه ته دبريا دلا سته راوړلو لاره ښيي.
مـوږ الله (ج) دې نـړی تـه ددې لپـاره را استو لـي يـوو چـي زمـوږ څخـه ازموينـه واخلي، که نه دالله(جل جلاله) دلوی دربار څخه کوم څه نـه کميږي چې يو انسان دې بيله ازموينی جنت ته دا خل کړي! مګر ازموينه اخستل کيږي .
کوم انسانان چي حق ته يې غاړه ايښې وي,نيـک کارونـه کوي او دالله جل جلالـه داحکاموڅخه سرغړونه نه کوي که چيرې ،دالله جل جلاله خوښه وه نو جنت تـه به يې دا خل کړي او هغه کسان چې حق نه مني، بد کارونه کوي او دالله جل جلاله داحکاموڅخـه سر غړونـه کوي، کـه دالله جل جلالـه خوښـه وه نـو هغو کسانو تـه بـه سزا ورکـړی اوکـه يـی خوښـه وه پـر وبـه رحميږی، پـه دې خبـره دلاښـه پوهيدلولپاره سُوْرَةُ آل عِمـرَان : 129نمبرايـات ولـولئ. مـوږ هروخـت پـه ازمـو ينه،(امتحان) کي يو،په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره،سُوْرَةُ البَقَـرَة : 155شماره ايات ولولئ. په دې ازموينوکي دبريا لپاره بايد هر وخت هيلـه مند واوسو ،هيڅ وخت نا هيلي اونا اوميده نه سو، هر وخت هيلـه ولـرو، تر څو دکاميـابی ترپولي ورسيږو او کاميابه سو.
لو مړی بايد دخدای جل جلاله دلوی دربار څخه ناهيلي نه شو او دهغه ورسته بايد په خپل ځان باور ولرو کلک او نه ماتيدونکی باور.



۱- صحيح مسلم,حديث ګڼه 2424

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپلو مشروع ،روا هيلودپوره کولو په لاره کې بايد ونه ويريږو،په پوره ډاډسره بايد دبريا خواته واړانديږ ولاړسو.
دهغو کسانو سره مرسته وکړو چې هغوی غواړي خپلومشروع هيلو ته ځانونه ورسوي او تل يې درمرستې ترڅنګ تشويق هم کړو،حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ډير ځلې دداسې پيښو سره مخ شوی دی چې هغه داسلام دمبارک دين په لاره کې دحدنه زياتې ستونزې او کړاونه ګاللې دي، چې دطايف دخلکولخوا زورول کيدل يې ښه بېلګه ده.
ددې هرڅه سربيره به هم حضرت محمد صلی الله عليه وسلم پر هرې ستونزې صبراختياره وه، او نه به ناهيلی کيده.
دهغه (ص) کلکه اراده، هسک عزم اونه ماتيدونکی هوډ و چې دلوی خدای جل جلاله په مرسته داسلام مبين دين دنړۍ په ګوټ ګوټ کې خپورسو. راسئ چې موږ دهغه مبارک صلی الله عليه وسلم داستقامت څخه پند وا خلو. که چيرې موږ په خپلومشروع هيلو کې دستو نزو او مشکلاتو سره مخ کيږو، بايد هغه وزغمو، بيابيا کوښښ وکړو ترڅو خپلو هيلو ته ورسيږو او په خپله هيلو کې دبرياليتوب درپولې منډې و وهو.
راسئ نوردناکامۍ څخه ونه ويريږو،که چيرې کاميابي،برياليتوب غواړو نو بايد کاميابۍ ته درسيدو په لاره کې خنډونه اوستونزې وګالو، په ناکامۍ ليدلو سره دکاميابۍ پرلاره تګ پرې نږدو،که ناکام سو بايد صبر او زغم ولرو اومايوسه نه سو. زړونه مو بايد تل ډاډمن اوهيله مند وساتو،که څه هم زموږ مخته دومره خنډونه اوستونزې راسې، چې زموږ شاته تګ بيخې هتمې سې، دهر ډول ستونزې اوخنډسره بايد مقابله وکړو ترڅو بريا زموږ په برخه سي، او خپل ژوند ته په برياليتوب دوام ورکړو.

---

## ځان ښودنه اوزيانونه يې

رسوالله صلی الله عليه وسلم فرمايي: الله جل جلاله فرمايي: ژباړه زه بې پروايم له شريکانوڅخه چاچې يوعمل (کار)وکړاوپه هغه کې يې بل څوک شريک کړنوزه هغه اودهغه کارپريږدم ①
مطلب داچې کوم کاراوعبادت چې دځان ښوونې لپاره وي دالله (ج) په نزد ښه کارنه دی، اوالله (ج) دهغه شخص اوکارڅخه بې زاري ښودلې ده.
زموږ په ټولنه کې ځينې خلک دخپل نوم دلوړولو، او دنورو خلکو څخه دځان لوړښودلو لپاره ځينې داسې کارونه ،کړنې کوي چې نه يوازې داچې خپل ځان ته



۱ ـ صحيح مسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زیان رسوي بلکي دا کړنې یې پرټولنه باندي هم بدې اغیزې کوي اودټولني نورخلګ هم دمشکلاتو سره مخ کوي.**
**زه ددې کړنو دجملي څخه چې دوی یې کوي دلته څو بیلګې لیکم:**

**لومړی: پر بي وزلو او کمزورو انسانانو باندي زور زیاتی اوظلم:**
**ځیني انسانان په دې خاطر پرنورو انسانانو ظلم او زور زیاتی کوي:چي دهغو څخه په مالي ډول ځان تقویه کړي. ځیني نورددې لپاره چې نورانسانان دده څخه وویریږي اوپه ټولنه کي ددوی په آند نوم وړي اونوم لوړي سي: دظلم لاره اختیاره وي په ټولنه کي فساد خوروي اوټولنه ددوی دزور زیاتي اوظلم څخه آرامه نه وي. جالیبه خوداده چې ځیني نور انسانان بیا دیوې ټولنې پراوسیدونکو باندي په دې خاطر زور زیاتی کوی چې دوی دخپل زور زیاتي څخه خوند اخلي!**
**بې معنا اوبې ځایه خبرې کول ، نور ته سپکاوی کول، ځان لوړ ښودل، بې معنابي او ځایه موډ،فیشن اودې کاروته ورته نورکارونه ځیني انسانان دنوم ښودني اوځان مشهوره کیدو لپاره کوي چي په دې کارسره دوی داغواړي چي دهغوی په ګمان دهغوی ټولنه ورته احترام (درناوی) وکړي اویاهم ورته دعزت په نظروګوري:حال داچي هیڅ کله یو انسان پر نورو انسانانو باندي په ظلم او زور زیاتي کولو اوپه ټولنه باندي په جبرځان محترم بللواومنلو دعزت خاوند نه سئ کیدلی.**
**کوم انسانان چې داسي کسانوته درناوی لري: یابه د وهم( ډار) او ویرې څخه دوی ته عزت ورکوي اودرناوی به ورته لري او یابه هم ددوی په ناروا کارونو باندي خوښ وي.**
**که چیرې یوانسان په خپله خوښه دیوه ظالم او بد کاره انسان سره دهغه په کارکي مرسته وکړل او یا هم په خوښ سو:دده او هغه کس چي بدکاره او ظالم دی توپیرنسته او په ګناه کې ورسره ونډه لري.الله جل جلا له موږ دنیکۍ په کړنوکې په مرسته کولو اودبدۍ په کارونوکي په نه مرسته کولو امرکړي یو په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره سُوْرَةُ المَائدة : 2نمبرایات ولولئ.**
**ځیني کسان بیا داسي کارونه دځان ښودني لپاره کوي: چي ددوی کړنې داسلام دمبارک دین اود خپلې ټولنې دکلتوراو عنناتو څخه مخالفه وي او ددې کم شمیروګړو لکبله هغه ټولې ټولنې ته چې دا څوناکاره اوبدکاره انسانان په کې شتون لري ځیني نادرکه، کم آندي اوکم فهمه کسان دهم هغووګړو په نظرګوري چې ګواکي هغه واړه ټولنه دهم هغوبدکارو انسانانو په شان ده داډول فکر(آند)ګمان کول ، دیوه باهوښه انسان لپاره نه ښایي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بله دنوم ښودلو او ځان مشهوره کولو لاره چې ځيني انسانان فکر(آند) کوي چې همدا به وي:دخوښۍ او ځيني نورو محفلونو کی ډېراو بې ځايه لګښتونه او مصارف دي،دا کارنه يوازې داچې بې ګټې او بې فايدې کاردی، بلکي داکار په ټولنه کې دوخت په تيريدو سره مروج کيږی اوټولنه ددې زيات لګښت خوښوونکو خلکو پر لاره پل ږدي چې ورسته بيا غريب او ناچاره خلک هم دې ته مجبور سي چې په خپلو محفلونو کې زيات لګښت وکړي،ياد کارددې سبب ګيږي چې په ټولنه کې ددې لګښتونو دپوره کولو لپاره ځيني خلک ناروا او نا مشروع کارونو ته زړه ښه کوي اويا هم خپل دهيواد پريښودلو ته اړوزي مهاجرت کوي. که چيرې شتمن خلک هغه لګښتونه چې په خپلو محفلونو کې يې لګوي،زموږ او ستاسو دټولنې غريبو او نادارو اوسيدونکوته ورکړې او وسره مرسته وکړې: زموږ او ستاسو دټولنې دابې وزلې به دمنځه ولاړه سي او هيڅ يو غريب کس به پاتې نسي، په ياد کارکولوسره به موږد دوو ګټو څخه برخمن سولومړی: ټولنه به مودغربته خلاصون پيداکړي. دوهم: داخرت دهوسايني اودجنت خواته دور وړاندي کيدولامل به موسي.اسراف کول او بې ځايه لګښتونه داسلام دمبارک دين خلاف عمل دی!**

**الله جل جلاله بې ځايه اصراف کوونکي دشيطان ورنه بللې دي، په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 27نمبرايات ولولئ،حضرت محمد صلی الله عليه وسلم فرمايي: ؛وخورئ، وڅښئ، صدقه ورکړئ، مګرلـه اسرف څخه ځان وساتئ.① موږ او تاسوډېروخت په دې خبره ښه پوهيږو چې کوم کارچې زه يې کوم ناروا او حرام کاردی خوددې سرببيره يوازې ددې خبرې لپاره چې زموږ په محفل کې کډونکوونکي وګړي يوازې دا ووايې چې فلانی په خپل محفل کې دومر لګښت اودا اوها کړي وه داکار کوو دې خبرې ته مو هيڅ پام نه وي چې که نن ورځ زه په خپل محفل کې داډول لګښت وکړم نو سبا يو بل څوک هم په خپل محفل کې زيات لګښت کوي رو،رو به داکارپه ټولنه کې عام سي او نورخلک به هم دې ته وهڅول سي چې په خپلو محفلونو کې اسراف او ډېر لګښت وکړي: هغه وخت به هغه غريب خلک چې هتاخپل جامې، او خوړه نه سي پيدا کولی څه وکړي؟ آيا هغوی دا توان لري او که نه چې زموږشتمنوپه څيرلګښتونه وکړي؟**

**ولې ددې ناروا کړنې څخه يو کوچنی فرهنګ جوړکړو؟ په محفلونو او غونډو کې داندازې څخه زيات لګښت څخه بايد ډډه وکړو،داکارمودشتمنی بې ځای مصرفولو مخه نيسي او ورسره به مودالهی حکم څخه سرغړونه هم نه وي کړي.**

**موږ په محفلونوکي په ډېرلګښت کولو سره دټولنې بار وردرنوو او خلک په قصداً دې ته اړباسو چې ياد نارواکار دوی هم وکړي زموږ داکار زموږ پرخپل ځان ظلم دی، په دې کارسره ګناه په خپله ځانته پيرو،هغه لګښتونه چې موږ يې په خپلو محفلونو او غونډو کې کوو ،بايد دلوی خدای جل جلاله درضالپاره يې په**



۱- صحيح بخاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي کارونو ولګو،و کړو چې زموږ ولس او ټولني ته يې ګټه ورسيږي،نه داچې خپل شتمني په داسي کړنو مصرف کړو چي نه يې موږ او نه يې هم زموږ ټولني ته کومه ګټه ورسيږي. موږاوتاسوبايد دخپلې ټولنې دارمنواو سيدونکو سره بيله کوم تو پيره مرسته وکړو. الله جل جلاله خيرات ورکوونکي وګړي الله جل جلاله ته حسنه پور ورکوونکي وګڼړي بللې دي اوهغوی سره يې دځوبرابره زيات اجرورکولو وعده کړی ده!په دې خبره دلابنه پوهيدلو لپاره د سُوْرَةُ الحَدِيد : 18)نمبرايات ولولئ.زموږدکارونوله عمله بايد زموږټولنې ته زيان ونه رسيږي اوپه خپله پرخپل ځان او ټولنه ظلم اوتيری ونه کړو. راسئ چې داسي کارونه وکړو چي په اوږد محله او لنډ محاله توګه زموږ دټولني اوسيدونکوته ګټورتمام سي. ددې برځای چې ځان ښودونکي ،مغروره پرخپل ځان اود خپل ټولني پراو سيدونکو باندي ظلم کوونکي و اوسو:بايد خير رسوونکي، مرسته کوونکي اوعاجزه انسانان و اوسو، هيڅ وخت داسي يو کار ونه کړو چي خپل اخرت ته زيان ورسوو،دلوی خدای جل جلاله اُمرو ځخه سرغړونه ونه وکړو او دوږخ وه ځان ته په خپل لاس وانه خلو. موږ او تاسو بايد داسلام دمبارک دين دټولو احکامو ځخه پيروي وکړو تري سرغړونکي او بدې غوښتونکي ونه اوسو تل خير غوښتونکي انسانان و اوسو.

---

## په مثبت ډول درسنيو کارونه

په اوس وخت کې ږغيزو ،متني، اوتصويري(انځوريزو) رسنيو او وسيلو دانسانانو په ژوند کې ډيرې آسانتياوي اونوښتونه منځنه راوړي دي،او ددې وسيلو په مرسته خلګ ديوبل سره ډير نژدي سوي دي. دمعلوماتو راکړه ورکړه اوس په ډيرلږ وخت کې دنړئ وهرګوټ ته کيدای سي. ددې رسنيو اووسيلو دجملې ځخه راډيو ،تلويزيون، کمفييوټر ،تليفون ،فکس، انټرنيټ اوداسي نور يادولی سو. داهغه وسيلې دي چې په اوسني وخت کې دخبر رسولو، ديو بل سره داړيکو ټينګولو، تجارت، جګړيزو، روغتيايې، تفريحي، اوپه ځينونوروبرخوکي دکار دلاښه آسانتيا لپاره استعماليږي.

## لومړی: راډيو او تلويزون

موږ او تاسو بايد ددې وسيلو ځخه په مثبت ډول استفاده وکړو، اوددې دو وسيلو ځخه دخبرو داوريدلو د تعليمي، اوتفريحي خپرونو داوريدلو او ليدلو لپاره کاروا‌خلو . که چيرې موږ ددې ډول رسنيو سرپرستان يوو.موږ بايد دخپلو اوريدونکو اوليدونکو لپاره داسي خپرونې تياري کړو چې ددې خپرونو له کبله زموږ ليدونکي او اوريدونکي په هغه مسائيلو،موضوعاتو(سکالوګانو) وپوهيږي چي په هغو کې معلومات نه لري. موږ بايد هغوی ته ګټوره روزنه او ښوونه دخپلورسنيوله لارې وړاندي کړو. داروزنيزي خپرونې بايد د کيفيت اوکميت له پلوه لوړي، دپام وړ،په زړه پوري او پوره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خلکوتــه دينـــي، ټــولنيزي، اقتصـــادي، روغتيـــايي، حقــوقي ،کلتــوري او پـــه ډيرنوروبرخو کې پـه پوره ډول معلومـات ورکړي، ترڅو دعامو او هغو کسانو لپاره چې تعليم نـه لري يوډول دښووني اوروزنې سرچينه وګرځي، دخلکو په منځ کې هراړخيزه عامـه پوهـوي زيـات سـي ،خلـګ نوښـتونو تـه پـه هـر برخـه کـې وهڅيږي اوټولنه مو نور داسي يوه ټولنه پاتې نـه سي چې دډېرو اړينومعلوماتو او پيښيدونکو پيښو څخه نا خبره وي. داډول رسنۍ دټولني لپاره دتعليم او تربيې دښوولو اونيک عامه پوهوي يوه برخه ګرځي اودټولنې وګړي ورڅخه په زياته اندازه په بيلا بيلوبرخوکې پوهوي ترلاسه کوي.

## دټولنې دميشتو وګړو رول دراډيو او تلويزيون څخه پـه سمي استفادي کولوکي:

خلـک رسنۍ بايد ددې لپاره ونـه کاروي چې دخپرونـو څخـه يـې ناسمه استفاده وکړي او يايې هم دخپرونـو څخـه ناسم پوهـوي ترلاسـه کړي.پـه ځينـو رسنيو کې داسي خپرونې لوستونکو، اوريدونکو او ليدونکو ته خپريږي، چې دهغو خپرونـو په لوستنه، ليدنه او اوريدنه سره يو ښه انسان غلطي او کږي لارې تـه تيل وهل کيږي. ټولنــه دهغـو خلکـو دشـموپلانونو او اغيزولانـدي راځـي چـې هغـه خلـګ غواړي ديوې ټولني داوسيدونکووګړو ذهنيتونوته منفي سمت ته بدلون ور کړي اوخپـل هغـه شـوم پلانونـه پـر هغـوی پلـي (تطبيـق) کـړي چـي دوی يـې غوښـتنه لري.مـوږ او تـا سـو بايـد دهغـو خپرونـو دليـدلو، لوسـتلو او اوريـدلو څخـه ډډه وکړو،چـې پـه هغـه خپرونـوکي زموږکلتـور، عنعنـاتو ،ژبـې، ټـولنيز ژوندانـه، اود هيواد خلګو ته په کښې زيان رسيږي او يا هم ورتـه په کښې سپکاوي سوی وی. زموږ او ستاسو په ټولنه کې داسي رسنۍ شتون لـري چې هغه زمـوږد فرهنګ، ټولنې، ژبې، کلتور، عنعناتو، تـاريخ، کړو وړو، دين او ټولنيز ژوندانـه تـه دزيـان رسولو او هتـأ دلمنځـه وړلـو کوښښونه کوي! داډول رسنۍ بايد وپيژنـدل سي او مخنيوی يې وسي او کـه چيرې يې مخنيوی ستونزمن وي، نـو بايد ددوی ټولـه ترحـي او پلانونـــه ددولـت دخواڅخـه بربنـدې سـي. کلــه چـې ټولنـــه ددې ډول رسنيودخطرناکوپلانونو په اړ خبره سي نو بايد په هيڅ ډول ټولنه دې تـه زړه ښـه نه کړئ چي يادې رسنۍ واوري ولـولې اويـايې هم ووينې. رسنۍ بايد يـوازي او يـوازي خپل ټولنې تـه خدمت وکړئ، او ورتـه دزيـان رسولوسبب نـه سي. ټولې رسنۍ بايد دهغو ارزښتو نو ،چې په يـوه ټولنـه کې ورتـه درنـاوی کيږی سپکاوی ونـه کړي، داهڅه ونـه کړي چي ددې ارزښتونو په باره کي ټولنې تـه ناسم پوهـوي ورکړي.يـوه رسنۍ بايد ديـوې ټولنې ټولـو وګړوتـه پـه يـوه نظر وګوري، ددوی ترمنځ توپيرونـه کړي، يو پربل باندي ورته ازښت ورنـه کړي اوتـرمنځ يـې ديوالې دلمنځه وړلو هڅه ونکړي.موږ او تاسو بايد خپل ماشومان دهغه ړغيزو،متنـي، تصويري خپرونـو دليـدلو، اوريـدلو اولوسـتلوڅخه منعـه کـړو چـې هغـه خپرونـې غيري اخلاقي، او داسلامي احکامو څخه خلاف وي،

اویا هم داسې خپرونې وي چې ټولنه دفساد خواته کشوي او په ناروا عملونو باندې یې اخته کوي.داډول خپرونې دماشومانو پرهغه ذهنیت باندې ډېر ژرخپله اغېزه غور ځولی سي چې هرڅه ورته ښه معلومېږي او هغه کارونه کوي چې دوی یې ویني، لګولي او یایې هم اوري.دماشوم حافظه دې ته اړتیا لري چې نوي شیان حفظ اوورسته ترزده کولویې عملي کړي. هرڅه چې ماشومان ووینې ،وي لولي اویایې هم واوري، دوی یې په راتلوونکي وخت کې دعملي کولوکوښښ کوي،ځکه دوی ددې ترمنځ توپیر نه سي کولی چې څه ښه دي او څه بد.

ماشومانو ته دجنګ جګړو،وژنې اوژوبلیدنې فلمونه ښکاره کول، کیسې، نکلونه کول، ناولونه لوستل، په حقیقت کې دوی ته: دقتل غلا او ژوبلیدنې لارښوونه اوپه هغوبرخوکې روزنه ده. که غواړو چې ماشومان مو ښه وروزل سي او دبد اخلاقیو، اوبدو کارونوڅخه یې لیري وساتو نو باید ماشومان مو درخاصې څارنې لاندې ونیسو او د دوی دژوند ټول اړخونه تحلیل او وارزؤ.مونږ باید لومړی خپله منفی اړخ درلودونکي خپرونې ونه څارو اوپه دوهم قدم کې خپل ماشومان دمنفي مفکورې اومنفي اړخ درلودونکو خپرونو دلوستلو،اوریدلو اولیدلو څخه په کلک ډول منعه کړو.دکمفیوټر،انټرنیټ او مبایل څخه سمه استفاده کول: زمونږ او ستاسو په ټولنه کې په کمفیوټرونو، تلویزونونو،موبایلونو،انټرنیټي شبکو اونورو تصویري رسنیو او وسیلو کې داسې فلمونه او تصویرونه کتل کیږي چې هغه فلمونه اوتصویرونه په هیڅ ډول زمونږ ددین، رواجونو،کلتور،عنناتوسره اړخ نه لګوي، یادې لیدنې نه زمونږ دین خوښوي اونه یې زمونږ کلتوراوعننات خوښوي اونه هم دالیدنه زمونږ دشخصیت سره برابره وي.دافلمونه اوتصویرونه (انځورونه) که زمونږ ددین مخالفه وي که زمونږ دعنناتو، خو لیدنه یې په هرحلت کې یوازې او یوازې مونږ ته زیان رسوي یادفلمونه اوتصویرونه ځینې وخت مونږ او تاسوته ژوبلونه ،وژنه، فریب، بې احترامي او ځیني وخت راته بد اخلاقې اوبې عزتې راښیې.هو داسې هنري فلمونه اوتصویرونه هم شتون لري چې مونږ کیداي سي ،چې دهغوڅخه مثبت اړخونه زده او ورته متوجې سو او زمونږ په ژوند کې راته د تفریح او پوهوي وسیله وګرځي اوپرهغولارو تګ راته هوسا اوآسانه کړې چې مونږ ورباندې په تللو کې ستونزې لرو. هنري فلمونه اوتصویرونه که په مثبت ډول سره ولیدل سي او موضوع یې ښه درک کړل سي: مونږ او تاسو ته ښایې په هغوکې لارښووني موجودې وي. که څه هم دټولوزده کړوسرچینه کتابونه دي اوفلم ته کومه اړتیا نه لیدل کیږي.که چیرې بیا هم مونږفلمونه اوعکسونه وینو نوباید دیوفلم اوعکس منفي اړخ ته پاملرنه ونه کړو اوکه دمثبت اړخ دلیدنې څخه که کوم پوهوی لاسته راځي لاسته یې راوړو.مونږ او تاسودېروخت دیو فلم ،تصویر،لیکنې،خبرو،یابل کوم کارمنفي اړخ ته درمثبت اړخ ډېره پاملرنه کوو، چې داکړنه زمونږ دتبا هې خواته قدم اخیستنه ده. هغه فلمونه چې داسې سحنې ولري چې هغه دبې شرمۍ او بې حیایۍ څخه ډکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي: باید په هیڅ ډول سره ونه کتل سي او پرې نږدو چې دیادوفلمونو کتنه موږ ناروا کارونو ته وهڅوي.دا سي وخت تیرونه اوتفریح چې زموږدونیا اواخرته زیان په کښې نغښتی وی باید ترینه په کلکه ډډه وکړو.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: دوه نعمتونه داسي دي چې ډیرخلګ یې قدرنه کوي،روغتیا اوفراغت.(۱)موږباید د دونیا په خوشحالی باندې خپل اخرت ته زیان ونه رسوو، دلوی خدای جل جلاله داحکامو څخه سرغړونه ونه کړو،ولې خپل اخرت ددې دونیاپه بدل کې وپلورو؟ حال داچې رسوالله فرمایي:په جنت کې دیوې چلاخې ځاي تردنیا اوڅه چې په دونیاکې دي ښه اوغوره دی، یوسهاریاماښام دالله په لارکې تلل تردونیااوڅه چې په دونیاکې دي ښه دئ.②

## دمبایل،تلیفون اوکېمروپرځای اوسمه کارونه:

موبایلونو او کیمرو زموږ او ستاسو لپاره ډېرې آسانتیاوې منځ ته راوړي دي. مګرموږ ډېروخت دهغو څخه سمه اوپرځای استفاده نه کوو ،په ځینو وختو نه کې ترینه ناسم کار اخلو او په ټولنه کې دهغوی په واسطه فساد خوروو.

بې اړتیا اوبې ضرورته په موبایل،تلیفون کې خبرې کول، خلکوته دموبایل تلیفون دلاري اختارونه ورکول، دنورخلکو دنوم څخه ناسمه ګټه اخیستل،دموبایل تلیفون دلارې درواغ ویل اوپه نورو بیلابیلو لارو دتلیفون او موبایل څخه ناسمه استفاده کول ټولنه دبدی او فساد خواته کشوي.همدارنګه دموبایل دکېمرو اوپه کیمروباندې دخوښۍ په محفلونو، کورونو او نورو ورته ځایونو کې عکسونه (انځورونه) اخیستل ، فلمونه ډکول ناسم او دزیان څخه ډک کار دی.

ځکه په دې کار سره په انځور او فلم کې فلمبرداري،عکاسي سوي کسان ددې څخه خوښ نه وي چې دهغوی څخه دې عکس واخیستل سي ، یادې ترینه فلم ډک سي اویا هم داکړنه په پټه سره وسي اوهغه څوک خبرنه سي کوم چې دهغوی څخه فلم ډک سو او یا انځور ترینه وا خیستل سو. داډول فلمونه او عکسونه (انځورونه)چې په پټه ډک او نیول کیږي په ټولنه کې خپریږي او دځینو ستونزو لامل ګرځي اودټولنې اوسیدونکي په ځینو حلتونو کې دیادوفلمونو اوانځورونو څخه ناسمه استفاده کوي.ښه اوګټوره خبره خوداده، چې دژوندیوو موجو داتو انځور اخیستل اوجوړول غوره کارنه دی اوچې څومره ډډه تري کولي سوباید ډډه تري وکړو،ځکه رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کوم کسان چې انځورنه عکسونه جوړوي دقیامت په ورځ به عذاب ورکول سي، ورته وبه ویې: څه چې موجوړکړي ژوندي یې کړئ.(۳)

راسئ چې لومړی خپل پرځان باندې هغه کارچې موږ یی کوو دهغه کاراحساس داسي و کړو، که چیرې داکړنه زما سره سوي وای نو مابه څه احساس درلو دلی او څه فکر به راسره پیداسوی وای ؟آیا په دې ډول کارسره که دټولنې یوبل شخص زماپروړندی کړی وای زه به خوښ سوی وای او که نه زه به خفه سوی او ناهیلی سوی وای؟



۱- صحیح بخاري حدیث ګڼه 6412--------۲صحیح بخاري حدیث ګڼه ۶۴۱۵ ------- ۳- صحیح بخاري حدیث ګڼه ۵۹۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې احساس دكولو څخه ورسته پريکړه يوانسان خپله كولي سي، چي ياده كړنه ښه ده اوكه بده. رسوالله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ستاسو يودرهغومؤمن نه سي كيداي څو دخپل ورورلپاره هغه څه خوښ نه كړي چي دخپل ځان لپاره يې خوښوي.① اوهمداسي بايد انترنيټ او نوري ټولنيزي شبكي فيسبوک،ټويټر،واټساف،ايمو،يوټيوب اونورورته انټرنيټي اوټولنيزي شبكې هم ددې لپاره ونه كاروو چي موږ او يا هم زموږ ټولنې ته دي زيان ورسوي .

دا رسنۍ يوازي او يوازي زموږ دكارو نو دهوسا ينې لپاره دي،نه دغلطي استفادې اخيستلو اواستعمالولولپاره.

كه موږانټرنيټ كارونكي يو نوداختلاف اچونكومتننو،ويډيوګانو،اوتصويرونو دخپرولوڅخه بايد په كلكه ډډه وكړو.هڅه موبايددانټرنيټ په كارولوكي ټل داوي چي خپل هيواداوټولني ته اړين مطالب وړاندي كړو اوخپله هم مثبت اړخ درلودونكو اوګټه رسونكو مطلبونوڅخه استفاده وكړو. البته ديادوني وړده چي ددې وسيلو چي مخكي يې يادونه سوي ده: ډير استعمال او كارونه زموږ بدن په دماغي ،ذهني او جسمي نارو غيو هم مبتلا كولي شي.

يادې وسيلې بايد بيله ضرورته او داړتيا څخه ډيرې ونه كاروو. موږ اوتاسو بايد خپل وخت په بې ځايه او زيان رسوونكو كارونو باندي تېرنه كړو ،درسنيزو وسيلو څخه پرځاى او مناسيبه ګټه واخلو او پري نږدو چي ددې وسيلو په وسطه ياله عمله موټولنه دفساد اونارواكارونو په لور ولاړه سي.

---

## د هيواد سره مينه اووفاداري

موږ او تاسو ټول دخپل هيواد سره مينه لرو، هيڅ داسي څوک نسته چي خپل هيواد ته دې زيان ورسوى. مګريو لږ او محدود شمېر كسان داسي سته چي دخپل هيواد سره مينه نه لري، دخپل هيواد سر خيانت كوي،خپل هيواد او خپله ټولنه ورته ارزښت نه لري، درخپله وسه ورته زيان رسوي او دنورمغرضو،زيان رسوونكو كسانو په وينا خپل هيواد ته جنګ ،غوربت ،بې علمي او بې اتفاقي، راوړې، نه پريږدي چي هيواد او هيوادوال يې په سولې، سوكالى، او ارمى كي ژوند وكړې.

داخاصيت (ځانګړنه) درلودونكو خلګوته دهيواد دوستان او هيوادته وفاداران نه سوويلى،دهيواد دښمنان يې بولو!داډول خلګ هيڅكله ښه او غوره خلګ نه دي .داخلګ ددې سربيره چي خپل هيواد او خلګ خوشحاله ژوند ته نه پريږدي، خپله هم دنوردلاس لاندي په كړاونو او مشكلاتو كي ژوند كوي! داخلګ داخوښوي چي خپل ترهيواد د دوى دلا رښوونكو بدوانسانانو ټاټوبي ته ژمن واوسي،



١- بخاري كتاب الايمان حديث ګڼه 13

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل درهيوادوالو د دوی روزونکو اوهغوی ته چې ددوی ذهنيتونه يې منفي لورته اړولي دي احترام اوقدر لري. ډېر بې توانه او کمزوری هغه انسان وی چې مړسي او خپل هيواد او ټولنې ته خدمت ونه کړي. هريوزموږاوستاسوڅخه په دې مکلف دی چې خپلو خلکو او هيواد ته خدمت وکړې، يعني په خپل ژوند کې داسې کارونه وکړې ،چی دده هيواد او خلکوته په هغه کاروکې ګټه ورسيږي.هيواد زموږ او ستاسو لپاره دمورحيثيت لري. څنګه يوداسې څوک پيدا کيدای سي چې دخپل موربې احترامي وکړي،دا وزغمي چې موريې په مشکل او ستونزه کې وي او دی دې په ارمه سا واخلی او دخپل مورسره دې مرسته ونه کړي. هيواد زموږ په سر تاج دی اوزموږ بيرغ زموږ دخپلواکۍ او آزادۍ نښان دی. هرانسان چې دخپل هيواد سره خيانت کوي درټول بد ترين انسان دی. دداسې انسان سره چې د خپل هيوادسره خيانت کوي دوستي او مرسته کول دهغه دښمن سره مرسته کول دي چې ستا دوينو تږی وي او چې هروخت يې وس ورسيږي نو تا دمنځه وړی او ستا دنابودۍ په انتظارکی شيبې شمارې. موږ او تاسو بايد په هيڅ حال اوهيڅ وخت کې دخپل هيواد سره خيانت ونه کړو. ټوله عمر (ژوند) بايد خپل هيواد ته وفاداره اوژمن پاتې سو. زموږ دهيواد ابادي او سوکالي زموږ سوکالي او ابادي ده.موږ بايد خپل هيواد دخپل کور په شان وبولو. آيا يوڅوک دا خوښه وي چې دهغه کوردي ويجاړه اوخراب وي؟ که چيرې موږدا نه سوکولی چې خپل کور وران کړو نو بيا ولې خپل هيواد خرابه وو؟موږ او تاسو بايد خپل ځانونه دخپل هيواد خدمد ګاران وګرځوو.لکه څنګه چې د خپل دوجود په پرهرونو درديږو (خوږيږو) نو همداسې بايد خپل دهيواد په زخمونو خوږ او وردديږو. موږ او تاسو ټول داتوان لرو چې هريو خپل هيواد ته خدمت وکړو که چيرې تاسو پاچاياست نو بايد خپل هيواد ته ريښتنی پاته سې اوداسې يوکارونه کړئ چې په هغه سر ستا دهيواد اوسيدونکو ته زيان ورسيږي. رسوالله صلی الله عليه وسلم فرمايې اي الله څوک چې زمادامت حاکم (مشر)وي اوبياهغه پردوئ سختي کوي نوته هم پرهغه سختي وکړه اوڅوک چې زمادامت حاکم وي اوپرهغوی نرمي کوي نوته هم پرهغوی نرمي وکړه.①

بل ځاي رسوالله صلی عليه وسلم فرمايې: څوک چې دمسلمانانوحاکم وي اودهغوی په ښيګڼه کې هڅه ونه کړي اوپه خاص نيت سره دهغوی ښيګڼه ونه غواړي نوهغه به له دوی سره جنت ته نه ځي .②

مشر،حاکم ،يا پاچا بايد کار اهلي کارته وسپارې اوهغه مسؤليت چی ده ته دده دهيواد خلکو ور سپارلی دی بايد په پوره ايمانداری ريښتينولی، اوبې له دې چې ديو چاڅخه وېره ولري سرته يې ورسوي. همداسې ټول دولتي کارکوونکي بايد هيڅ وخت په خپلو کارونو کې سوستي او ناغيري ونه کړې، پريو مظلوم بايد ظلم ونه کړې، دقومون واوژبو ترمنځ توپير بايد ونه کړې، رشوت بايد وانه خلي، بې عدالتي بايد ونه کړې، دخپلوانو او پرديو ترمنځ بايد توپير ونه کړې،



-۱-- صحيح مسلم کتاب الامارت حديث کنه ۲ 472  ۲صحيح مسلم کتاب الامارت حديث کنه4731

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او هیڅ وخت باید یو دولتي کارکوونکی دخپلې وظیفي(دندې) څخه ناسمه او ناروا استفاده ونه کړې، هردولتي کارکوونکی باید دخپل واک اودندې سره سم اوپوره خدمتونه دخپلو خلکواو ټولنې لپاروړاندي کړې: هیڅ داسي یو کار او عمل سرته ونه رسوي چې دالله جل جلاله په نزد دې ګونهګاره سي، دهغو خلګو چې دی یې په سرامر ټاکل شوی دی دحق خوړونکي شی.الله (ج)موږ په نارواتوګه دیوبل دمال خوړلو څخه منه کړي یوو،په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره سُوْرَةُ البَقَرَة : 188شماره ایات ولولئ.**

**که چیرې ددولت کارکوونکی دخپلوخلګو او هیواد سره خیانت وکړي اودخپلې هغه دندې څخه ناسمه استفاده وکړي چې ده ته ورسپارل سوي ده: هرومرو به الله(جل جلاله)دده سره حساب کوی،ده ته به دخپل کړي ګوناه سزاورکوي ، الله(جل جلاله)حساب کوونکی دی!دیوې زرې نیکی او یوې زرې بدئ حساب دخپل بنده سره کوي!**

**په دې خبره دلاښه پوهیدلولپارهسُوْرَةُ الزّلزَلة : ۸:7نمبراياتونه ولولئ.**

**هردولتي کارکوونکی باید خپل هغه کارونه چې ده ته یې مسؤلیت ورکول سوی دی دځنډ اوبې له دې چې پرخلګوظلم وکړي په خپل وخت سره اجراکړې.موږ باید ټل خپل هیواد ته ریښتني اوسو او خپل هیواد او خلګ په ستو نزو او کړاونو کې پرې نږدو، ټل ورسره مرسته اوهمکاري وکړو، ټل دخپل ولس ریښتني خدمت ګاران واوسو، هیڅ وخت دخپل واک اوقدرت څخه ناسمه استفاده ونه کړو او دهیواد د دښمنانو دشومو پلانونو او پریکړوښکار نه سو ،که چیرې موږ ددولت کار کوونکي یوو:باید په هغه تنخوا خپل ژوند پر مخ بوزو چې موږته ددولت دخوا راکول کیږي.**

**او هیڅکله دپیسواو نورو مادي اومعنوي ګټو لپاره خپل هیواد خرڅ نه کړو،د خپل دهیواد سره خیانت ونه کړو، د رشوت داخیستلو څخه په کلکه ډډه وکړو او خپله دنده په سمه توګه سرته ورسو.**

**رسوالله صلی الله علیه وسلم دولتي ماموردتحفې (ډالۍ) دقبلولوڅخه منعه کړی دی اویوه قنعت بخښوونکي ننګونه یې دتحفې دنه قبولیت په اړه دهغه ومختنه ایښې ده اوفرمایلي یې دي: دخپل پلاریامورپه کورکي ولي نه کښیني؟ بیابه یې کتل چې څوک هغه ته تحفه ورکوي که نه.①**

**دیادوني وړده چې یوازې دولت نه سي کولی چې یوهیواد ودان او آباد کړي. هغه کسان چې په دولت کې دنده نه لري او شخصي دندې لري هغوی هم باید دخپلودندو په واسطه دخپل هیواد لپاره خدمت وکړي. هر کس باید دخپل دولت سره دخپل هیواد په جوړولو کی ونډه اخیستوونکی او پوره مرسته کوونکی وا وسي،هغه که دهقان ، تجار، هټیوال اوکه ځاروي ساتونکی وي. یو هیواد په خپل ملت ولاړدی.**



١ـ مسلم کتابالامارت حدیث کنه4738

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا ملت دی چې یو هیواد دپرمختګ په لوري بیايي. موږ ټول ددې هیواد اوسیدونکی باید دخپل هیواد او خلګو سره مینه ولرو او پرې نږدو چې زموږ هیواد او ولس دې دستونزو(کړاونو )سره مخ سي. هیڅ وخت باید موږ دخپلې دندې او قدرت څخه په استفادې خپل هیواد او خلګ دستونزو سره مخ نه کړو، ځکه داهیواد په موږ او تاسو آباد دی او موږ او تاسو که هر څوک یوو مګر ددې هیواد اوسیدونکي یوو، موږ ددې هیواد پرخاوروخپل قدمونه ږدو او دهمدې هیواد دهوا څخه تنفس اخلو دازموږهیواد دی آبادیده اوسمسورتیايې زموږدنده ده.

---

## قومي ژبني او نژادي توپیرونه

په نړۍ کې د فزیکي اومعنوي اړخه ډیر ډولونه انسانان سته.ځینې انسانان تور ،ځینې ژړ ،ځني سورپوستي او ځیني نور بیا غنم رنګه وي. دیوې سیمې خلګ په یوه ژبه او لهجه خبرې کوي، دبلې سیمې خلګ بیا په بله ژبه اولهجه خبرې کوي.په نړۍ کي داسي ټولنې سته چي په یوه ځا نګړي نوم سره مشهورې وي دهغې جامعي خلګ په یوه ځانګړي نوم سره پیژندل کیږي او په هغه ټولنه کي دننه ځا نګړي ډلي انسانان شتون لري، چي هره یوه ډله انسانان یې ځان ته یو تاکلی نوم لری، چي دفزیکي او معنوي لهازه سره یو شان نه وي، بلکي توپیرسره لري.دلته زما مطلب دهغه جوړښتو نو او جامعو څخه نه دی چي یو شخص یې په خپله په یوه ځا نګړي نوم سره جوړه وي او یونوي خو ځښت را منځ ته کوي، بلکي زما موخه دهغو جامعو(ټولنو) څخه ده چي دقومیت، نژاد، او ژبې پربنسټ منځ ته راغلي وي،داتوپیرونه ځینې وخت ددې سبب کیږي چي دیوې ټولنې ځینې ناپوه خلګ دي دبلې ټولنې دخلکو سره مخالفت وکړي:په دې دلیل چي دهغه جامعې څخه د دوی رنګ جلا وي، یا په ژبه ځندي ،جلا وي او یاهم یوازي دهغې ټولنې نوم د دوی دټولنې دنوم څخه تو پیر لري ،ټول انسانان الله (ج) په یو شان پیدا کړي دي، یو انسان دبل انسان څخه غوره او بهتره نه دی،مګریو انسان دبل انسان څخه هغه وخت غوره او بهتره دی چي هغه مسلمان وي،یو مسلمان دالله (ج) په نزد دیو کافر څخه غوره دی. په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ البَقَرَة : 212شماره ایات ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همداډول یونیک او ښه اخلاق لرونکي انسان دیوه بد او بي اخلاقه انسان څخه غوره دی. په مسلمانانو کي تو پیر باید ونه سي، هرهغه کس ښه او غوره دی چي نیکي کوي، نوروانسانانو ته یې ګټه رسیږي، پرهیزګاره وي او چاته تکلیف او ازار نه رسوي،ددې ښیګنو اویاهم نور ښیګڼوپرته یوشخص او ټولنه دنوروا شخاصو اوټولنو څخه غوره کیدای نه سي.

په دې خبره دلاښه پوهیدلوپاره دسُوۡرَةُ آل عِمرَان : 76شماره ایات ولولئ.

حضرت محمد(ص) فرمایي:مسلمان هغه دی چي نورمسلمانان یې دژبې اولاس دزیانه خوندي وي①.

که ورته وګورو په هر قوم او قبیله کي ښه او بد خلک سته،کیدای سي چي په یو ژبه ویوونکو خلکو کي بد انسانان وي، او کیدای سي په یو نژاد کي بدخلک شتون ولري .

مګر دا په دې معنا نه ده چي دهغې ټولنې ټول وګړي دې بد وي.په هغه ټولنه کي بیا ښه او نیک خلک هم سته. ځینې خلک داسي فکر کوي چي دا نژاد یا دا ژبه ویوونکي یا دا قوم یوه ځانګړې بدې لري ،چي هغه بدې د دوی په ټوله جامعه،ټولنه کي شتون لري مګر د داسي نظر درلو دونکو دغه نظریه مطلقً ناسمه ده:ځکه بدې په یوه کس کي کیدای سی نه په یوه ټولنه کي موږ دا نه سو ویلی چي دا بدې په هغه ټوله جا معه (ټولنه) کي شتون لري،موږ او تاسو باید داسي ونه اوسو چي په خپل قوم ژبه او نژاد پخر وکړو او دنورو قومونو،نژادونو څخه ځا نونه غوره اوبحتره وګڼو اوهغوی ته دنسب پیغور ورکړو،رسوالله (ص) په نسب پیغورورکول په سختوالفاظو غندلی دی،موږ او تاسو باید په خپلو کړونوځانونه دعزت او درناوي خاوندان وګرځو اوداسي انسانان دځانو،نوڅخه جوړ کړو چي نور خلک زموږ د ژبې اولاس دضرر(تاوان) څخه ځانونه خوندي وبولي. موږ اوتاسو که دهر نژاد او قوم څخه یوو ټول مسلمانان سره وروڼه یوو زموږ تر منځ هیڅ ډول توپیر نسته اوباید هرډول کینه ،رخه او تبعیض دمنځه وباسو اوټول یوالی غوره کړو. په دې خبره دلاښه پوهیدلوپاره د سُوۡرَةُ الحُجرَات :10نببرایات ولوئ.

زموږ او تاسو سره که دیوه قوم، نژاد او یوې بلې ژبې ویوونکو خلکو په اړه ناسم فکر پیدا کیږي نوموږ او تاسو باید لومړی خپل قوم، ژبه، او نژاد،درنظرلاندي ونیسو اوورسته پریکړه وکړو.آیا زموږ په قوم، نژاد او ژبه ویوونکو کي بد او دناسمو ارادو خاوندان خلک وجود نه لري؟ اوهمدرنګه آیازموږ په منځ کي نیک او ښه انسانان نسته؟ همداسي په هغه قوم ،نژاد، او ژبه ویوونکو خلکو کي هم ښه او بد انسانان سته،نو ځکه موږ هغه ټولنه ټوله بدنه سو ګڼلی.هیڅکله باید یو مسلمان بل مسلمان دځان څخه کم ونه بولي ځکه لوی خدای(جل جلاله) ټولو مسلمانانو ته په یوه نظرګوري خوکامیابه هغه مسلمانان دي چي هغوی ټول اسلامي احکام پر ځا ی کړي وي.



١ ـصحیح بخاري کتاب الایمان حدیث کڼه10

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسئ چې په خپل قوم ژبه اونژاد ځانو نه عزت من او قدرمن معرفي نه کړو.احترام، درناوی اوعزت په نیکو اخلاقو ښه چار چلند اوداسلام په مبارک دین کي دی. راسئ چي دخپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پرلاره روان سو اوکا میابۍ (بریالیتوب) ته ځان ورسو.

ټول تو پیرونه دمنځه یوو سواو هرمسلمان خپل ورور وګڼو.یوازي داوسنجو چي کوم کارونه چي زه یې کوم سم دي او که ناسم.دیادوني وړده چي هرڅوک حق لري چي خپلې ژبې،قوم، نژاد اوخپلو خلګو ته خدمت وکړي،مګرداخدمت چي دی خپل ژبې، قوم ،اونژاد ته کوي باید په داسي ډول سره وي چي ددې خدمت له عمله نوروته زیان ونه رسیږی.

دخپل کور،چم اوبڼ د آبادی،پرمختګ اوسمسورتیا لپاره بایدد نورو کورونه ،کلې اوبڼونه ویران نه کړو اوهغوی شاته تګ ته یې مجبورنه کړو .موږباید د نورو ژبو ویوونکو نژادونو او قومونو سره تضاد ونه لرو،

ټول هغه تو پیرونه چي موږ را منځته کړي دي دمنځه یوسوو، یو دبل څخه ځانونه غوره ونه ګڼو او دریوه چترلاندي او په یوالي کی ژوند وکړو.

---

## علم اوپوهه

الله جل جلاله عالمان،ستري مرتبې درلودونکي وګرځي بللي دي. په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ المجَادلَة : 11نمبرایات ولولئ.علم هغه نعمت دی چي انسان ته دعزت ،سرلوړی،محترمی،وړتیا اودیوه روښنانه ژوند کولوزمینه برابروي.

علم انسان ته ښه او خرابه نیغه ،سېده اوکږه لاره ښیي اوپه دې یې پوهوي چي څنګه خپله ځان اونور خلګ پرسېده او مستقیمه لار روان کړې .علم دخو شحاله اوسوکاله ژوند ضمانت اویوه داسي سرمایه ده چي موږته بیابیا دبریالیتوب زیري را کوي. په علم کولو ،غوره کولو اوپرې عمل کولو سره انسان جنت ته دا خلیږي، او په نا پوهې غوره کولو او دجهل پرلارتګ کولو سره انسان در دوږخ پوري رسیږي.

پوهان وایي علم یو داسي سرما یه ده چي په مصرف ولو سره نه کمیږي ،بلکي نوره هم زیاتیږي. علم غوره دی ،ښه دی اوبې عیبه دی دډیر دولت او شتمنۍ څخه.ځکه یوعالم :وائي چي شتمني او دولت انسان په خطر کي اچوي مګر علم دانسان څخه ساتنه( حفاظت) کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالمـان اوپوهـان د ليـدونـکو، بينايـانو پـه شـان دي او بـي علمـه کسـان دنابينـاو او ړندو انسانانو په څير دي.

پـه علـم کولوسـره مغز،عقـل،تفکراو ذهـن پيـاوړی کيـږی او وده کـوی. علـم کـول دانسان دماغ دې ته آماده کوي چي انسـان نـور هـم پرمختـګ وکـړي: بريـاليتوبونـه لاسته راوړي او څومره چي يې وس او تـوان وی خلکوتـه ګټـه ورسـوي. مـوږ او تاسو ته په کار ده چي علم يووازينی هغه وسيله و ګڼو چي موږ دتياره او تارپکه ژو ند څخه درو ښانه او خوشحاله ژوند خواته بيايي. آيا هغه کس چي ړونـد وي او هيڅ نـه سـی ليدای پـه اسانۍ پـرلاره تـګ کـولی سـي او کـه هغـه کـس چي بينـا (ليدونـکی) وي؟

معلومه خبره ده چي بينا(ليدونـکی)کس خپله لاره ښـه وينـي، پـه آسـانه توګـه تـګ پرلاره کولی سي، تل بي له دې چي دکومې ستونزې سره مخ سي، خپل تګ لـوری ټاکلی سی،مګرنابينا کس په آسانې سره پرلاره تګ نه سي کولی اوپه کنـدو،لوړو، ژورو کې لويږي او دمشکلاتو سره مخ کيږي.

همدارنګه ايا هغه کس چي دشپې روان وي تګ کوی خپل منـزل آسـانه پيـدا کـولی سي او که هغه کس چي دورځې په رڼا کي تګ کوي اوخپل منزل ته ځان رسوي؟ جلا والی او فرق په موږ او تاسو پوری اړه لري او خپلـه بايد قضـاوت وکړوچـي پوهې اوناپوهې علم اوبی علمي څومره ديوبل څخـه تـوپيرلري؟ پوهـان تـل بريـالي وي اوناپوهـان تـل دبرياپـه لاسـته راوړلـوکي دمشکلاتوسـره مـخ وي. دپـوهې پـه شتون کي زموږ ژوند داسـي مثـال لـري لکـه مـوږ چـي پـه روڼ سـهارکي تګ کـوو اومنـزل تـه ځـان رسـوو،دعلم اوپـوهې پـه نـه شـتون کـي ددې بـرعکس يعنـي پـه تاريکوکي چي دژوند شپې ورځې سبا کوو اودرخپل منزلـه پوري لارپـري کـوو( تګ کوو)ځينې داسي خلګ هم شته چي علم اوپوهه حاصله کړې، مګر دخپل علم څخـه ګټـه نـه اخلـي عمـل نـه پـري کـوي،تش پـه نـوم دعلـم عـالم بلـل کيـږي،دا ډول عالمان هم دا سي مثال لري لکه هغه کس چي هيڅ علم نـه لـري او بـي علمـه وي. يوعالم وئي :دبي عمله عالم مثال دهغه څراغ په شان دی چي دړانده پـه لاس کـي وي.هر هغه څوک چي علم وکړي نو خپل علم دي صرف نظرنـه ګرځـوي : خپـل علم دي داسي خور کړې لکه څنګه چي يوه شمعه پـه تيـاره کـي خپلـه رڼـا خـوره وي.عالمـان بايـد دخپـل علـم څخـه سـاليمه او پرځـای استفا ده وکړي او دژونـد پـه چارو کي دي ورڅخه پوره ګټه واخلي.

يو عالم وائي څوک چي دښو او بدو تر منځ تو پير نه سي کولی هغه پـه مړو کـي شماردی.هغه کسان چي بي علمه دي خپل حق نـه سـي پيژنـدلي او نـه هـم دنـورو کسانو حق پيژندلی سی.هغه کسان چي علم نـه غواړي او ورتـه ارزښـت نـه لـري موږ او تاسو به څنګه دداسي کسانو څخه دنيکو او ښو کـارونو دکولوهيلـه ولـرو، موږ خپل خالق (ج) په علم کولو سره پيژندلی سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل ټول ژوند کې باید زده کړه وکړو او نو رو ته یې ورزده کړو. هغه کسان چې په خپل علم سره یې عمل کړی وی، هیڅ وخت چا ته زیان او ضرر نه رسوي.غمونه اوکړاونه په علم کولواوغوره کولو سره لیرې کیږي. هغه کسان هیڅ وخت خفګان نه کوي چې دهغوی یو ملګری کتاب هم وی. زه دي ته هیرا ن پاته یم چې یو څوک څنګه وائې چې زما علم،پوهه نه یادیږي

او زما ذهن کمزوری دی! هغه څو ک چې دا خبره کوي،باید په خپله خپل په دې خبره پښیمانه سي . دهیڅ یو روغ او سالیم انسان ذهن نه سي کمزوری کیدلی.

هرانسان کولي سي چې علم وکړي.

دا ډول وینا کوونکو خپل ذهنونه نه دي ازمویلي : څکه دوی دا ډول خبرې کوي.

تاسو که چیرې یووار په علم زده کولو،یادولو کي دستو نزو سره مخ کیږي:

تاسو په هغه ستو نزه پروا مه کوئ،امتحان یې کړئ در هغه وختـه پوري کـه چیرې تاسو په زړګونو ځله هم ستونزي وګاللي، ودریږئ او هو ډمن اوس‌ئ ترڅو تاسو کامیاب به سي.په علم کولواوپوهې حاصلولو بایدهیڅکله هم ونه شرمیږو،موږکه هرڅوک یوو په هرحلت کي یوو بایدعلم حاصل کړو دزړه ښکلا ،خوشحالي او ډاډ په علم کي نغښتی دی.دزړه خیرن والی ،وېره،

او خفګان په بي علمی کي پټ دي .راسئ چي خپل اولادونه، دوستان او خپله ټولنه په دې وپو هوو چې علم موږ ته څنګه کامیابي(بریالیوب) را په برخه کوي، او موږ څنګه دستو نزو څخه په پریمانولاروخپل منزل ته رسوي.راسئ چي خپل او لادو نه دعلم په ګاڼه ښا ئیسته کړو، ترڅو مو هم ددې دو نیا او هم داخرت تو ښه برا بره کړي وي او خپل ځان مو دخدای(ج)دراکړل سوی مسئولیت څخه خلاص کړی وی.

که چیرې غواړئ چي اولادونه مو تاسو ته عزت درکړي، احترام (درناوي) درته ولري او ستاسو دهوساینې،سبب وګرځي: په خپلو او لادونو مو علم او تعلیم وکړئ. مه پریږدئ چي بي علمه ، خپلې ټولنې او هیواد ته دخدمت کولو څخه لیرې پاته سي.که چیرې پرموږ او تاسوباندې خپل اولادونه او نور دوستان په رښتیا هم ګران وي او مینه ورسره لرو: راسئ چي علم ورته وښیو او یو دا سي تحفه ورته ورکړو چي ټول عمر او په اخرت کي ورته ګټه ورسوي او ورته دنجات (خلاصون) وسیله وګرځي.

علم زده کول وخت او زمانه نه لري هر وخت زده کیږي ماشوم، ځوان، او سپین ږری دډیرعمرخاوند نه غواړي.

هر څوک کولی سي علم وکړي.دا خبره زماپه آندناسمه ده چي یو څوک دا بهانه کوي چي زه نورلوی سوي یم او یا هم وائي چي زه نور سپین ږری سوی یم او علم نه سم کولی. دا یوه دا سي بهانه او وینا ده چي دا شخص په حقیقت کي دا نه غواړي چي علم وکړي.موږ او تاسو ټول په دې مکلف یوو چي علم وکړو او نورو ته یې وښیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبوي وينادە :حاضردي زماخبره غائيب ته ورسوي (۱).پوهه موږ ته صداقت، اما نت داري، صلح رحمي، په نورو شفقت،مهرباني، مينه ،يوالى، وروروليِ، ملګريتوب، حق غوښتنه،خداى (ج) پيژندنه، انسان پيژندنه او نور ډير څه را زده کوي!

علم، پوهه موږ نه پريږدي چي دسيده لارې څخه واوړو او کږه لاره انتخاب کړو.پو هه او علم انسان دناروا او نا مشروع کارو نو څخه ليري ساتي او هغو کارو نو ته يئ نيژدي کوي: کوم چي په هغو کارو نوکي کا ميابي او برياليتوب نغښتى وى. راسئ چي دخپل هيواد څخه دبي علمى تورې او تا ريکې پردې پورته کړو او دعلم په روښنائې يې وځلو يوه داسي فضارا منځ ته کړو چي نور مو په هيواد کى يو داسي څوک پيدا نه سي چي بي سيواده، ناپوهه او بي علمه وي.راسئ چي ديو بل ښوونکي سو.

کينه او تضاد دمنځه وباسو او پري نږدو چي نور خلګ موږ دعلم او پوهې دستر نعمت څخه ليري پريږدي.دهغوکسانوشوم هدفونه بايد په يوالي سره شنډ اودمنځه يوسو،کوم چي غواړي موږبي علمه اودپوهې څخه ليري ووينې،د دوى دارمان بايد يو ارمان پاته هيڅ وخت پوره نه سي او خپل مرادته ونه رسيږى.موږبايد دعلم کول اودپوهې حاصلول داسي يواړتيا وګڼو،لکه څنګه چي مووجود غذا ته اړتيا لري.موږ اوتاسوبايد دهيواد شاړي دعلم،پوهي په واسطه دالله (ج)په مرسته وداني کړو.

---

## شفقت او مهراباني

مهربانه انسانان دخداى(ج) ددوستانو دډلي څخه شمېرل کيږي، الله (ج)انشاءالله پرهغه چامهربانه او رحم کوونکى دى چي هغه انسان دلوى الله (ج) پر مخلوقاتومهربانه او رحم کوونکى وي. ټوله مسلمانان بايد ديوبل سره په مينه او ورور ولي چلندوکړې اوخپل اسلاميت په ډاګه کړې.

هيڅ وخت انسان په کبر غرور او بي پروايې دعزت خاوند نه سي کيداى، مګر هغه انسانان عزت مند او محترم دي،چي هغوى عاجزه مهربانه اودشفقت درلودونکي وي.موږمسلمانان بايد يوپربل مهربانه اوسو. په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوْرَةُ الحِجر : 88 نمبرايات ولولئ.



۱ -- بخاري کتاب العلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان په خپل ژوند کې دستونزو کړاونو اوبې وسیوسره مخ کیږي: کیدای سي چي دقدرت، طا قت(پیاوړتیا)، او شتمنۍ خاوندان هم سي،په دې دواړو وختونو اوحلتونو کی انسانان باید د صبر او حوصلې څخه کارواخلي.

انسانانو ته دانه ښايي چي دخپل فزيکي اومعنوی پیاوړتیا او شتمنۍ څخه دې ناسمه استفا ده وکړي ، پرنورو انسانانو دي ظلم اوتيری وکړي، او دخپلې پیاوړتيا او شتمنۍ په کارولو سره دې دنورو خلکو زړونه ازارکړي.رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمايي:ظلم دقيامت په ورځ تیارې دي .①

شتمني پیاوړتيا او قدرت ،یاواک درلودل ټول دلوی خدای (جل جلاله) دطرف یو چا ته ور کول کیږي!

ددې لپاره چي الله (ج) خپل بنده ازميي، چي بنده دخپل مال، قدرت او پیاوړتیا څخه څنګه استفاده کوي،الله جل جلاله زموږمالونه ازموږاولادونه زموږلپاره ازموينه بللې ده. په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوْرَةُ التَّغَابُن :15نمبرايات ولولئ.

کله چي تاسو دقدرت، پیاوړتیا ،شتمنۍ ،زور او زبردستيی خاوندان یاست، نوتاسو خپل داميلمانه ،دځان سر دیو چا دامانت په شان وساتئ: هيڅ وخت ترينه غلطه او نا مشروع استفاده مه کوئ.خپل طاقت او شتمني دخپلو وروڼو په فايده (ګټه) او هغوی ته په خير رسولوکي ولګوئ، تر څو موخپل ځانونه دفتنو، اوګناهونو څخه خلاص کړي وي .هيڅ وخت په خپل ژوند کي پر بې چاروُ او مظلوموانسانانوظلم مه کوئ.

رسوالله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: دمظلوم له ښيراځان وساته ځکه دهغې اوالله ترمنځ پرده نسته.②

کله چي ستاسو نفس تاسوته په ظلم کولو سره امرکوي، نو ووایاست چي ای زما نفسه زه الله (ج) دځا ورو څخه پيدا کړی يم ،زه دپلار دملا څخه د مور نس ته ليږدول سوي يم ،دهغه څخه ورسته ماته الله (ج) د مور په نس کي ژوند راکړی او دهغه څخه ورسته زه دې نړۍ ته را غلم ،زه دخدای(ج) دخوښې پرته خپلې ستر ګې لا هم نه سم رپولی، زما اصلي استوګنځای خاورې دي او دمحشر په ورځ به لوی خدای(ج) زما سره دیوې زرې په اندازه دخير او شر حساب کوي.

بیازه انسان څنګه ددې ټولوننګونو سر بيره دهغه پاک ذات پرمخلوق او پر يومظلومه انسان ظلم وکړم ، زه څنګه مغروري وکړم، څنګه زه ددې سربيره چي زه هم يومسلمان يم پربل مسلمان ورور ظلم او تيری وکړم،بيا هغه وخت تاسوبايد پريکړه وکړئ که موخوښه سول ددې ټولو ننګونو سر بيره ظلم، تيری وکړي او که نه بيامشفيق او رحم کوونکی واوسئ .



۱- بخاري حديث ګڼه 2447 ۲- بخاري حديث ګڼه 2448

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای(ج) هغه کسانو ته اجر او بدله ورکوي چې ظلم پري سوی وي، الله (ج) ظالمان اوظلم نه خوښ وي،په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ آل عِمرَان : 57نمبرایات ولولئ.
ظالم پر مظلومانو ظلم نه کوي مګر دی ظلم کوي پر خپل ځان باندي، ځکه که چیرې دخدای(ج) خوښه وه ده ته به سزا ورکړي دده دظلم څو برا بره . ظلم کول انسان دبر بادئ تورې کندې ته اچوي .په ظلم کولو سره انسان دوږخ ته ځي او په شفقت او رحم کولو سره انسا ن جنت ته ځي،په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره دسُوْرَةُ الشّوریٰ : 42 نمبرایات ولولئ.
که چیرې دخدای (ج) خوښه وه الله (ج) هیڅ کله دظالمانو ملګری نه دی.راسئ چي دیو لو هغه کارونو او افعالو څخه پرهیز او منعه وکړو چي لوی خدای(ج) او دهغه رسول حضرت محمد (ص) حرام او ناروا ګڼلي وي او موږ مسلمانان یې دهغو په نه کولو امر کړي یوو.ډېر وخت موږ دپیسو، شتمنئ او قدرت په لا سته راوړلو کي پریو چا ظلم او تیری کوو، چي دا کاریوازي زموږ اوستاسو حرث دی ،ورکول او اخیستل دنعمتونو دخدای(ج) په لاس کي دي، چي چاته وغواړي نو هغه ته یې ورکوي،موږ هیڅ وخت دهغه څخه اضافه څه لاسته نه سو را وړلې چي موږ ته تاکل سوې لیکل سوي وي،په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ التّکویر :29 نمبرابات ولولئ.
دلته زموږ سره یو پوښتنه پیدا کیږي چی هرڅه خو یو سبب هم غوا ړي؟دسبب معنا دا نه ده چي موږ دخپل مقصد دحاصلولو لپاره دظلم، زور، او تیري څخه کار وا خلو او خپل مقصد،موخې ته دې ورسیږو،بلکي موږ باید دنیکو اونیغو لارو څخه په کاراخستلو سره خپل موخې ته ځان ورسو: هیڅ وخت په ناجایزه توګه دخپل حق غو ښتوونکي نه سو .
اونه هم دنور خلکو دحق دحاصلولو په هیله وه اوسو هر وخت په راکړل سو نعمتو نو دالله جل جلاله شکر ادا کړو، دالله(ج) ثنا ووایو ، راضي و اوسو او خپل حال غوره وګڼو دهغو خلکو څخه چي هغه ټول عمر په بدو کارونو او ګوناهونو کي لګیا (بوخت) وي نیکې نه کوي،عبرت اخیستوونکي باید واوسو،کله چي موږاو تاسو خپل خوا او شاته نورو خلکو ته وګورو نووه به وایوو، چي هو زه خدای (ج) ډېرنازولی یم ،دهرې خواڅخه پرما الله (ج) نعمتونه راباران کړي دي ،نو زه ولې دبدو کارو نو تلاښ وکړم او ولې پر خپل ځان او نور خلکو ظلم وکړم ؟حال دا چي زه نازول سوی یم دالله (ج) له طرفه څخه زه یې مسلمان پیدا کړی یم، را ته یې روغ او سالیم بدن راکړی دی،بې شمېرنورنعمتونه یې راکړي دي، نو بیا ولې زه دلوی خدای (ج) نافرماني وکړم او نورو مسلمانانو ته زیان ورسوم؟رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمایي: مسلمان هغه دی چي نورمسلمانان یې دژبې اولاس دزیانه خوندي وي.①



۱- بخاري کتاب الایمان حدیث ګنه 10

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسئ چي هيڅ وخت ظلم ونکړو او نور خلگ هم ظلم کولو ته پري نږدو ترڅومو دواړي نړۍ دخوښۍ څخه پريمانه سي.رسوالله صلى الله عليه وسلم فرمايي (يومسلمان دبل مسلمان ورورد‌ی، نه ظلم پرکوي اونه يې دبل ظلم ته سپاري.) ①
الله جل جلاله دی زموږ زړونه دمهربانۍ اوشفقت څخه پريمانه کړي.

---

## دمور او پلار احترام کول او حقونه يې

الله جل جلاله موږ دموراوپلار په حق پيژندلوامرکړي يوو،په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوْرَةُ لقمَان :14نمبرايات ولولئ.مور او پلار دلوی خدای (ج) ستر نعمت دی.

هر انسان چي ددې لوی نعمت څخه بي برخي کيږي هغه ته ددې لوی نعمت دنه شتون ښه معلومات او پوهه سته ،او دکمئ احساس يې دهغو خلگو څخه ډيرکوي، دکوموخلکوچي په ژوند کي داستره هستي او نعمت سته .مور او پلار تل موږ ته دښه او ارامه ژوندکولو اودرلودلو هيله کړي ده او موږ ته يې دژوند کولو لارې چارې ښودلي دي.

زموږ مور زموږ په ماشوم توب کي زموږد ارامه خوب کول ولپاره ويښه پاتې سوې ده او تل يې زموږ پالنه کړي ده، خپلې شيدې يې راته راکړي دي،هغې موږ ته ژبه ښو دلې ده، موږ تل يوازې دمور مينه ليدلې ده، هيڅکله يې دا نه دي زغملي چي موږ دې نا ارامه،نارحته او په تکليف سو، تل راسره په هرډول حلاتو کي شريکه پاتې سوې ده ،زموږ دښه ژوند لپاره يې خپل ځان په تکليف اوزحمت کړی دی اوموږته يې ديوه خوشحاله ژوندکولوزمينه برابره کړي ده .پلار موږ ته هر هغه توکی اماده کړی دی، چي موږ دهغه توکي غوښتنه تري کړي ده اويامو‌هم اړتيا ورته پيدا کړي ده.

پلار زموږ لپاره زحمت گاللی دی کاريې کړی دی، زموږ لپاره يې خواړه، جامې اونورداړتيا وړ توکي تيار کړي دي. کله چي موږ ماشومان ؤ نودې ته يې نه يوو پر يښي چي موږ خفه سو، هغه موږ ته زموږ دخفگان پر محال دلوبو کولو سامانو نه را وړي دي. پلارموږ ته دازمينه برابره کړي ده چي موږ علم او پوهه لاسته راوړو.

زموږ مور او پلارزموږ سره دومره مينه لري چي په انسانانو کي به بل دا سي څوک نه وي چي دومره مينه اومحبت دي زموږ سره ولري. هيڅکله زموږ والدين دانه غواړې چي موږ دې په ستونزه کی ووينې. دهرمور او پلا ردا غوښتنه ،هيله ده چي ددوی اولادونه دې په خپل ژوند کي خوشحاله اوبريالي واوسي.افسوس په هغو کسانو دی چي مور او پلار لري،مگر موراوپلاريې بيا هم ددوی څخه ناراضه(ناخوښه) او خفه وي او دخپل مور او پلار دروا اومشرع امرونو نافرماني کوي، رښتياهم زموږ او ستاسو په ټولنه کيداسی کسان شتون لري چي موراو پلار ترينه خوشحاله نه دي،



۱- بخاری حديث کڼه ۲۴۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ددوی دخوا په تکليف کيږي او ددوی دلوريې ورته ازار رسول کيږي. زموږ مور او پلار هيڅ وخت داسي وينانه کوي چې موږ په غلطه(ناسمه) لار روان کړي،خو زموږ ځيني ورونه او خويندې دا فکرکوي چې زموږ مور او پلار زموږ په ښه ژوند کولو لا خوښ نه دي اوغواړي چې موږ په تکليف ،زحمت کې ووينې، دا ډول فکرکوونکي کسان ناسم فکر کوي، هيڅ مور او پلار دخپلو اولادونو په ستونزو(مشکلاتو) نه وي خوښ، دوی يوازې موږ دهغه کارونو دکو لو څخه منعه کوي چې په هغه کار کولو سره موږ ته زيان رسيږي او زموږ لپاره هغه کړني دزيان څخه ډکې وي،ددوی په دې کار کولو سره چې موږ يې ولڼزې دغلط (ناسم) کار دکولو څخه را وګر ځولو او ولې يې اجازه را ته نه راکړل چې موږ هغه ناسم کار،ياکړنه وکړو؟

موږ خفه کيږو او دخپلو والدينو زړونه ازاره وو،او آن دردې اندازې بد کوو چې موږ خپلو والدينو ته سپکاوی کوو.زموږ او ستاسو څخه به انشاءالله لوی خدای (ج) درهغه وخته پورې راضي او خوشحاله نه سي چې زموږ څخه والدين خو شـــحاله نـــه وي،رســـوالله صـــلی الله عليـــه وســـلم فرمـــايي:( الله تعـــالی پرتاسودموروپلارازارول دهغوی حق نه ورکول حرام کړي)① متل دی چې وائي دموردرپښولاندې جنت دی.

موږاو تاسو يوازې په والدينو باندې داحق لرو چې موږ په ښه نوم سره يا کړي موږ ته دنيکو هدايت وکړي، نکاح راته وکړي او علم را باندې وکړې ، موږ حق نه لرو چې دهغوی دهغه خبرو اوهدايتونو څخه سر غړونه وکړو چې هغه داسلام دمبارک دين داحکا موڅخه مخالفه نه وي، مګر يوازې هغه خبرې او حکمونه يې نه سو منلی چې هغه داسلام ددين څخه مخالفه اوورسره په ټکر کي وي. په دې خبره دلاښه پوهيدلو په پارد سُوْرَةُ لقمَان : 15نمبرايات ولولئ!خپلو والدينو ته تل دقدر او عزت په نظر ګورئ او هيڅ وخت ورته آزار او تکليف مه رسوئ. موږ هغه وخت خپلو هيلو او غو ښتنو ته درسيدو لارپيدا کوو چې دخپلو والدينو دوعا،مشوره او ملا تړ راسره وي.يوکس هغه چاته څنګه تکليف او ازار ورسوي چې هغه هيڅ وخت هغه ته ازار ،تکليف نه وی رسولی ،او تل يې دهغه ملتيا کړي وی؟

څنګه يو شخص دا کولی سی چې خپلو والدينو ته بي احترامي وکړي، او مشکل ورته پيښ کړي؟

ددې سربيره چې موږ الله جل جلاله دموراوپلارسره په ښه چارچلند اودهغوی سره په درناوي خبروکولو امرکړی يو،په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوْرَةُ بنــيٓ اسرآئيل/الإســرَاء :23نمبرايات ولولئ.دخپل مو ر او پلار سره په هغو کارونو کي مشوره وکړئ چې تا سويې په ورځني ژوند کي پر مخ بياياست او په دې کارکولوسره دهغوی زړونه لاسته راوړئ.



۱- بخاری کتاب الادب حديث ګڼه 5975

(c) ketabton.com: The Digital Library



را سئ چي دخپلو والدينو عزت وكړو او نور دهغو كارونو دكولو څخه ځان ليري وساتو چي زموږوالدين نـه غواړي هغه كـارو نـه موږ وكړو.موراو پلارتـل موږ دنيكوښوكارونوپه كول امركړي يوو. خپلو والدينو ته خو ښې وركړئ او هيڅكله يې دخفګان لامل مه ګرځئ. خپل والدين دنيكو او غوره كارونو پـه كولـو سره دخپلوځانونوڅخه خوښ وساتئ.دهغوتولو كارونو او خبرو څخـه ډډه وكړئ چي په هغوسرمووالدين دناراحتئ او خفګان احساس پيدا كوي.راسئ دهغه چا احترام او عزت وكړو چي دالله (ج)رالاندي يې موږ روزلـي يوو ،زموږ څخه يې سا تنـه كړي ده ،موږ ته يي مينه را كړي ده ،موږ يې يوازي نه يوو پريښي او تل را سره مله پا تي سوې دي.راسئ دهغه چا عزت او قدر وكړو چي تولـه شپه يې زمو ږ دارام خوب لپاره په ويښه تېره كړې ده .

را سئ چي خپلو والدينو ته دا ثابته كړو چي دهغوى خوارئ او تكليفونـه بي ځا يه نه دي تللي او هغوى ته دا وښيو چي دهغوى تول مشكلات او زحمتونـه ديوه ښـه او نيـك اولادلپـاره دوى ګـاللي وه.لـوى خـداى(ج) دي مـوږ تـه وس اوتـوان راكړي ،چي هيڅ وخت زموږ څخـه زموږوالـدين خفـه نـه سي،او تـل ورتـه خوښـې وركوونـكي اولادونـه و اوسو .

---

## نشيې توكي

الله جل جلاله شراب ناولى بللي دي اودشيطاني كـارونودجملي څخـه يې ګڼلـي دي. په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ المَائدة : ۹۰نمبرايات ولولئ.نشيې توكي يوداسي پديده ده چي دنړى تولـه انسانان ددې مصيبت څخـه خلاص نـه دي. هر ډول نشئ‌يي مواد زيان رسوونكي دي، نو ځكه داسلام مبين دين هيڅ ډول نشيي توكو تـه اجـازه نـه ده وركـړي، رسـوالله(ص)فرمايي:( كـه چاپـه دونيـاكي شـراب وڅښل اوبيايي توبه تري ونـه ويستله نوالله به يې په اخرت كي پرې حرام كړي.)①
موږ مسلمانانو تـه دانـه ښـايي چي دخپل مبـارک دين اسلام داحكـامو څخـه سر غړونـه وكړو،اودنيكـى كړنوتـه غـاړه كښـينږدو اودبدى دكړونوڅخه ځانونـه ونـه ساتو. زموږپه تولنه كي يو ډېر زيات شمير خلک پـه نشيي موا دو روږدي دي، داخلک ولې روږدي دي؟ ددې كبلـه چي موږ او تاسو دي خلكوتـه دازمينـه برابر كړې ده او هغوى مو پـه لوى لاس دې كار تـه هڅولي دي.راځـئ دهغه ځاى څخـه يې پيل كړو چي كله يوماشوم دخپل مور څخه وزيږى كله چي هغه لا څو مياشتنى وى نو هغه ماشوم ته ددې لپاره چي هغـه ماشوم بيده سي او يا هم ارامه،رحتـه سي او بغارې ونـه وهي، موريې ورتـه يو ډول نشه وركوونـكې درمل او هتأ دردې اندازې پوري چي ځيني ميندي خپلو ماشومانو تـه ترياک (افين)وركـوي، چي دا عمل كله ناكلـه دماشوم دمړينـي اويـاهم دهغه دنـاروغۍ سبب كيږي،كـه څـه هم دا معلومه خبره ده چي ماشومان دلوږې،تندې اونـاروغۍ لكبله اويا هم عدتً بغا رې وهي، مګر موږ هغه دخپل ځان لپاره سر خوږى بولو او ددې پرځاى چي هغه



۱- بخارى كتاب الاشربة حديث كنه 5557

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم ته شیدې اویاهم نور خوراکي مواد ورکړو اویاېې هم کوم ډاکټرته وښیو هغه ته نشیې مواد ورکوو. یوه بلـه لار چي موږ دیوه شخص پـه نشیې موادو، دروږدي کیدو لامل ګرځو په دې ډول ده.

کله چې یو ماشو څو کلن سي : یو پلار خپل ماشوم بازار یا هټۍ ته ددې لپاره لیږي تر څوهغه ته نسوار اویا هم سګریټ راوړي!ماشوم چي دخپلو والدینو سره زیاته مینه لري او تل غواړی چي دخپلووالدینو په شان وه اوسي :بلاخره ماشوم ته دافکر پیدا کیږي، چی زما پلار یا مور چي یاد کار،کړنـه کوي، نو هتمن بـه دا یوښه کاروی،چي پـه پایلـه کي یې بیا هغه ماشو هم ددې توکو کاروني تـه مخـه کوي.پـه لومړی سرکي لږ اویوزي ددې لپاره ددې توکو کارونـه کوي چـي دده پلاریامور ددې توکو کارونه کوي، بیا کرار کرار دی پـه دې موادو روږدی کیږی اوبیـا دوخـت پـه تیریـدو سره دی داتـوکي ډیـر اسـتعمالوي،کله چـي دی پـه زیاتـه انـدازه سـګریټ اسـتعمال کـړې: دزیـاتي کـاروني لـه کبلـه ده تـه نشـه اوخونـد نـه ورکوي،بیا دی دداسي کسانو په لټه کي کیږي چي هغه دچرسو پـه نشـه روږدي وي اوورسته دی هم دچرسو په نشه ورسره اخته کیږي او بیاعین الشکل چرس هم ورته نشه نه ورکوي: یادکس دتاریاکو،هیروینو اونورو،وژونکونشیې موادو په استعمال روږدی کیږی،البته دلته باید یوه بله خبره هم ورزیاتـه کړم چي ناسم اوبي لارې ملګرې هم ډېروخت په نشیې موا دو دروږدي کیدا لامل کیدای سی.

یوه بلـه لاره چي پـه نشیې موادو دروږدي کیدو زمینـه یې برابره کړي ده هغه دنشیې موادو کښت اوکر کیلـه ده! زموږ او تاسو ځیني دحقانان وروڼه پـه خپلو مځکو کي تمباکو، بنګې، تاریاک او نور نشیې مواد کري او خپل او لادونـه پـه خپل لاس دبربادۍ کندې تـه غورځوي. دحقانانو تـه دنشیې مواد ودکرکیلې ډېره لږه اندازه ګټه رسیږي اوزیاته ګټه یې نورو بدو خلکوتـه رسیږي،که چیرې موږ پـه خپلو ځمکو کي روا،حلال کښتونه و کرو او دناروا کښتونو سره یې پرتلـه کړو،نومعلومـه بـه سي چي موږ او تاسو دنشیې توکوپـه نسبت زیاتـه ګټـه دروا کښت دلارې لاسته راوړې ده .

موږ او تاسو تل دا وایوو چي خورکي مواد لوړ قیمت لـري ددې علت هم دنشیې مواد کښت دی،ځکـه کـه موږ پـه خپلو مځکو کي غلې دانـې وکرو:موږ بـه خپل دهیوا د خوراکي مواد کمبښت پـه خپلـه پوره کړی وی،دې تـه بـه اړنـه یوو چي دنورو هیوادو څخـه خورکي توکي را وړو.کـه موږپـه خپلومځکوکي رواکښتونـه وکرو نـو پـه دې کارکولوسره بـه دغلـو دانـو قیمتـو نـه زموږپـه سیمه کـي خـود دخوده(خپلـه) راټیـټ سي!راځئ چي پـه ګډه نـور خپل هیواد دنشیې تـو دکرکیلې اوکاروني څخه خلاص کړو او نور پري نږدو چي خلـک پـه نشیي موادو روږدي سي،دنشیې توکو موتادي،روږدیدا یو داسي شرموو نکی کاردی، چي هیڅوک پـه نشیې موادو روږدي کس تـه دقدر، درناوی په نظرنـه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشـيي مــواد زمــوږ دذهن،دمــاغ اوبــدن کمــزوري کوونـکي،،دمــالي ســتونزو راوستونـکي،زيږونـکي، دشخصيت کښته کونـکي، او يـو داسـي کـار دی چـي زمـوږ دونيا او اخرت دواړه راخربه وي!

راځئ چي نور په ګډه نشيي مواد ورک کړو اودکاروني څخه يې ځان او ټولنه دتل لپاره بيغمه اوخلاصه کړو.

---

## خپل منځي شخړې او بدۍ

زموږ او ستاسو په ټولنـه کي مو ډېرې دا سي پيښـي ليدلي، او دهغو پيښو په هکله مو او ريدلي دي، چي يوه شخص بل شخص وژلی وي،چي ورسته دوژل سوي کس خپلوان دقاتل کس دکورنۍ او دقاتل سره بدې يا دښمني پيل کړي. دوی دواړه ډلې يا اړخونه يو پربل باندي مرګوني حملې کوي تل ديو او بل په نـابودۍ اولمنځـه وړلوپـه سـي تـلاښ کـوي،چي هتـأځيني وختونـه دا د دوی پـه وينابـدې يادښـمني درپيړيـو پـوري دوام پيداکړي اوغځيږي.بـدې يادښـمني هغـه وخـت را منځته کيږي، چي ديوه کس او يا هم ډيرو کسا نو ترمنځ په يوه خبره اويا يوه کار اختلاف را منځته سي اوکله چي هغوی په دې کار ياخبره سره هم نظره او موا فق نه سي: هغه اشخاص چي دزغم اوحوصلې څخه محروم ،بي برخې وي:ديو بل سره جګړه وکړي، په جګړه کي مرګ ژوبلـه را منځتـه سي او دانـاروا اونـاسم کاربـدې منځتـه راسـي. دزيـاترو داسـي پيښـو لاملونـه ځينـې وخـت ددې لانـدي علتونوله کبله وي:

دمځکو،(جايدا دونـو )، داو بـو لګولـو، دماشومانوپرسر سره اخـتلاف، جګـړې اوشخړې، او دې تـه ورتـه ډېر زيات لا ملونـه نـورهم ددې بدې پديدې درامنځتـه کيدوسبب کيږي ياسوي دي،داحليدونـکي لاملونـه (سببونه) ځينـي کسـان ديو بل سره په مشوره نه کولـو، او بغير ددې چي يوه سمه دحل لاره ورتـه پيداکړي او داستونزه ديوبل په مرسته حل کړي،برعکس ديوبل سره لفظي شـخړه کـوي، يـو بل تـه لاسونـه اچـوي، يـو او بل سره ژوبلـه وي اوهتأ سره وژنـي. داډول پيښـې زياتره وخت دهغو وسلو په وا سطه را منځته کيږي چي خلګ يې په خپلو کورونو کي ساتي. يوانسان چي هوښ او عقل لري ديو بل انسان سره پـه يـوه دا سي وړه ستونزه او مشـکل جګـړه کـوي اوهغه ژوبل او وژنـي چي هغـه ستونزه پـه ډېـره نرمه لحجه او بيله کومه خنده حليدای سي.موږسره له دې چي رسوالله صلی الله عليــه وسـلم فرمــايي: ژبـاړه. الله تــه پــه خلکـوکي ناخوښــه هغـه څـوک دي چــي ډيرجنجالي وي.① خپل په منځ کي پريوې وړې اوحليدونـکي ستونزې ديوبل سره جنجال اوشخړه کوو؟ ولې پـه دې خـاطر چـي زمـوږ او تـا سوڅخه ځينـي زغم او حوصــلـه نـــه لـــرو اوپـــه اوکوچنيـــو خبـــرو پـــه غوســـه کيـــږو. رســـوالله (ص) فرمـايي:(پهلوان هغـه نـه دی چـي پـه غيږغښتلی وي بلکـي پهلـوان هغـه دی چـي دغوسې په وخت کي ځان وساتي) ②



۱- بخاری حديث ګڼه2457
۲- بخاری حديث ګڼه6114

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر اوحوصله دالله جل جلاله لوی نعمت دی ،موږباید داسترنعمت تل دځان سره وساتواو د دې نعمت دنه شتون په صورت کي ددې نعمت دلاسته راوړلوکوښښونه وکړو.موږ او تاسو ولې در دې اندازې ظالمان سوچي يو انسان دي بيله دې چي هغه کوم جرم او ګوناه کړي وي ووژنو ،ولې دخپل خدای(ج ) دامر نافرماني وکړو، مخکي له دې چي موږ او تاسو ديو چا سره جګړه کوو،لومړی بايد دا فکر(آند)وکړو چي آيا په جګړه کولو سره زما دا ستونزه حليدای اودمنځه تلای سي؟

او که چيرې دا ستو نزه په جګړه کولو سره حليدای سي: بيا ولې يې ديووې بلې سمې اود زيان څخه ليري لارې څخه کو ښښ نه کوم او ولې ديو بل سره جګړه وکړو، ولې يو چا ته ضرر ورسو، ولې يو کس ژبل يا قتل کړو؟ آيا موږاوتاسو دومره صلاحيت لروچي دخدای(ج) ديو مخلوق څخه دهغه ژوند واخلو او هغه قتل کړو،ولې موږ حوصله اوصبر ونه لرو؟ اودردې هرڅه ورسته بايد دا وسنجو چي کله داخرت په ورځ زموږ رب (ج) زموږ سره ديوې زرې نيکی او بدی حساب کوي: موږ په هغه سخته ورځ ددې جواب ورکولی سو چي موږ ديوه بې ګناه مسلمان قتل کړی وی،په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ الزّلزَلَة :۸: 7ګنه اياتونه ولولئ .الله(ج) يو مسلمان ته انشاءالله دهرې ګناه څخه ور تيريږي، مګر دبل دحق څخه نه ورته تيريږي، ژوند ديوانسان حق دی اوبغيرداسلامي احکامودجاري کولو څخه ديوه مسلمان ،مؤمن ژوند اخيستل لويه ګناه ده. په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ المَائدة : 32 اوسُوْرَةُ النِّسَاء :93نمبراياتونه ولولئ.موږ اوتاسو چي کله يوه ګناه وکړو ورسته دهغه څخه افسوس کوو او په خپل کړي کار پښيمانه يوو، چي دا پښيماني ورسته هيڅ ګټه نه لري.

بايد ديوه کاردکولو څخه مخکي ښه فکر اوسنجس وکړو او ورسته هغه کار وکړو.دېرداسي کسان سته چي د دونيا دګټې لپاره خپل اخرت او ابدي ژوند خراب کړي: داکارديوه انسان ستره غلطي ده !

په دښمنۍ کي داخل کسان يو اوبل درهغه سره وژني چي د دوی په فکر(آند) يو ډله بله ډله ختمه کړي. داتيروتلي (غوليدلي) دانتقام اخيستولو په نامه ديوه په مقابل کی بل قتلوی،په رښتيا هم دا ډول کسان ناپوهان ِدي، ځکه درڅوبه دوی ديويې وژني په مقابل کي بله وژنه کوي، ديوه تپ ،ياژوبلې په مقابل کي به بله ژوبله کوي، اياپه ياد کارکولو سره دوی کولی سی ګټه او فايده لاسته راوړي؟ او که چيرې په دې سره فايده لاسته نه ورځي نو بيا ولې دوی يوبل ته بخښنه نه کوي او په دې کار سره خپله دوښمني نه ختمه وي؟

دوينې جواب په وينه سره بايد ورنه کول سي،د دوښمنۍ درلودونکووګړوپه منځ کي سوله کول اودوی سره پخلا کول يونيک کار دی. ديادو کسانو په منځ کی دسولې راوستلو لپاره دې عالمان، مشران،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونـور مخګورکسـان سره کښېني،او د دوی پـه منځ کـې دې روغـه وکـړي، ددواړو طرفونـو غوښـتنې دې واوري او ورسـته دې يـوه مناسـيبه دحـل لاره ورتـه پيـدا کړي،داسي يـوه پريکـړه دې وکـړي چـې د دواړو طرفونـو رضـا اوخوښـه حاصـله سي، داسي يوه پريکړه دې نه کوي چي خدای( ج)مکړه نوروکسانو تـه پـه کښـی زيـان ورسـيږي،دوی تـه دې داقناعت ورکـول سـي،چي دمسلمانانوپه منځ کـې پـه وژنـه او جګړه کولو سره يوه ستونزه نـه حليږي،بلکـې پـه سوله او روغـه جـوړه سره يوه ستونزه حليدای سي.الله جل جلاله سوله خيربللې ده!

په دې خبره دلاښه پوهيدلوليپاره د سُوْرَةُ النِّسَـاء :128نمبرايات ولولي.يومسلما ن با يد دبل مسلمان په وژلو او يازورولو دا سي فکر ونه کړې چي ګواکي زه يو ميړنی اوزړور يم؟

يورښتنی ميړنی او زړور هغه څوک دی: چي خپل مسلمان ورور تـه زيـان ونـه رسوي، ديو کس سره دهغه دستونزې پـه وخـت کـي مرسته او همکـاري وکـړي، اوهغه دزيان څخه ليري وسا تي.را سئ چي نور دخپلو وروڼو سره ونـه جنګيږو او يـو بـل سـره قتـل نـه کړو او يـو او بـل تـه دزيـان رسـولو څخـه ځـا نونـه ليـري وساتو.الله جل جلالـه موږ دخپلو ورڼوپه منځ کي په مناسبات سمولو(سولـه کولـو) امرکړی يو!

په دې خبره دلاښه پوهيدلوليپاره د سُوْرَةُ الحُجرَات : ١٠نمبرايات ولولئ.ولې مـو ږ او تاسو پـه يـوه وړه مسئله کلونـه کلونـه سره وجنګيږو ديوبـل وينـې سره توی کړو او دانتقام په نامه خپله ټولـه راتلوونـکيه خرابـه کړو، لادرڅـو بـه ديوبـل څخـه غـچ اخلـو او سره وژنوبـه، ولـې دا دخپـل ځـان لپـاره شـرم وګڼوچي ديو چا دغلطۍ جواب په نرمه لهجه او بخښنې کولـو سره ورکـړو، ددې پرځـای چـي موږ هغه غلطي بيا تـکرار کړو ولې هغه غلطۍ ته دپـای ټکـی نـږدو، ولـې موږ ځـان پـه دې کار کولو سره بې زړه وبولو او ويژدان مودانـه ومني چي ديو چا څخـه بخښـنه وغوا ړو سره ددې چي غلطي هم زموږ وي، ولې ديوې کـو چنـي او حـل ليـدونـکي ستونزی څخه دنفرت اورونـه بـل کـړو چـي بيـا پـه هغـه لمبو کـي پـه کلونـو کلونـو سوو ځو او ولې خپل ورونه دښمنان جوړ کړو؟

راسئ چي خپلـه ټولنـه داسي جوړه کړو چي پـه لـو مړی سرکي خو بايد ديوبـل دغلطيو څخه تير سو او زغم ولرو او که چيرې خدای مکړه پـه بدئ اختـه سوي يوو: لو مړی بايد په خپلو کي دواړه طرفونه سره کښينو او د تياره ژوند څخـه ځـا نونـه خلاص کړو اوپه خپل منځ کي يوه مناسيبه،غوره، اوښه پريکړه وکړو. کـه چيرې دا ستونزه دې د دوو خوواشخاصوخپل په منځ کي سره حل اوفصل نـه کـړه ،نو دهغې سيمې خلګ دي ددې دو طرفونو تـر منـځ منځګړي تـوب وکـړي، اوددې دو دړلـو تـر منـځ دي دوښـمنې دمنـځ يوسـي او روغـه جـوړه دې يـې وکـړي، لـوی خداي (ج) دي موږ او تا سو دورور وژنې څخه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# معلولیت عیب نه دی

الله (ج) دیوه انسان په ژوند کي ټولې مختـه راتلونکي پیښې هغه وخت لیکلې وي چـي کلـه هغـه دې دونیاتـه نـه وي راغلـی! دهغـه درزق یـا خـورک ، څښـاک انـدازه، دهغـه عزت، دهغـه ژونـد پـه دونیـاکي، نیکبختـي اوبـدبختي او داسـي نـور پیښیدونـکوکارونو،عملونو،یاپه عامه اصطلا ح دیوه انسان نصیب څه سره چي موږ په ژوندکي مخ کیږو یایي کوو لوی الله جل جلاله ته معلوم اوپرهغوباندي پوره علم لري. هیڅ یو انسان دالله (ج) د ارادې او خوښې څخه پرته خپل بانه لاهم نـه سي رپولی، ټول کارونـه دلوی خدای(ج) پـه لاس کي دي، یوانسان یې عقل مند پیدا کړی وی، بل انسان ته یې قوت او زور ورکړی وی او بل انسان تـه یې نه وي ورکړی، یو انسان یي دولت مند او شتمن پیدا کړی وی او بل انسان یې غریب او نیست مند پیدا کړی وی، یوه انسان تـه یـې عزت اوشرافت ورکړی وی او بل انسان ته یې نه وي ورکړی.ټولې چارې دلوی خدای (ج) پـه امرمختـه ځي که هغه خیر وي او که شر، په دې خبره هرمسلمان ایمان لري او دا خبره باید په پوره یقین او باور سره ومني.

انسـان مختـاردی یعنـي انسـان پـه خپلـو کړونـوکي دخپل اختیـاراو خوښـي دی چـي نیکي کوي اوکه بدې، دایو اوږد علمی بحث دی اونـه غواړم نورپر دې بحث څه ولیکم. راځم خپلې اصلي موضوع ته: ځیني انسانان چي کله پیدا سي نو دبدن یو انـدام یې کم وي او ځینـي انسـانان بیـا دپیدا ېښت څخـه ورسته دناروغۍ او یـاهم دیـوې پیښـې لـه عملـه خپـل دبـدن یوانـدام دلاسـه ورکـړی او یـاهم زیـان مـن سي.لومړی راځم دې ته چي هغه انسان چي معلول پیداکیږي او یا هم دپیښواو نـارغیوو لـه کبلـه معلول کیږي څـه بایـدوکړي: معلـول شـخص دې پـه ژونـد کـي دپښیمانۍ، درد،اوخواشینی احساس نه کوي، ولـې چي یوانسـان هیڅکلـه خپلـه پـه خوښه نـه غواړي چي معلول سي. هر څه چي پیښیږي دلـوی خدای(ج) پـه امـراو اراده سره پیښیږي کیدای سي چي معلولیت کي دیوه انسان خیر وي ،ځکـه انسـان دخپل خیر او شرڅخه خبرنه دی. که چیرې یو شـخص خپل ژونـد پـه معلولیت کـی تیر کړ اوپه خپل معلولیت راضي (خوښ) اوصبرکوونـکی سو کـه دالله (ج) خوښـه وه نو دمعلولیت او دده دصبر اولوړهمت اجرونـه بـه پـه اخرت کـي ورتـه ورکړي.

پـه دې خبـره دلاښـه پوهیـدلولپاره د سُـوْرَةُ لقمَـان : 17نمبرایـات ولولی.معلولـو اشخاصوته دانه ښایي چي خپل صبر او حوصله دلاسه ورکړي. معلول انسـانان باید خپل زړونه په دې خپه (خواشیني) نه کړې چي زه ولـې معلـول یم ؟او دا سـي دې دژوند چارو ته دوام ورکړي لکه څنګه چي یو غیرمعلول انسان خپل ژونـد پـر مخ بیـایې، دځان لپـاره دې یـو داسـي کـاراو کسب دکورنۍ او دوسـتانو پـه مرسـته پیدا کړي چي سره ددې چي دی معلول دی هغه کار وکولی سي اوورسته پـه خپل هغه کارکي دستو نزو سره مخ نـه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نن عصر كې دډېر ماشينونو دشتون له عمله زيات كارونه ډېر هوسا سوي دي او كيداى سي چې ديوه غيرمعلول شخص او يوه معلول شخص دكارپايله په مساوي ډول وي او دكميت دلهازه دي كوم تو پير ونه لري .هيڅ وخت بايد معلول شخص په كارونو كې له دې كبله چې دى معلول دى زړه نه خفه كوي او بې له دې چې كوم خفګان او انديښنه ورته پيداسي خپل كارونه دي سرته رسوي. موږ او تاسو داسي ډېر انسانان ليدلي دي چې معلول دي خو بيا هم په خپلو كارونو او دژوند په نورچاروكي دستو نزو او مشكلاتو سره نه دي مخ، په ډېر ښه ډول خپل كارونه اوچاري سرته رسوي او دغيري معلولو انسانانو په شان خپل ژوند پر مخ وړي.

معلولو ورنېو بايد خپل ژوند په عادي ډول پر مخ بوزي او لېترلږه دي دا فكر لا هم نه كوي، چې موږ معلول يوو، معلول اشخاص دې هيڅ وخت ځان دستونزو (كړاونو)،خفګان،ناهيليوو په جال كى نه راګيروي، او تل دې زيار باسي چې په خپل ژوند كې ځانونه خوشحاله وساتي،معلول اشخاص دې دطبيعت دښكلاو څخه دنورو هغوكسان په شان خوند واخلي چې هيله درلودونكي، صبركوونكي ،اوراتلونكي ته خوشبين وګړي دي .

هيڅكله دې دنا هيلى او غم احساس نه كوي ناهيلي او غم انسان دستونزو څخه نه سي خلاصه ولى. لكه څنګه چې مخته وليكل سوه چې ټول كارونه دالله (ج) په لاس كې دي نوبايد دهغه لوى څښتن لوى دربارته هيله مند وه اوسو اودكړاونوپه شتون كې صبر ولرو ،ځيني هغه معلول ورونه چې دخپل معلوليت څخه رنځ وړي:بايد ددې احساس پيدا كړي چې زه هم كولى سم چې دنورومعلوليت نه درلودونكو انسانانوپه څېر زيار وباسم،كوښښ وكړم او دژوند په ټو لو چارو كې دبرياليتوب درحده ځان ورسوم.

## هغه اشخاص چې معلولوته ددوى دمعلوليت له كبله سپكاوى كوى:

راسئ چې لومړى دافكر وكړو چې دامعلول شخص ولې معلول دى؟ آيا دا شخص په دې خوښ دى چې دى دې معلول وى او كه د لوى خداى(ج) دطرفه څخه دا معلوليت يادمعلول شخص ته وركول سوى دى او آيا دلوى خداى(ج) په وس او قدرت كې دانسته چې ما هم ددغه معلول كس په شان معلول كړې؟ ددې احساس،تحليل اوڅېرنې دكولو ورسته به موږ ته ددې احساس پيدا سي، چې موږ ولې دې معلول كس ته دده دمعلوليت له كبله سپكاوى كوو.

معلولواشخاصو ته بايد هيڅ وخت ددوى دمعلوليت پيغور ورنه كول سي، ځكه معلوليت،ناروغي اورغتيا دالله(ج)دلوري څخه دهغه جل جلاله په خوښه سره صورت نيسي .كه چيرې زموږ په كورنى او يامحل كې معلول ، ناروغه يانوراشخاص زموږمرستي ته اړتياپيداكوي،دهغوسره بايد دخپل توان سره سمه مرسته وكړو:پري نږدوچي زموږ په شتون كې اړمند خلګ ځان يوازي احساس كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل ټولني دټولواوسيدونکو اوپه ځانګړي ډول دمعلولواشخاصوعزت اودرناوي ته بايد موږ ژمن اوسو اوهمدارنګه بايد ورسره دنيک اوښه سلوک څخه کارواخلو اوپري نږدوچي هغوی زموږ دشر څخه ځانونه خوندي احساس نه کړي،ددې له کبله نه چي دوی معلول دي بلکي خپله انساني فريضه چي ديوبل سره داړتياپه وخت کي مرسته اويوبل ته درناوی دی اداکړو اوپه دې خاطرچي مرسته داړمنواشخاصوسره اودرناوی اوښه سلوک يونيک اود ارزښت څخه بډايه کړنه ده.

معلول انسانان بايد هيڅ وخت دنوردمعلوليت نه درلودونکو انسانانو څخه کم او کښته ونه بولو، تل ورته ديوروغ او ساليم شخص په شان وګورو.هغه ميندي او پلرونه چي اولادونه يې معلول دي، دناهيلۍ احساس دې نه کوي او دا فکردې وکړئ چي په نړۍ کي ډېرانسانان معلول دي ،هغوی هم موږاو پلا رلري ،مګرهغو رضايت خپل کړی دی او هيڅ وخت نا هيلې سوي نه دي، ولې والدين د اولادپه معلوليت ناهيلي واوسي، معلوليت الهی ورکړه ده اوکوم عيب نه دی. معلولواشخاص هيڅ وخت دهغوی دمعلوليت دډول په نوم سره مه يادوئ،دګوډ،ړانده ،شل، کوڼ اونورتحقيرونکوونومونو سره دهغوی دنومولو اورابللو څخه په کلکه ډډه وکړئ، ځان په ګناه کي مه اخته کوئ. دا د الله جل جلاله ورکړه ده، اوهغوی په دې نومونوسره يادول ګناه ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي ژباړه. مسلمان هغه دي چي نورمسلمانان يې دژبې اولاس له زيانه خوندي وي .①

والدېن بايدخپل دنه معلوليت درلودونکو اولا دونو ترڅنګ خپل معلول اولادونه دعلم په ګا نه سينګار کړي اوتل يې وهڅوي چي علم وکړي او پوهه لاسته را وړي.دپوهي ترڅنګ يې کسب کولواوفني زدکړو حاصلولوته هم تشويق کړئ‌اوخپل اسلامي اوانساني مسؤليت دغاړي څخه واړوی.

الله (ج) دې موږ او تاسو ته دا توان او طاقت را کړي چي دمعلولو او اړوانسانانو سره دهغوی داړتيا په وخت کي مرسته او کومک وکړو. معلول ورونه او خويندي دې هم هڅه وکړي ،چي تل ځانونه ډاډمن او خوشحاله وساتي اونا هيلې نه سي.



۱- بخاري کتاب الا يمان حديث کنه 10

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دماشومانو ژوند ته لنډه کتنه

ماشومان عموماً دلويانو مرستې ته ډېره اړتيا لري،په ځانګړي ډول دموراو پلار مرستې ته، مور او پلارباید ماشومانو ته مینه ورکړي.
والدين بايد ماشومانو ته خواږه، جامې اونور داړتياوړ توکي برابر کړي اوښه روزنه يې وکړي، تعليم ته يې تشويق کړي او کله چې ماشوم غلطي کوي :بايد په ډيره مينه او سړه سينه ورسره چار،چلند وکړي.ماشومان دي دې ته متوجي کړئ، چې په راتلونکي وخت کې غلطي تکرارنه کړي،کله چې ماشوم په درس زده کولو او ويلو کې سوستي کوي:مور او پلار دې يې هغه ته داسي مثالونه او حکايتونه بيان کړئ، چې په هغو کې دپوه او نا پوه شخص درمنځ په څرګند ډول توپير سوی وی.ترڅو ماشوم دپوهې او ناپوهۍ ترمنځ توپير وکولی سي.
ماشومان بايد ونه رټل سي او ورسره نيک سلوک وسي{.. ام خالد وائي مادرسوالله صلى الله عليه وسلم دنبوت په مهرلوبي کولې، پلارمي زه وترټلم. رسوالله صلى الله عليه وسلم وويل خوشيې کړه..}①
ماشومانوته بايد بيرونکي کيسې اونکلونه ونه سي.اوداسي حکايتونه،کيسي او نکلونه دې ورته وسي چې په هغوحکايتو، کيسواو نکلونو کې داسې پېښې راغلي وي چې ماشوم دې ته وهڅوي چې تل بايد په خپل ژوند کي ښه او غوره کارونه وکړې اودبدو کارونو څخه ځان وساتي .
ماشومان موبايد په اسلامي اخلاقو، ادبونو خبر، اوپوه سي.ماشومان مو بايد دې ته اماده کړو چې څنګه اسلامي احکاموته غاړه کښېږدي. ماشومانوته بايد داسلام په مبارک دين کي روا،ناروا،ښه،اوبد ورزده اوپه وي پوهوو.
ماشوم موبايدلومړی په اسلامي تعليماتوپوه اوداسلامي تعليماتو دحاصلولو زمينه ورته برابرکړو،ترڅو داسلام دمبين دين په چوکاټ کي دلويوالي ژوندته مخکي له مخکي اماده اوتيار وي، هسي نه چي خداي(ج) مکړه، زموږدبي غوړئ اونه پاملرني له کبله زموږ ماشوم دجهل اوهغولارو لاروی سي چي هغه لارې دبربادۍ اوزيان څخه خالي لارې نه دي.ماشومانوته بايد مور او پلار د دروغو وعدې ورنه کړي او که چيرې بياهم يوه وعده ورسره کو:بايد په هغه وعده باندي وفا وکړي، ترڅو کوم اعتماد چي ماشوم يې پرخپلو والدينو لري لاپياوړی سي اوپه راتلونکي وخت کي خپله هم پروعده باندي ولاړشخص واوسي.موراو پلار بايد دخپلوماشومانو مختته لفظي شخړې او جنجالونه ونه کړې. ځکه ماشوم په بل هيڅ شي دومره نه خفه کيږي، لکه څومره چي دمور او پلار ترمنځ په جنګ او شخړه کولوسره خپه کيږي.
کورنۍ شخړې ماشوم دې ته اړباسي چي دخپل کورنه تيښته وکړي او هتأ ځيني وخت داسي هم پيښيږي چي ماشوم دکورنۍ شخړوله کبله ځان وژنه وکړي،ځکه ماشوم خپل ځان آرامه نه احساسه وي او تل خپه وي.



۱- بخاری کتاب الادب حديث ګڼه 5993

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ شخړي دماشومانو روحيه کمزوري کوي، او ماشوم په دماغي اونورجسمي ناروغيوو مبتلا کوي،همدرنګه کورنۍ شخړې دماشومانو ذهن کمزورى کوي،خپل جورئت دلاسه ورکوي او د ډول ډول نورو ستونزوسره لاس اوګريوان کيږي. دکورني تاوتريخوالي کورنيوشخړو سره مخ شوي ماشومان نه سي کولى چي خوشحاله ژوند ولري،تل په دې لټه کي وي او غواړي چي نورو کسانو ته زيان ورسوي ورسره شخړه وکړي او خپل دټولنې دنورو وګړو څخه ليروالى اختيار کړي.ماشومان بايد تل پاک وساتل سي او چټل پاته نه سي دنا پاکو او چټلو اوبود ډنډونو څخه دې راوګر ځول سي او پري دې نه ښودل سي چي په ناپاکو ساحو کي لوبې وکړي.**

**په ماشومانوبايد درانه او ددوى دوس څخه پورته کارونه بايد ونه سئ،تر څو روغ رمټ پاتي سي.ماشومانو ته بايد کله ناکله ډالۍ واخيستل سي او دپرځاى اوخوندي لوبو،ساتيريو څخه راونه ګر ځول سي.**

**مور اوپلار دخپلو ماشومانو هرې پوښتني ته بايد پروخت اوبيله کومه ځنډه جواب ووايې،ترڅو ماشوم بيا هم دپو ښتنې کولو جؤرت ولري، دپوښتنې دکولوڅخه په وېره کي نه سي ،تل پوښتنه وکړي اود ځان ناخبره نه پريښودلوروحيه په ماشوم کي پياوړي سي.ماشوم سره بايدپه ساده اوروان ډول خبرې وکړو.پوښتنې کول او جوابونه ترلاسه کول د ما شومانو لپاره ډېر ارزښت لري، ځکه ماشومان دډېرو شيانو په اړه معلومات نه لري اوهرڅه ورته نوي ښکاري.**

**ماشومانوته بايد اسلامي ،تاريخې ټولنيز او عنانوي معلومات ورکول سي.ماشومان بايد دکورنۍ دغړو،دوستانو،مشرانو اونورو خپلوانو احترام ته وهڅول سي.**

**ماشومان بايد دعامه لارو سړکونو ويالو او نور دخطرنه ډکو سيمو څخه راو ګرځول سي او دا لارښوونه ورته وسي چي دليرو او نابلدو ځايو نو دتګ څخه ډډه وکړي، دماشومانو مخته بايد مخدره موا داستعمال نه سي. په ماشو مانو باندي بايد مخدره موا ديو ځاى څخه بل ځاى ته انتقال نه سي.**

**ماشومانو ته بايد دمخدره موادو دزيانونو په اړه پوره اوهراړخيزه معلومات ورکول سي . ماشومان بايد دهر ناوړه او بدکار دکولو څخه راوګر ځول سي، خو دا د راګرځولواومنعه کولولار بايدمثبته ساليمه اوداسي يوه لاره وي چي ماشوم ته جسمي اورحي زيان ونه رسوي.**

**ماشومانوته بايد دهربدکار دکولو دزيانپه اړه هر اړخيزه معلومات ورکول سي.که غواړئ چي دخپلو ماشومانو څخه ښه او غوره انسانان جوړ کړئ:بايد ورته سمه روزنه او تربيه ورکړئ ، تعليم په وکړئ، ترڅو مو خپل مسؤليت په سمه توګه دخپلې غاړې اړولى وي. راسئ دخپلو ماشومانو څخه بد انسانان نه، بلکي نيک خويه اوښه انسانان تري جوړ کړو. يوه اصطلا ده چي وائي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنده لبنته پرهره خوا کېږي ما شومان هم دلندې لبنتې په شان دي، چې غوا ږئ څنګه يې جوړه کړئ، هم هغه سې جوړيږي. آيامونږ نـه غواړو چې دخپلو اولادو نوڅخه ښه انسانان جوړ کړو ؟

معلومـه خبرده چـې هرمـور او پـلار غواړي چـې اولاد يـې يونيـک اوښـه انسـان سـی:دنيـک انسـان جوړيـدل زمـونږ دماشـوم څخـه او دبـد انسـان جوړيـدل زمـونږ دماشـوم، څخـه زمـونږ پـه خپـل لاس کـې دي سـاليمه روزنـه، او علم،پوهـه زمـونږ دماشوم څخه يو ښه شخصيت جوړه وي اوبـرعکس ناسمه روزنـه او دعلم څخـه ګوښه ساتل زمونږ دماشوم څخه بد انسان جوړه وي.

---

## دجنګ زيانونه

لکه څنګه چې مونږ او تاسو ټول پوهيږو، جنګ ديوې ټولنې پر ډيرو برخو منفي اغيزي لري او نه پريږدي چې دجنګ دسيمو خلګ پرمختګ وکړي. جنګ زمـونږ اوستاسو مادي اومعنـوي شتمنی دمنځـه وړي. مونږ او تاسونه سو کولی چې پـه جنګ کي پوهه او علم لاسته راوړو. جنګ داسي يو بدمرغي ده چې ديوې ټولنې تـولې عامــه شــتمنی دمنځـــه وړي،روغتونونـــه، مدرســي ،مکتبونـــه، ســړکونه ،معدنونـه، کښتونه، مالـداري اونورعامـه اوشخصـي شتمنيوته زيـان رسـوي. پـه جنګ کي مالي اوځاني زيانونـه زيات وي. په جنګ کـي مـونږ خپل دکورنی غړي، دوسـتان ،ملګـري اونـور خپلـوان دلاسـه ورکـوو. جنـګ مـونږ او تاسـو دې تـه نـه پريږدي چـې خوشحاله ژونـد وکـړو او پـه ارمـی ساواخلو، مـونږ خپل ټولـه وخت دجنګ له کبله په وېره کي تير وو .زمـونږ ماشـومان سمه روزنـه اوتربيـه نـه سي ترلاسـه کولی اونـه سو کولی چې ماشـومان مو پـه ساليم ډول تربيـه کړو .جنګ څوک کوي او ولې يې کوي؟

معلومه خبره ده چې جنګ مونږ انسانان کوو، يواو بل په ناحقه سره وژنو او يوبل ته زيان رسو .که چيرې مونږ او تاسو وروڼه په خپلو منځونو کي اتفـاق او يـوالی ولرو نو هيڅوک نه سي کولی چې مونږ دې دخپلو ناروا اوشومو

کړونـو ،هدفونو او غوښتونو ښکار وګرځوي. کـه چيرې مـونږ او تاسو پـه خپلو منځونو کي يوبل سره کينه ونه لرو ، يوبل ته احترام (درنـاوی) ولـرو غم شريکي سره وکړو، يوپر بل ظـالم ونـه اوسو،نو زمونږ او ستاسو پـه سيمه کي بـه هيڅ جنګ او بـدبيني نـه وي.همدا مونږ او تاسو يوو چې ديو او بل دوينـو تږي يوو. دمــــال، شــــتمنی او قــــدرت لپـــاره يـــو او بـــل ســـر وژنـــو،الله جـــل جلالــــه مونږمسـلمانـان،مؤمنان يودبـل ورڼـه بللـې يـو اودخپلوورڼوپـه مـنځ کـي يـې پـه مناسباتو سمولو(سوله کولو)سره امرکړی يو،په دې خبره دلاښه پوهيدلوپاره د سُوْرَةُ الحُجرَات : 10 اودسُوْرَةُ الحُجرَات : 9نمبره اياتونه ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوالله صلی الله علیه وسلم فرمایي یومسلمان دبل مسلمان وروردی نه ظلم پرکوي اونه یې دبل ظلم ته سپاري. ①

موږمسلمانان چي دیوبل ورونه یوو بیاولې ورنه یوبل قتل کړو؟ولې دپردیو په لمسون یوبل ته زیان ورسوو اویو دبل دښمنان و اوسو،حال داچي موږ ورونه یوو؟کله چي موږ اوتاسو ته دالله (ج)دلوري قدرت ،واک اوشتمنې په لاس کي راسي:زموږ څخه ځیني پرمظلوموانسانانو باندي ظلم کوي او هغه څه کوي چي په توان کي یې وي.

همدا موږ یوو چي دنور خلګو حقونه په زور، اوجبر خورو، په خپله نه غواړو چي جنګ ورک کړو او په سولیز ژوند کي دېر مختګ ترپولو ورسیږو. کله چیرې موږ او تاسو په خپل سیمو کي یوالی ولرو:بیا ولي به مو په سیموکي جنګ اووژنه وي؟ موږ او تاسو باید هیڅ یو جابراو ظالم ته اجازه ورنه کړوچي زموږسیمه دناروا اونامشرع جنګونو په میدان رابدله کړي.موږ باید دخپلو سیمو په اړه دبي غوری اوبي پروا یې څحه کار وانه خلو. لکه څنګه چي دخپل کور دسوکالی، ابادی او ارامی لپاره هڅې،زیار او کوښښونه کوو:همدا سي باید دخپلې سیمې په اړه زیار وباسو او هڅه وکړو چي خپلې سیمې ابادې، سوکالې اوسمسورې وساتو.تل باید موږ دخپلو خلګو او ټولنې لپاره خیر غوښتونکي واوسو او پري نږدو چي زموږ سیمه نور خلګ راته ویرانه (ویجاړه) کړې. هیڅ وخت باید دهغو خلګو سره مرسته او کومک ونه کړو چي زموږ په سیمه کي جنګ،ویره(ډار)اوتباهي خوروي، داسلام دمبارک دین داحکامو څخه سر غړونه کوي او نه پریږدي چي موږ دي سولیز ژوند ولرو .جنګ او جګړې زیاتره وخت دمسلمانانوپه منځ کي دداسي خلکو تر منځ کیږي، چي هغوی په جنګونو کي خپلې شخصي ګټې لري اویایې هم لټوي ،یاد وګړي غواړي چي نورخلګ هم دې ته وهڅوي، چي د دوی ملګري وکړي.موږ اوتاسو دداسي ډیرو جنګونو شاهدان یوو،چي په هغه جنګونو کي هیڅکله موږ اوتاسو ته ګټه نه ده رسیدلي، موږ او تاسو یې دخپل سیمې په شمول داور په سرولمبو کي سوځولي یوو. زموږ څخه یې زموږ سوکالې،پرمختګ او خوشحالی اخیستي دې.

هیڅ وخت باید چاته اجازه ورنه کړو چي موږ او تاسو دې دخپلو شومو او خرابوموخو لپاره وکاروي، موږ او تاسو دې دخپل ټولني څخه لیري کړي او دخپلې ټولني دښمنان مودې وګرځوي،داسي دې مووکاروي چي موږ خپل ورونه په خپلو لاسونو سره ووژنو، خپل خویندي په خپله کونډي کړو، خپل ماشومان په خپل لاس دعلم او پوهې څخه لیري وساتو،خپل کورونه په خپلولاسونو وران کړو اودخپل هیواد دپرمختګ په لاره کي دې خنډ و اوسو .موږ او تاسو باید ویښ واوسو اوپري نږدو چي زموږ دهیواد اوسیمې دښمنان دي موږاستعمال کړي، اوزموږپه لاسونودې زموږ ګران هیواد په موږ وران کړي.



١- بخاری کتاب حدیث ګڼه2442

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې موږ تردې اندازې ناخبره او ويده پاته سو: چي موږ دهغه خلګو سره مرسته وکړو، چي هغوی موږ او زموږ هيواد دبربادۍ کندې ته اچوي يايې اچول غواړي او نه پريږدي چي موږ هوسا او ارمه ژوند ولرو.

دمسلمانانوپه منځ کي دجنګ خوښوونکو،تيري کوونکو اوظلم کوونکوسره بايدپه هيڅ صورت کي مرسته ددوی په ناروااکړنوکي ونه کړو.

که چيرې خدای جل جلاله مکړه موږ د دوی مرسته کوو،نودظالمانو اوبدکارانو مرسته په دې معناده چي موږ د دوی ملګري اوهمکاران يوو.د دوی سره که مرسته کوو:موږ به هم ددوی سره په ګناه کي ګډ اوشريکان يووالله جل جلاله موږ دنيکۍ په کارونوکي دتولوسره په مرسته کولواود ګناه اوتيري په کارنوکي په نه مرسته کولو امرکړي! يوپه دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ الْمَائِدَة : 2نمبرايات ولولی.

جنګ ځپلې سيمې تل شاته پاته او اوسيدونکي يې نورو تولنو ته محتاجه اولاس غځوونکي وي.

هغه مسلمانان چي ځپلې سيمې په ځپله ورانه وي، نوانشاءالله دوی به په دې دونيا او اخرت کي نا کامه وي او که چيرې بيا هم دوی ديو محدود وخت لپاره په خوشحالۍ کي ژوند وکړي،خو دوی به هتمن دځپلو ناروا اوناسمو کارونو سزا ويني، که چيرې موږ داغواړو چي په دونيا او اخرت کي دي کامیابه اوسو نو بايد هيڅ يوه مسلمان ته زيان ونه رسو، دخلکو سره په نيکو کارونو کي مرسته وکړو،ځپل ټاټوبی وران نه کړو، که غوړو چي موږ دي خوشحاله او ارمه ژوند ولرو: بايد يوبل ته لاسونه سره ورکړو،يوالي ته ژمن اوسو اوپري نږدو چي زموږټاټوبی دې شرخوښوونکي انسانان راته وران کړي، موږبايد دومره ونه غوليږو، ياپه بله معنادومره مو ونه غولوي چي ځپل ټاټوبی ځپله وران کړو،موږ بايد تردې اندازې دنا پوهۍ په سمندرکي غوټه نه کړي يانه سو غوټه چي هتأ ځپل ورونه ځپله ووژنو او ځپلې تولنې ته زيان ورسو،يادې هم زموږسيمه نيښ لرونکي لړمان دځپلوناروا موخولپاره زموږپه شتون کي وکاروي اوزموږدسيمو څخه دي راته سورسکور جوړکړي.

راسئ چي نور ځپل هيواد دجنګ او جګړو مرکز ونه ګرځو. ځپل هيواد او خلګو ته خدمت وکړو .لکه څنګه چي په نورو هيوادو نوکي پرمختګ سوی دی داسي بايد موږ او تاسو هم پرمختګ وکړو.

ځپلو ماشومانو ته تعليم اوتربيه ورکړو. ځوانان مو بايد هريو هيواد پاله اوسي اودځپل هيواد دابادۍ او سوکالۍ لپاره نه ستړي کيدونکي هلي ځلي وکړې او پري نږدې چي هيواد مودجنګ په سرو لمبو کي وسوځل سي.

موږ بايد هيڅکله په جنګ باندې خو شحاله نه سو، ځکه تل دمسلمانانوترمنځ جنګ دبربادۍ او ورنۍ سبب سوی وو،دی او وي به.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سوله

الله جل جلاله موږمسلمانان،مؤمنان يودبل ورڼه بللي يو اوحكم يې راته كړدى چې دخپلو ورڼوپه منځ كې مناسبات سم كړئ (سوله وكړئ) په دې خبره دلاښنه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ الحُجرَات :9اود سُوْرَةُ الحُجرَات : 10نمبراياتونه ولولى.

سوله هغه نعمت دى چې موږ ته دارامى او خوښى ژوند راكوي،موږ كولى سو چې په سوله كې دالله(ج)ټول احكام پرځاى كړو،دناروا اوبدو كارونو مخنيوى وكړو،دنورو انسانانو سره مرسته وكړو، حق وحقدارته ورسو ،اتفاق سره ولرو، او كولى سو دې ته ورته نور دېردنيكى اوخير كارونه دسولې په فضاكي په عادلانه ډول ترسره كړو.

سوله او آزادي ديوه انسان دووي اړينې هيلې، غوښتنې دې. هرانسان حق لري چې په سوله كي ژوند وكړي او آزاد اوسي.

موږمسلمانان بايد خپل په منځونو كي كينه (رخه) او بغض دمنځه يوو سو، خپل په منځ كي مينه او دوستي سره ولرو.

علم اوپوهه لاسته راوړو، خپل دټولنې هره يوه كمي پوره كړو، په مشروع ډول پرمختګ وكړو او ټول دريوه چترلاندي په سوله او ورورولى كي ژوند وكړو. موږ اوتاسو دسولې او سوكالى حق لرو.

موږ او تاسو جنګ غوښتوونكي نه يوو.اسلام دورولى، يوالي، او اتحاد دين دى، موږ او تاسو بايد نور ديوبل سره پخلاشو،خپل منځي ستونزو ته دحل لارې ومومو اونړى ته دا وښيوچي موږ: يوالى خوښوو اوخوښوونكي به يې يوو، موږ سوله خوښوو،موږ نورجنګ نه غواړو سوله موانتخاب وه اوانتخاب مو كړه.نوردجابر،ظالم، حق پلورونكي، حق خوړونكي، نادان اوجاهل، مختنه دتوري، تيغ، اوټوپک سره نه ور وزو،بلكي قلم په لاس دهغوى مخه نيسو اونه پريږدوچي زموږ پرحقوقو،مادي اومعنوي شتمنيو،اوملى ارزښتونو تيرى وكړي.

دقلم څوكه دتورې دڅوكي څخه څوچنده تيره ده، ځكه موږقلم انتخاب كړ اوتوره موپه خپل پوښ كي كيښودل.

موږسوله غوښتوونكي،سوله خوښوونكي اوسوله پالوونكي وګړي يوو،زموږشعار يوالى، پوهه (علم)اوسوله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دولتي اوشخصي دندې

رسوالله (ص) فرمايي: دخپل لاس ترخورک هيڅ چاښه خورک نه دی کړی اودالله (ج) نبي داؤدعليه السلام له خپل لاس څخه خورک کاوه.①

هرڅوک په خپل ژوند کي وظيفې(دندې) لري او دهغو دندو په ترسرکولو سره دوی خپل ژوند پر مخ بيايي الله (ج) دوی ته د دوی ددندو په سبب روزي ورکوي اود دوی دکارله کبله ديوې ټولنې وګړي يو دبل سره دخپلودندو دلاري مرسته کوي،دهمدغو کارګرو دکارپايله وي چي يوه سيمه اباده اوسمسوره وي.
دکوموټولنووګړي چي کارنه کوی بيکاره وي، ياکارته زړه نه ښه کوي، هغه ټولنې زياتره ورسته پاتي ټولنې وي يا سي.

لومړی دولتي دندې:

په دولت کي ځيني داسي کسان سته، چي خپله دنده په سمه توګه پرمخ نه بيايې، اودخپلې دندې څخه ناسمه استفاده کوي، په خپله دنده کي ناغيړي ،سوستې اولټي کوي، د اړول کړنې دوخت په تېريدو سره ديوې سيمي او هتأ ديوه هيواد، يا هيوادونو دورستي پاتي کيدو او ورانيدوسبب کيږي.

هرهغه څوک چي دولتي دنده لري، هغه ځکه ددې دندي لپاره ټاکل سوی،غوره سوی دی:چي دخپل هيواد او خپلې ټولني لپاره خدمت وکړي،په رشتينولۍ ايمانداری او پوره اخلاص سره خپله دنده سرته ورسوي، هيڅ وخت په خپله دنده کي نا غيړي او سوستي ونه کړي.

هر دولتي کار کوونکی ته دهغه دکار په بدل کي ددولت دخزانې څخه معاش (تنخوا) ورکول کيږي او په خپل وخت ورته اجرا کيږي، دولتي کارمندان اړنه دي يا نه ورته ښايي چي دخپلې وظيفې څخه په ګټې اخيستلو دهغو کسانو څخه چي دولتي مامورينو ته مراجعه کوي او خپل هغه کارونه چي دولتي کارمندانو پوري اړه وند کارونه يې وي او دهغوکارونو داجرا کولو غوښتنه تري کوي دکار داجراکولو په صورت کې ديادو کسانو څخه پيسي او يا کوم بل مادي يامعنوي جنس يالمتياز وغواړي او دابهانه وکړي چي دا پيسي، جنس يا امتياز زه دشيرنۍ،توحفي،اومزدورۍ په ډول در څخه اخلم ياغواړم،په دې خاطر چي زه ستا کار درته اجراکوم او زه ددې حق لرم چي ماته، ته ستا ددې کارداجرا په بدل کي مزدوري، شيرني،اوياهم ډالۍ راکړې.

په هيڅ صورت کي دولتي کارمندان حق نه لري چي دهغو کسانو څخه چي دوی ته مراجعه کوي دهغو دکارونو دخلاصون اواجرا لپاره پيسې او يا کوم بل امتياز واخلي يايې غوښتنه تري وکړي،ځکه چي دولتي کارمندان دولت دهمدغو مرجعه کوونکو عوامو دکارونو داجرا لپاره په دنده ګمارلي دي.

دا چي يو څوک په دې ډول او دي ته ورته ډولونوباندې پيسې او يا کوم بل مادي،معنوي جنس يا امتياز دشيرنۍ ډالۍ يا په بل کوم نامه اخلي، دې جنس يا امتياز ته هيڅ وخت شيرني او ډالۍ نه سو ويلی،



۱- صحيح بخاری حديث ګڼه 2072

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکـې دې کارتـه رشـوت او دخپلـې دولتـي وظيفـې څخـه نـا روا ګټـه اخيسـتنه وائي.رسوالله صلی الله عليه وسلم دولتی ماموردتحفی دقبلولوڅخه منعه کړی دی اويوه قناعت بخښوونکي ننګونه يي دتحفي دنه قبوليت په اړه دهغه ومختـه ايښـي ده،رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

دخپل پلار ياموړپه کورکي ولي نه کښيني؟ بيابه يې کتل چي څوک هغه تـه تحفـه ورکوي که نـه.①

داسـلام مبـارک ديـن رشـوت اخيسـتل اورشـوت ورکـول دمسـلمانانولپاره نـه دي رواکړي.هيڅکله بايد يو دولتـي کارمنـد دمرجعه کوونکو څخـه پـه يو او بـل نامـه رشوت وا نـه خلي او دهغوکسانو څخه يې هم قبول نـه کړي،کوم چي دوی تـه ددا سـي کـار دکولـو پـه بـدل کـي رشـوت ورکـوي،چي هغـه کارنـاسـم اوديـوې سـيمې، شخص ،هيواد،ياټولنې پـه زيـان وي او يـاهم کـه پـه لنډ ډول وويل سـي چـي دهغه هيواد دقوانينو خلاف کار وي.

دولتـي کارمنـد بايـد پـه هيڅ صـورت کـي غيرقـانوني اوددولـت داصـولوخلاف کـار دهيڅ کوم امتيازپه بدل کي اجرانه کړي، ځکه دغيرې قانوني کړنوکول اودغيـرې قانونـي کارونو دکوونـکو سره مرسـته، ديـوه هيـواد دحکومـت ملاورمـاتوی اوهغـه حکومت ټوټه ټوټه کوي.

هم دا ډول هيڅ يـو دولتـي کـارکوونـکی حق نـه لـری چـي بيلـه کـومې سـختې اړتيـا څخه خپلې دندې ته ناوخته يا بي وخته حاضر (سوب)سي ياهم بيلـه کـومې سـختې اړتياغيرې حاضري (ناسوبتيا) وکړي اوياهم هغه مسؤ ليتونـه چي ده ته ورسپارل سـوي وي پـه ځنـډ سره يـې اجرا کړي،البتـه ديـادوني وړيـې بـولم چـي هرکـارګر داړتيا،ناروغۍ اوتفريح لپاره ځـانګړې رخصتـۍ لـري اوداړونـد اداري دخـوا ورتـه مشخصيږي،دولتي کارکوونـکي بايد په خپلو دندو کي هيڅ وخت ناغيړي ونـه کړي او په رښتينولي(صداقت) او پوره اخلاص سره خپلـې دنـدې اجرا کړي،ځکـه کـه يودولتي کارمند په خپلې دندې کي بي غوري او سوستي وکړي: ديو شـخص سـره نـه ،بلکې دخپل ټول ولس اوهيواد سره به يې چم او فريب کړي وی او خدای(ج) به ورڅخه دمحشر په ورځ ددي کړنې جواب هتمن و غواړي!

دولتي کار کوونـکي بايد دخپل وظيفې څخه په ګټه اخيستلو سره پرعوامو ظلم ونـه کړي، تل دخپلې ټولنې اوهيواد لپاره په رښتني ډول کار وکړي، خپله دنده په پوره ايمانـداری پـر مـخ بـوزي او هيـوادوال دې تـه اړنـه کـړي چـي دخپـل دولـت څخـه ناراضه سي، پر خپل دولت کړی باور(اعتماد) دلاسه ورکړي او دخپل دولـت پـه ضدلستونې راونغاړي،مخالفت يې وکړي.



۱ـ صحيح مسلم کتاب المارت حديث کڼه 4738

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دويم:شخصي اوياهم غيري دولتي دندې شخصي دندي عبارت دي له دهقانی، دوکانداری )هټيوالی)،تجارت، مالداری او نورو ډېرو زيات شمېر کسبونه اودندوڅخه.**

**ډېرشمېردندې اوکارونه سته چي هغه کارونه انسانان په ورځني ژوند کي پرمخ وړي او دهغو په کولو سره دالله (ج) په مرسته خپله روزي او نفکه لاسته راوړي.لومړی دهقان:**

**رسوالله (ص) فرمايي:ژباړه .کله چي مسلمان درخته کښېږدي ياکرهڼه وکړي بيادهغه څخه انسان ياحيوان يابل څوک خورک وکړي نوهغه ته دصدقي ثواب ورکول کيږي.①**

**دهقاني يوداسي کسب دی چي دهقانان په مځکه کي دکار دکولو دلاس دتښاکو اودبدن دخولو تويولو په واسطه دهغه مځکي څخه ډول ډول ميوې، غلې او دانې لاسته را وړي او په ورځني ژوند کي دهغو څخه ګټه اخلي. زموږ دهقانان وروڼه دخپلو لاسونو په تښا کو موږته ډول ډول سابه، غلې او ميوې تياره وي، چي په ځينو سيمو کي دخلکو ټول اقتصاد هم پردهقا نی ولاړ وي او په هغو سيمو کي خلګ ډول ډول حصلات دخپلو مځکو څخه ټو لوي، چي په دي حصلاتو کي په يوشمېر سيمو کي ځيني دهقانان په خپلو مځکوباندي نشيي توکي هم کري،دا کار دهغه سيمي خلکوته دزيان رسيدو لامل کيږي او په هغو سيمو کي چي نشيي توکي کرل کيږي، ډېر خلګ په نشيي موادو رو ږدي کيږي، دا روږدي کسان دټولني داوږو بارکيږي، هغه ټولني ته ستو نزي راولاړوي او هغه ټولنه په يوه ورسته پاته ټولنه بدلوي.هيڅ وخت موږ بايد په خپلو ځمکو کي نشيي تو کي ونه کرو: حلال او روا کښتونه وکرو تر څو يوخومو خپلواولادونو اوکورنيوته حلاله روزي تياره کړي وي اوبل مو الله(ج)هم دځانه څخه راضی کړی وی.*هغه او به چي مو ږاو تاسو خپلي ځمکې او باغونه په خړو بوو، کومې اوبه چي دويالو،ولو چنيو او کاريزو نو څخه په لاس راځي دا ډول او به په زياتو سيمو کي عامي يادټولوځمکوالو،بڼوالو لوحق وي: بايد دا اوبه دهقانان په خپلو منځو نوکي په مساوي ډول وه ويشي دمځکي دکميت سرسمی هر دهقان ته خپله اندازه اوبه ورسيږي.دا د اوبوداتقسيم(ويش) بايد د دحقانونوترمنځ عادلانه وي، ترڅوهربڼ اوځمکي ته اوبه په برابرډول ورسيږي اوشاړي ځمکي پاتي نه سي.هيڅ يودحقان بايد دبل دحقان اوبه بيله دي چي دهغه څخه اجازه وانه خلي، ونه لګوئ ياپه بله معناخپله ځمکه په خړوبه نه کړې. ډېر وختونه د دهقانانو ترمنځ داوبو دلګولو په سر سره شخړې او جنګونه وي: ددې لپاره چي ددې شخړومخه ونيسو او ټولو ځمکو ته اوبه په مساوي توګه ورسيږي بايد داو بو لګولولپاره يو سم ويش سوي وي او يو دبل حق نه وي خوړل سوی.*دمځکو ويشونه بايد ځمکه لرونکي په ډېرو او نورو نه خرا بيدونکو توکو سره په نښه کړې،**



۱- صحيح مسلم حديث ګڼه 3969

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ترڅو پـه را تلـوونـكى وخـت كـي دمځكودپولو،دويشـونو پـه سر سره اخـتلا ف رامنځته نه سي او دهريوه ځمكه درلودونكي دمځكي اندازه معلومه وي.**

## دويم تجارت:

**په تجارت كي رانيول او خرڅول دواړه كيږي تجاران بايد داجناسو(توكو) په خرڅ اورانيولـو كـي دانصـاف څخـه زياتـه ګټـه ونـه كړي.پـه پلـور اوپيـر خرڅولـو او رانيولــوكي فريــب اوچــم ونــه كــړي او يــوه مناســيبه او وړګټــه بايــد لاســته راوړي،رسـوالله (ص) فرمـايي فريـب(چم) پـه دوزخ كـي دي څـوك چـي داسـي كاروكړي چي موږنه وي كړي هغه مردود دي.①**

**تجاران بايد خپل مالونه دزيات وخت لپاره زيرمـه نـه كړي،احتكارونـه كړي ځكـه دمالونو،توكو په زيرمه كولو سره ښايي دهغه توكي قيمت كښته (كوز) لاړسي او ياهم خراب سي او تجار ته تاوان ورسيږي اويا هم كيداى سي چي پـه هغـه سيمه كـي داجناسـو كمـى محسوس سـي او عـاموخلكو تـه زيـان ورسـيږي.تجاران بايد توكي ددې لپاره زيرمه نه كړي چي دوى دهغه پـه زيرمـه كولـو سره دهغـه جنس (توكي) قيمت پورته كړي،دا كاراحتكار داسلام دنظر هم ناروااګڼل سوى دى***

**تجاران بايد هم صادرات او هم بايد واردات ولري،كه په ساده ډول سره وويل سي كه تاسو ديوې سيمې او سيدونكي ياست :تاسو خپل دسيمې پيداوار نـورو سيمو ته وليږده وي او دهغو سيمو پيدا وارخپلو سيمو ته را انتقال كړئ په دې كـاركولو سربه ستاسـو دسيمو پيـداوار پـه فروش ورسـيږي او هغـه تـوكي چـي ستاسـو پـه سيمه كي په اسانۍ سره نه پيدا كيږي ،داستونزه به هم دمنځه ولاړه سي او خلګ به په اسانۍ سره هغه جنس (توكى) په خپله سيمه كي وموندي.**

**راسئ چي خپل ټول كارونـه او كسبونـه يوا زي ددې لپاره نـه چـي موږ خپل ځان ته ګټه او فا يده په ورسوو ونـه كړو، بلكـي خپلـې ټولـې ټولنـي تـه دخدمت وړ او ګټه رسوونـكي وګرځي و اوسو او خپل ټول كارونـه اوكسبونـه پـه ډېرشـوق اوعلاقـه سره ترسره كړو،هيڅ وخت په كښې سوستي ونـه كړو، دخپل هيواد او خلكو سره دخپلو دندو اوكسبو نوپه مرسته ،كومـك وكړو او خپـل هيـواد او ټولنـه دپرمختګ سمت ته ټيل وهو.داهم بايد ديـاده ونـه باسوچي الله (ج) زموږسره دنيكـى اوبـدۍ ديوې زرې حساب كوونكى دى. هله به مـودواړه جهانونـه روښـانه سي چي خپل ځان اوكورنۍ ته دحلالوكسبونو او كارونو په مرسته حلاله روزي پيداكړو اوټولـو اسلامي احكاموته ژمن اوسو.هيڅ وخت بايد دخپل هيوادسره جفا او خيانـت ونـه كړواوټول هغه كسان چي بيكاره دي او كارنـه لري بايد خپلو ځانوتـه كارپيدا كـړي اود يادوكسانو سره بايد دهغوى ټولنه اودولت هم درخپلـه وسـه دكارپـه مونـدلوكي مرسته وكړي، ترڅو بيكاري نـور پـه ټولنـه كـي پـاتي نـه سـي. انسـان پـه كـاركولو سره ښه ښكاري او هريو انسان بايد يو كسب،كار زده او وكړي، ترڅو خپل ژونـد په خو شحالۍ پرمخ بوزي اوخپل ځان اوخپلې ټولني ته ګټه ورسوي.**



١- صحيح بخارى كتاب البيوع60باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وخت بې ځایه نه تیرول،د وخت ارزښت

خپل وخت باید په داسي کارونوکي تېرکړو، چې زموږ ټولنې ته ګټه رسوونکي تمام سي. ګټه لاسته راوړل دې ته نه وائي چې موږ دحرامو او نارواکارونو په کولو مال، دولت او شتمنۍ لاسته راوړو، دخپل مسلمان ورور سره ظلم وکړو او یاهم خپل ځان او ټولني ته زیان ورسو. الله (ج) انسانان یوازي او یوازي دعبادت لپاره پیدا کړي دي!

په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ الذّاريَات : 56ایات ولولی .موږته راکول سوی هغه وخت چي موږ په هغه وخت کي حلالـه نفقـه لاسته راوړو نیـک کارونـه په کښي کوو، دخپلومسلمانانو ورونو سره مرسته کوو هم لوی خدای (ج) زموږ څخه انشاءالله په عبادت کي شمېرې او موږته یې اجرونه راکوي.

خپل وخت با ید په داسي ډول سره تېر کړو چي لوی خدای(ج) راڅخه خوښ (راضي) او دهغه بندګان را څخه ازارنه سي.خپل نفس او بدن دواړه مو باید په پوره واک او اختیارکي وي.

پوهان وایي وخت سره زر دی دلاسه یې مه ورکوئ. وخت دروانو او بو په شان دی او دهیڅ چا انتظارنه کوي. ځینې انسانان خپل وخت په داسي ډول سره تیره وي: چي لومړی خو خپل ځان او ورسته نورو خلکوته زیان په کښي رسوي، چي داسي وخت ته موږ زموږ هغه وخت ویلي سو چي زموږ دبربادۍ اوزیان سبب سوی دی.

یادسوی وخت زموږهغه وخت دی چي زموږ په ژوند کي بې معنا او بې له کومي ګټې تېر سوی دی اوموږ په مثبت ډول خپل دهم هغه وخت څخه استفاده نه ده کړي.دیوه کاردکولو څخه مخکي موږ باید یو ځل هغه کار دخپل عقل، دماغ اوزړه په تله کي تول کړو او ورسته درپوره کتنې اوغوړهغه کارسرته ورسوو،دا باید وسنجو چي کوم کار یاکړنه چي زه یې کوم ښه کار دی که نه، ما زما ټولنې اوهیواد لپاره مې په دې کړنه کي زیان نغښتی دی که نه،که مثبت اړخ درلودونکي دنیکۍ کړنه وه باید په پوره عظم اوکلک هوډسره یې سرته ورسو او که چیرې زموږپه کړنه کي بدۍ نڅاکول دیادې کړنې دکولو څخه باید په کلکه ډډه وکړو.

دیوه بد او خراب کاردکولو ورسته پښیماني کول او فکرکو ل ګټه نه لري. دکار یاکړن دکولو څخه مخکې باید زړه، دماغ اوعقل په کارواچوو، تر څو خپل په کړیوو کارونو کي پاته رانه سو او ورسته راته زموږ کارونه موږته دزیان آله ونه ګرځي.

یوانسان باید خپل مرګ اوژوند یاپه بله معنا د دواړونړیووژوند په نظرکي ونیسي او ورسته دهغه څخه خپل کارونه پر مخ بوزي.موږ او تاسو ته دو خت قدر هغه وخت معلو میږي چي کله وخت زموږ څخه تېر سي اوموږ په تش میدان کي یوازي پریږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږاوتاسوبايدپه هيڅ ډول خپل وخت په بې معنا او عبس کارونو کي تېرنکړو او تل خپل وخت په داسي ډول سره تېر کړو چې خپل ابدي نړۍ، هيواد ، ټولني او خپل ځان ته ګټه ورسوو.

موږ او تاسو ته دانه ده معلومه چې موږ ته څوندي وخت دوخت دمالک الله (ج)دلوري انعام سوی دی. ښايي زموږ وخت همدغه اوس پای ته ورسيږي اودبدن پاچازږه مو نورخپل ځګيروي ودروي دتل لپاره دمه غوره کړي اوموږ دخدای(ج) حضورته ستانه سو.

هيڅ وخت بايد داسي ګومان ونه کړو چې موږ به لاهمدلته يوو نه به ستنيږو موږ به يو اودا ددې نړۍ عيشونه اوچاري به وي! په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ آل عِمرَان : 185نمبرايات ولولی.موږ او تاسوبه داهم نه وايوو چي،دا وخت خولا زما لپاره وختي دی نارواکارو نه به کوم کله چي مې ځواني پای ته ورسيدل توبه به وکاږم اونيکوکارونوته به بدې راونغاړم ،داتحليل،دافکر او دا احساس يوازي اويوازي دابليس دخواتيرايستنه (غولوونه) ده نورهيڅ هم نه.

موږ اوتاسوعجزه بندګان يوو، دخپل مرګ او ژوند څخه خبرنه يو،که ماشومان يوو که ځوانان يو اوکه ضعيفه او دډېرعمر خاوندان،ددې لپاره چي زموږ وخت معلوم نه دی، علم زموږ دوخت ددوام اوخلاصون زموږسره نه دی:بايد خپل يوه ثانيه وخت هم په بې ځايه ناروا او عبس کارونوکښي تېرنه کړو او تل بايد خپل وخت په نيکو او ښه کارونو کي ولګوو.

سيده (نيغه) لاره غوره او وي موندو تګ پري وکړو، نورو خلکوته هم سيده لاره وښيوو اوپرهغې باندي په تګ کولوکي ورسره درخپله وسه مرسته وکړو.

وخت دهيڅ يوه ساکښ انتظارنه کوي. وخت پر هر چاتيريدونکی دی، که يې هغه چيرې په نيکۍ کي يې تېروي او که يې په بدۍ کي، الله (ج) انسانان دخپل اختيارکړي دی که ښه کوي او که بد. په حقيقت کي دا دونيا موږ ته يو مثال اوازموينه ده .

نوبياولي موږخپل آبدي ژو ند ددې نړۍ په ښاکيدونکو خوشحاليوو او هستيو برباد کړو،ځانونه داور لايقان وګرځوو او جنت هېر کړو. که څه هم موږ او تاسو ټول مسلمانان دالله(ج) څخه دجنت غو ښتوونکي يوو مګر الله(ج) جنت هغه چاته ورکوي چي په دې دونيا کي نيکۍ کوي او دبدۍ څخه ځان په امان کی ساتي، د الله(ج) اودهغه درسول حضرت محمد(ص) پر لاره تګ کوي او هغه شيان چي ناروا ګڼل سوي دي، دهغو څخه پرهيز کوي اونه يې کوي.

موږ او تاسو بايد راکړل سوی وخت دالله(ج) يو نعمت او تحفه وګڼو، دوخت څخه پرځای پوره سمه ګټه واخلو، هيڅ يې بې ځايه مصرف نه کړو او دوخت قدر،احترام (درناوی) وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځوانان

ځواني هغه وخت ته ويل کيږي، چې انسان نه بوډا اونه ماشوم وي،ددې دووحلتو تر منځ وي.
ځواني هغه وخت دی چې ځيني انسانان دمغروري او جزباتو څخه ډک وي، ددې لپاره چي خپله ځواني ښه وساتو نوبايد خپل نفس، بدن دواړه په خپل واک کی ولرو او پري نږدو چي دنفسي خوهيشاتو په دام کي راګير اوداسي کارو نه وکړو چي هغه داسلا مي شرعت او زموږ دکلتورپه خلاف اوضد وي .خپله ځواني بايد دنورو خلکو سره په مرسته کولو ،دخپل هيواد په ابادولو، دعلم په زده کولو اونورو ته دعلم په ښوولو، دنيکو او ښوکارونو په کولو تېره کړو،نه دا چي دخپل قوت(پياوړتيا)څخه په استفادي ناسم کارونه وکړو او زموږ داکارونه يوه کس او زموږ ټولني ته زيان ورسوي.
ځوانانو زموږ خلک زموږ ټولنه او زموږ هيواد موږ ته ډيره اړتيا لري، موږ او تاسوځونان ددې هيواد دملا تيريوو، راسئ چي خپل وخت مو په بي ځايه کارونو کي تېرنه کړو، خپل هيواد ته خدمت وکړو.
ځوانانو که موږ خپله انرژي په نيکو کارونو باندې مصرف کړو، نوبيله شکه موږ به په دونيا او اخرت کي کامياب سو. راځئ نور ددې درانده خوبه راکښينو او سترګي وغړو چي زموږ هيواد زموږ څخه څه غوښتنه لري،ولې زموږ ولس دنورو خلګو کومک (مرستې) ته محتاجه دی ياوي،ولې اوس هم موږ يوه ورسته پاتي ټولنه يوو،ولې مووخت لاسونو ته ولچکي راچولي دي اوولې موږ پرخپلو پښونه سو دريدلی، علت يې څه شی دی، آيا موږ دنورو ټولنو دځوانانو څخه بي قوته يوو، آيا دماغونه مو دهغو په پرتله کوچني دي؟ که داسي نه وي نو بياولې موږ په دي حال کی يوو؟
هو ځوانانو موږ دهغو څخه کمزوري نه يوو، زموږ دماغونه دهغو څخه واړه نه دي، مګر ځوانانو موږ بي سيواده يوو، موږ اوس هم دعلم،پوهې دزده کولوڅخه بدوړو،دعلم،پوهې کولواوحصلولو څخه بي پروا يوو او صرفی نظر يې ګرځوو.
زموږ ترمنځ زموږ رقيبان زموږجلاوالي ته لمن وهي،موږ ډيرې وخت په يوه خوله نه يوو،يعنې ترمنځ مويوالي نه وي. راسئ دټولو څخه لومړی علم ،پوهه وکړو، تر څو موږ بيناسو او په ليدونکوسترګودانړی ووينو، بله داچې موږ او تاسو په خپلو منځونوکي اتفاق (يوالي) نه لرو او بي اتفاقه يوو پر يوه وړه خبره ديو بل سره شخړې کوو، اوآن دردې چي ديوبل په ټپي کولو او وژلو لاس پوري کوو،ديوبل احترام نه لرو،دمشرانو اوپوهو خلکو سره مشوره او مصلحت نه کوو، په دې تلاښ کي يوو چي څنګه ناروا اوناسمو کارونو ته لاس رسي پيدا کړو، دبي ځايه او بي ګټي کارونو په کو لو خپل وخت تېرووو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ دخپل ژوندڅخه يوه ورځ وسنجوو چي ما په دې ورځ څومره ښه او څومره بد کارو نه وکړل؟
څوندي ګټه مى خپل هيواد ته ورسول او څوندي ګټه مي خپلو خلکو او ټولنې ته ورسول، څوندي ګټه مى خپل ځان او کورنۍ ته ورسول او څوندي ګټه مى داخرت لپاره پر يښودل؟
ددې ټولو دتحليل،ارزولو اوسنجولو ورسته موږ ته دا معلوميږي چي آيازه يو ښه کس يم او که بد.
راځئ هره ورځ د اسلام دمبارک دين خپل هيواد او خپلو خلکو لپاره يو څه نه يو څه وکړو، ترڅو خپله ديني او هيوادنۍ فريضه موپر ځاى کړي وي.
ځوانانو راځئ نور دبي ځايه ناستو او ولاړو څخه ځان وساتو.
ځوانانو راځئ نورخلک دناروا او نامشرع لارو څخه راوګرځوو.
راسئ ځوانانو دخپل هيواد آبادۍ ته ليځي را ونغاړو او پري نږدو چي نور خلک زموږ هيواد راخراب کړي او په دې هيواد کي شر پيښ کړي.
راځئ دهيواد په پرمختګ کي دځانه ميرانه وښيوو،دا هيواد دنړۍ دهيڅ يو هيواد څخه پس پري نږدو.
ځوانانو هيڅ وخت دافکرمه کوئ چي موږ وړتيا نه لرو، هر انسان ځان ته ځانګړې وړتيا وي لري، چي لوى خداى (ج) په هغه شخص کي ايښې دي، خو موږ دا وړتياوي نه استعمالو ګټه نه تري اخلو ځکه ځان راته بي کاره او بي ګټې کس معلو ميږي، موږ دهرکاروړتيالرو خومخه مو زموږ ويرې ډب کړي ده.
يو کس په يوه کار کي ماهيره اوبرلاسى وي،بل کس بيا په بل کسب اوکار کي وړتيا لري، ټول انسانان په يوکار او کسب کي ما هيره او پوه نه دى.
هر انسان ځان ته ځانګړې وړتياوي لري، يو څوک يو کار په ښه تو ګه سرت رسولى سي، بل څوک بيابل کار په ښه توګه سرته رسولى سى.
راسئ ځوانانو نور دخپلو ځانونو څخه وړتيا وي وښيوو او تل ګټه رسوونکي انسانان واوسو. راسئ هيواد پاله او دخګو خدمت ګاران اوسو.
هيڅ وخت بايد زموږ دلاس اوژبې څخه نورو انسانانوته زيان ونه رسيږي.
محمد(ص)فرمايې: (مسلمان هغه دي چي نورمسلمانان يې دژبي اولاس دزيانه خوندي وي)①
موږمسلمانان اوپه ځانګړي ډول بياځوانان بايدښه کارونه وکړو، ترڅو لوى خداى (ج) راڅخه راضي(خوښ)وي او په ټولنه کى ديوښه شخص په توګه وپيژندل سو.



۱- بخارى کتاب الايمان حديث کڼه10

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیک اخلاق او ښه سلوک

موږ ځینې وخت دځینو ستونزو سره مخ کیږو او بیا زموږ دماغ دهغه ستونزو لـه عمله دې حال ته رسیږي:چې موږ ته غوسه راځي او دغوسې له عملـه موږښايي د نورو انسانانو توهین(سپکاوی) وکړو، پـه دې کارکولو سره موږ ددوستانو او نورو خلکو زړونـه ازاره وو، په دې ډول بې ځایه او هر وخت غوسـه کیدلو سره نـه یوازې داچې موږ خپله ستونزه نـه سو حلولی، بلکې موږ خپل شخصیت تـه هم کلک زیان رسوو. کله چې موږ نوروکسانو ته سپکاوی کوو او هغوی دځان څخـه کم یاکښته بولـو او یـایې هم استعمالوو پـه دې کـارکولو سـره مـوږ خپل ځان تـه سپکاوی کوو

نـه هغه کس ته چې موږ هغه ته سپکاوی کوو،کله چې مـوږ دیـوې ستونزې سره مخ کیږو او دهغه ستونزې له عملـه موږ ته غوسه راځي، په داسې وخت کې مـوږ بایـد خپـل ځـان پـه بشپړډول پـه واک کـې ولرو،هسـې نـه چـې خـدای (ج) مکـړه زموږ څخـه دا سې خطـا ونـه سې چې بیـا هغه خطـا نـه سو جبرانـولی، او یـا هم داسې یو خبره وکړو چې پـه هغـه خبـرې سره زمـوږ دوست او یـا هم بل مسلمان ورور را څخـه ازارسـې محمد(ص)فرمایې:(مسـلمان هغـه دې چې نورمسلمانان یې دژبې اولاس دزیانـه خوندي وي)① هیڅ وخت پر خپل دماغ دومره زور اوفشار مه راولئ چې ستاسوفکر دناسم کـار کولـو پـه لـور وخوځـوي، هتمن داسـې ډیر کارونـه،کړنې سته چې مـوږ تـه دې غوسـه راولـې ،پریشـانه دې مو کړي او مـوږ دې پـه تکلیف کړي،مګر ددې هرڅـه سربیره مـوږ او تاسو بایـد حوصلـه (زغـم) ولرو او صبر وکړو.

دیو چا دغلطې او خرابې خبرې جواب ژرمه ورکوئ، فکروکړئ او ورسـته دهغـه خبرې جواب پـه پوره هوښ سره ورکړئ.

کـه چیرې تـاسوژر او بیلـه ځنـډه هغه کس چې نـاسمه وینـا یـا خبـره یـې کـړې ده، جواب ورکړیاو تاسو هم هغه تـه نـاسمه خبره وکړئ، ستاسو او دهغه کس تـر منځ تـو پیر ونـه سو او هغـه کس چـې نـاسمه وینـا یـاخبره یـې کړي ده هم دپښیمانی احساس پـه هغه صورت کـې نـه کـوي کـوم وخت چـې تاسو دهغـه خبـره ورغبرګـه کړئ. کـه چیرې تاسو دیو چا دبدې خبرې جواب پـه سمه خبره سره ورکړئ: هغـه کـس خپلـه خپـل پـه خبـره پښـیمانـه کیږي،ستاسـو دښـو اخلاقـو تـاثیرفورًپرهغـه غورځیږي او بیاپـه راتلوونکـي وخت کـي دا ډول خبره اووینا نـه تکراره وي.

دبدی جواب پـه نیکـی ورکـوئ او هڅـه مـه کـوئ چـې دبدی جواب پـه بـدی کـولـو سره ور کړئ.

پـه خپلو خبـرو او کـړو وړو کـې دشـدت (سـختی) او غوسـې څخـه کارمـه اخلئ،تل هڅه کوي چې پـه خبـرو او نـورو کـړو وړو کـې صبر او حوصلـه ولـرئ، ترڅـو پـه ټولنـه کې خلک در څخـه دخوښـې احساس ولري. کـه مو ړچیري غلط (نـاسم) کـار او یـا هم یو چا تـه غلطه خبره وکړو،نوبیا دهغه څخـه ورستـه پـه خپل



۱- صحیح بخاری کتاب الایمان حدیث کنه10

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي عمل پښیماني څرګنده وو او ورسته په خپل کړي کارافسوس کوو، نو باید مخکې له دې چې موږغلطي وکړو لومړی باید ژورفکراوښه غور وکړو، ځکه دغلطۍ کولو ورسته پښیماني هیڅ کومه ګټه نه لري. که غواړو چې په ټولنه کې دعزت وړ وګرځو او نور خلګ را څخه راضي اوسی : باید دغلطو اوناروا کارونو،دبي ځایه، بي معنا، اوبیګټې خبرو، غوسې او نورو،ورته ناوړه کړنو دکولو څخه ځا نونه په کلکه وساتو، تر څو لوی خدای(ج) را څخه را ضي، خوښ اوسی.
په هیڅ ډول هیڅ وخت اوهیچاته زیان مه رسوئ او هیڅوک دځان څخه مه خفه کوئ، دهغو کسانوپر واړاندې دنرمۍ او ښه چار چلند څخه کارو اخلئ کوم کسان چي بد اخلاقه، فاسقان، بداو ناروا کارونه کوونکي خلګ وي، تر څو هغوی ستاسو دښه چار چلند څخه زده کړه وکړي خپل ځان په بدو اونارواکړنوکولو سره بد او ګرم وبولي او بیا خپل مخکني ناروا‌کړني تکرار نه کړي.
لوی خدای(ج) عزت او شرافت په مغروري کي نه دی ایښی،عزت یي په تواضع او عاجزي کی ایښي دی، مګر ځینې انسانان عزت په بد اخلاقیو،بدو خبرو کولو او مغروري کولو کي بولي اولټوي یې،دوی دا فکر کوي که زه دا ډول کارو نه وکړم نو خلګ به ماته دعزت اودرناوې په نظر وګوري، مګر هیڅ وخت هغه کسان چي مغروري کوي، بد اخلا قه وي او نورو انسانانو ته زیان رسوونکي وي دعزت او قدر وړنه سي کیدای،بلکي هغه کسان عزت منده او دقدروړدي چي عاجزه وي، اخلاق ولري،بدې اوناروا خبرې او بدکارونه کوونکي نه وي،دنورو خلګو سره مرسته کوونکي وي! په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوۡرَۃُ لقمَان۱۸ :نمبرایات ولولی.الله جل جلا له دخپلو بندګانو عاجزي خوښوی! په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوۡرَۃُ الفُرقان :63 نمبرایات ولولی.که چیرې موږ او تاسو په ژوند کي ښه کارونه نه کوو بد اخلاقه انسانان یوو او دافکر کوو چي موږ په خپله ټولنه کي دعزت خاوندان یوو، نو باید دا فکر دخپلو مغزو څخه دتل لپاره وباسو، ځکه هر انسان ددې غوښتوونکی دی چي نوروګړي ورسره ښه او نیک سلوک وکړي.دنورو خلکو زړونه موږ په ښه چار چلند او ښو اخلاقو خپلولی سو نه په بد اخلاقۍ او بده رویه کولو سره. متل دی چي وایې ښه خوئ دزړونوښکارکوي.
زموږ او ستاسو ژوند دومره نه دی اوږد، چي دیو بل سریې په کرکې او کینه کولو کي تېر کړو. راسئ چي نور په خپلو منځو نوکي کینه، بغض،نفرت،کرکه اوتبعیض دمنځه یو سو یو دبل سر دا لنډ او دستو نزو څخه ډک ژوند په مینه اتفاق (یوالي) او ورور ولۍ کي تېر کړو او دځان څخه خیر رسوونکي اخلاق لرونکي او حوصله لرونکي انسانان جوړ کړو. راسئ نور دخپلې ټولنې داو سیدونکو زړونه، ورازار نه کړو او د دوی زړو نوته خوشحالۍ وروبخښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه او غوره خلګ هغه دي چي په خپلو ټولو چارو اوکارونو کي دنیکو،ښو اخلاقو درلو دونکي اوسي، نیکي کوونکي اسلامي احکام منوونکي مؤمنان وي. موږاوتاسوبایدتل دیوبل سره ژوند په ښه چار چلند کولو کي تېرکړو،دیوبل په مرسته دازمینه برابره کړو چي زموږ او ستاسو ټولنه دکینې، بغض او دژوند دټولو مشکلاتو څخه لیري پاتـه سي، اود ټولني ټول اوسیدونکي مو په مینه،ورورۍ او دوستۍ سره ژوند پر مخ بوزي .

---

## مرسته کول

مرسته کول دانسانانو ترمنځ مینه او محبت پیدا کوي، دوستۍ ته لاره هواره وي، کینه دمنځ وړي او دولسونو ترمنځ یوالي ته لاره پرنیزي.

سلامي، انساني او ټولنیز ژوند دا موږ ته را ښيي چي باید دیوبل سره مرسته وکړو، یو پربل مهربانه واوسو، انسان هیڅکله په ځان بسیأ کیدای نه سي، په ژوند کي خاماخا محتاج او اړ مند کیږي، یوازي لوی خدای (ج) دځانه پوره او بل چاته محتاجه نه دی. انسانان باید دخپل انساني کرامت پر بنسټ دیوبل سره مرسته او همکاري وکړي. داسلام مبین دین موږ په مرسته کولو امر کړي یوو او دایې راته ښوولي چي څنګه دیو بل سره مرسته وکړو! په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ المَائدة : 2ایات ولولی.په مرسته کولو سره دانسان روح ته ارامي ور بخښل کیږي، انسان دخوشحالۍ احساس کوي او هغه کس چي موږ ورسره مرسته کوو هم راڅخه بي اندازې خو شحاله کیږي.

مرسته کول انسان ته عزت ور بخښي او هغه څوک چي موږ ورسره مرسته کوو دستونزې څخه خلاصیږي.

که چیرې موږټو ل دیوبل سره مرسته وکړو نوټولي ستونزې به مو په خپل وخت حل کړي وي هیڅوک به داسې یو مشکل سره مخ نه وي چي دی دې خپل ځان په ستونزه کي وا چوي او دده دایاده کړنه دي ددې لامل سي چي زموږ ټولنې ته زیان واړه وي.هو موږ کولی سو چي دیوبل په مرسته پر مختګ وکړو اویوه دا سي فولادي کړۍ جوړه کړو چي دماتولو وس یې بیابل هیڅوک نه لري، ځکه دا کړۍ به په هغه هوډ او باور سره ولاړه وي، چي موږ وایو موږ یو بل ته ګټه رسوونکي یوو نه زیان رسوونکي.

موږ په خپله ټولنه کي ډېر رواجو نه او دودونه لرو، راسئ چي ددې ورسته مرست کول او کومک کول هم خپل یو دود وپیژنو چي په دې کار کولو سره به مو په منځونو کي یوالی او ورور ولي نور هم پیاوړي سي اوپه دې به هم وتونیږوچي خپله ټولنه دکړاونوڅخه لیري اوخوندي وساتو. که څه هم موږ افغانان دتاریخ په اوږدو کي یوه داسي ټولنه پاته سوې یوو چي میرني،



صحیح بخاری حدیث ګڼه 6026

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غښتلي په خپلو خبرو ولاړ ،میلمه پاله ټولنه و او تل مو دیوبل په غم او ښادۍ کي ځان شریک ګڼلی دی، راسئ چي اوس هم په ډېره میرانه او پوره اخلاص دیوبل سره کومک او مرسته وکړو.**

**راسئ چي نورو ټولونو ته دا وښیوو چي موږ اوس هم یودبل په غم او خوشحالۍ کی شریک یوو موږ نه پریږدو چي زموږ یو ورور دې په ستو نزه کي وي او موږ دې یې ننداره کوو، بلکي اوس هم موږ دیوبل سره درخپل وس او توانه پوري مرسته کوو دانه غواړو چي مو ږ دې دنورو خلکو لاسونو ته محتاجه یوویا واوسو، بلکي موږ خپله دا توانائي لرو چي خپله پرمختګ وکړو او پرخپلو پښنو ودریږو. راسئ چي په هر حال کي دیوبل سره مرسته وکړو.**

**راسئ چي خپله ټولنه او هیواد نور ددې کړاونو څخه خلاص کړو او مرسته کول خپله فریضه وګڼو. راسئ چي خپله ټولنه ددې په مفهوم وپوهوو چي موږولې مرسته کووو؟ که نن ورځ دیو چا سره دهغه داړتیا په وخت کي مرسته وکړو،نوسبا ورځ هم هغه کس دبل کس سره مرسته کوي، په یاد کارکولو سره به موږ ټولو دیو بل سره مرسته کړي وي.**

**راسئ چي خپلوځانونو ته په ټولنه کي داسي یو ځای ومونډو چي کله سبا ورځ موږ نه یوو نوخلګ موکمي احساس کړي او ووایې چي خدای (ج) دې پر هغه چا ورحمیږي چي زما سره یې داړتیا په وخت کي مرسته وکړل اوخپل ځان یې را څخه ونه سپماوي.**

**راسئ چي خپل دځان سر دا وسنجو، هغه وخت چي موږ روا اوپرځای مرسته دخلکوسره دهغوی داړتیاپه وخت کي کړي وي،آیا موږ به ګټه کړي وي اوکه به مو زیان ځان ته رسولی وی؟**

**موږ په مرسته او کومک کولو سره ځانته زیان (تاوان) نه رسو، بلکي موږ دهغه شخص په پرتله څو چنده ګټه لاسته راوړو چي موږ دخدای(ج) درضا لپار اړ شخص سره مرسته کوو، په نیکوکارونوکي په مرسته کولو سره زموږ څخه انشاءالله خدای (ج) راضي کیږي اودرحمت په نظرراته ګوري.**

**موږ او تاسو باید په نیکو کارو نو کي دخپلو ورونو سره تل مرسته وکړو او هیڅ وخت په بدو او نارواکا رونو کي ورسره مرسته ونه کړو، ځکه که موږ خدای(ج) مکړه دیوه کس سره دهغه په ناروا کار کي مرسته وکړو : موږ به هم په هغه ګوناه کي ورسرشریک سو کومه چې ده کړې ده .پوهان وایي نیکي وکړئ او اوبو ته یې وغورځوئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوستي او ملګرتیا

موږاو تاسو انسانان دخوشحاله ژوند تیرولو اونورو زیاتو چارو دښه سمون لپاره یوه دوست او ملګري ته اړتیا لرو او همدا رنګه په ځینو کارونو او کسبونو کې یو کاري شریک ته ځني وخت اړتیا لرو، چې دیوه کار په ښه سرته رسولو کې راسره مرسته او همکاري وکړي.

راسئ چې لومړی ښه او غوره ملګرې وپیژنو:یودوست هغه چاته ویل کیږي، چې موږ ته ګران وي اوموږ ورسره مینه ولر،موږ هغه ته اوهغه موږ ته دقدر وړوي. داړتیاپه وخت کې دیوبل سره مرسته وکړو په اصطلاح په غم اوخوښۍ کې سره ګډیوو او یوبل ته درناوی لرو.

دوستان کولی سي یو بل ته په ډېره آسانۍ سره دخپل زړه رازونه او خبرې وویلي سي بیله کومې ناباورۍ او ویرې څخه.

کله چې یو کس دکومې ستونزې سره مخ وي یاسي، نو سم دلاسه یې یو دوست راځي او هغه دهغه ستونزې څخه خلاصوي یایې هم دهغه کړاو څخه دخلاصون لپاره هڅه کوي، نه پریږدي چې دوست یې نورمشکلات وګالي، او دنورو ستونزو سره مخ سي.

حقیقي او ریښتني دوستان هروخت دیو بل په غم او خوشحالۍ کې ځان شریک (ګډ) ګڼي اوهیڅکله ځان دیوبل څخه نه سپموي.

موږ به کیدای سي په خپل ژوند کې دداسي اشخاصو سره هم مخ سو، چې هغه په ښکاره ځانونه زموږ ریښتني دوستان اوملګري ګڼي، مګر په حقیقت کې به هغوی موږ ته زیان رسوونکي انسانان وي، موږ ته به په بده لاره تلل رازده کوي، درواغ به راته وایي، ریښتني به نه وي، چم به راسره کوي، موږ به دې ته نه پریږدي چې پرسېده(نیغه) لاره تګ وکړو، تل به موږ ته په مکرخراب کارونه په ښو کارونو راپیژني، موږ به په غلتیو کولوسره لاډېر تشویقوي، دنیکواوغوره کارونو دکولو څخه به مورا ګرځوي، نه به مو پریږدي چی موږ ښه کارونه وکړو اوپرنیغه لاره خپل قدمونه خوځنده وساتو.

داسي اودې ته ورته خویوونه درلودونکي یو کس ته موږ ریښتني دوست نه سو ویلی. کله چې موږدیوه کس سره دو ستي او ملګرتیا کو: نو هیڅکله او په هیڅ وخت کی باید دخپل ملګری سره فریب (چم) ونه کړو، خپل دوست ته درواغ ونه وایوو، خیانت ورسره ونه کړو،په هغو خبرو سره چې زموږ دوست زموږڅخه په خفه کیږي یادونه یې ونه کړو.

هغه رازونه چې زموږ سره یې زموږ دوست شریکوي بل چاته ونه وایوو، بدوکارونو ته یې ونه هڅو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل ورته دهغه غلطي په داسي ډول ګوته کړو چي هغه داسي فکرونه کړي چي دازما شخصيت ته سپکاوی (توهين) کوي، بلکي هغه په داسی ډول سره وپوهوو چي په راتلونکي وخت کي هغه خپله دا غلطي تکرارنه کړي.

متل دی چي وائي دتورې پرهر رغيږي مګردژبې پرهرنه رغيږي.دملګرو په ټاکولو کي بايد دپوره غورڅخه کار واخلو او دخپل ځان لپاره بايد غوره، نيکوکاره او ښه اخلاق لرونکي، ملګري وټاکوو.

دملګرو په ټاکلو کی دقت،غورکول موږ په راتلوو نکي وخت کي دستونزو څخه ليري ساتي، دهغو کسانوسره چي په ناروا او بدو کارونو کي اخته وي موږبايد دوستي ونه کړو، کله څه هم هغوی زموږ څخه په وار وار ددوستۍ غوښتنه وکړي. هغه کسان چي په نشيي موادو روږدي وي بايد هيڅکله هغه کسان چي ددوی سره ناسته ولاړه کوي دي ته ونه هڅوي چي نشيي توکي استعمال کړئ. په نشيي توکو روږدي کسان په دې خبره درهرڅا ښه پوهيږي چي په نشيي موادو روږدي کيدل څومره زيانونه لري،

موږ تل که ښه کار يا بدکارکوو هرومرو د ملګري او يا نژدي دوست سره مشوره کوو، که چيرې زموږ دوست په رښتيا هم دانه غوړي چي موږ بدکاروکړو نو موږ دهغه بدکار څخه را ګر ځوي اونه پريږدي چي موږ هغه بد کاروکړو، دښه کار کولو ته مو تشويقوي،راته ډاډ ګيرنه راکوي، که چيرې يې په توان پوره وه نوهتمن مرسته هم راسره کوي.

زموږښه دوست هغه دی چي موږ په ښو کارونو کولوسره تشويق کړي، دبدوکارونودکولو څخه مو راوګرځوي،يامودرګرځولوهڅه وکړي او پري مونږدي چي بد کارونه وکړو.

دبدو کارونو کوونکووګړو سره ناسته ولاړه اومرسته کول په دې معنا ده چي موږ په هغه کارکي ونډه لرو اوخپله هغه کارونه کوو، که چيرې يو کس تاسو ته دغلط (ناسم) کاردکولو توصيه کوي: هيڅ وخت دهغه کس سره ناسته ولاړه مه کوئ او ژر ترژره دهغه کس سره ملګرتيا پای ته ورسوئ.

راسئ چي دملګرو او دوستانو په ټاکلوکي دپوره غور او دقت څخه کار واخلو او دځان لپاره وړاو ښه دوستان پيداکړو ،ځکه يو کس دهغه دملګرولمخي پيژندل کيږي يايې پيژندلي سو.

ښه ملګري انسان عزت مند کوي. ملګري دې چي يوکس ته ښه لارښوولي اوپرنيغي لارې دتللو توصيه ورته کولي سي.

بد دوستان انسان ته ذلت اوبدمرغي ورکوي، انسان په بدو کارونو کي اخته کوي اوانسان دې ته نه پريږدي چي غوره او ښه کارونه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شراكت، ګډكار

شراكت يا ديوبل په مرسته يو كارپه ګډه پر مخ بيول: دشراكت پـه نامـه يـاديږي. موږ او تاسو ځيني كارونه په يوا زې ځان پر مخ نه سو بيولی اړيوو چي يوكـاري همكار ولرو چي دا همكاري زموږ سره مرسته كوي چي په كـارونو كی پرمختګ وكړو او ديوبل په مرسته لوی او واړه كارونه پرمخ بوزو.

موږ بايد دخپلو شريكانو،همكارانو سره ريښتني آمانت ساتوونكي او وفـاداره و اوسو او پـري نـږدو چي زمـوږ پـه بـي غـوري دي زمـوږ كـارې شريک تـه زيـان واوړي.

كلــه چــي مــوږ يــوه پريكــړه كــوو يــاكوم كــار پيلــوو او يــاهم يوكــار كولــو تــه امادګي(تياری) نيسو: لومړی بايد دخپل كـاري ملګـري سره مشوره وكړو او بيا ديوبل دنظر په اوريدلو سره يوه پريكړه وكړو،په دې كاركولو سره بـه مـوږ دخپـل شراكت دواړه خواوي دستونزو څخه ليري پاتې سو او په كارونو كي به مو كومـه ستونزه اوخنډ منځ ته نه راځي.

كله چي دوه يا هم څوتنه سره شريكان وي او دوی خپل په منځ كي هم غږي و نه لري او بيله خپل منځي مشوري كارونه پر مخ بيايي، نوهرمرو ددوی پـه كـارونو كي خنډون رامنځ ته كيږي او ددوی ترمنځ ګډكار ته په كښې زيان رسيږي.

لكه څنګه چي زموږ كاري همكاران زموږسره پـه تـاوان كـي شـراكت،ګډون لـري او په كار كي مو هر ډول تاوان راسره وړي نو همداسـي دوی زمـوږ سره پـه ګټـه كي هم شريكان دي اوموږ حق نه لرو چي ددوی څخه په پټه يـوه كـوچنۍ پريكـړه لا هم وكړو.

كله چي دوه كاري همكاران پر يوه او بل باندی بي باوره وي او پر يـو بـل اعتمـاد نه لري نو ژر ترژره دې خپل شراكت ته دپای ټكی كيږدي او نور دې په ګډه سره كارونه پرمخ نه وړي، ځكه په هغه كار كي خير او بركت نه وي پـه كـوم كـار كـي چي همغږي ،اعتماد او مشوره نه وي.

كــه غــواړو چــي پــه ګــډه كــار وكــړو نــو بايــد دخپــل ځــان څخــه ريښــتنيي، آمانت،سـاتوونكي ،وفـاداره، دصـبر درلـودونـكي، اودرواغ نـه ويـونكي انسـانان جوړكړو.

موږ او تاسو كولی سو ديوبل پـه مرسـته هغـه كارونـه وكـړو چـي كولـو تـه يـې پـه يوازی ځان سره نـه سو وردانګلی او پرمـوږ بيلـه كـوم چـا دمرسـتې څخـه درانـده وي.

راسئ چي خپلې وړتياوې ديو بل سره شريكي كړو او پـه ګډه ديـو بـل پـه مرسـته ناشونې كړنې شونې كړو.

ګډه پريكړه،يوغږ او مشوره غرونـه نړه وي.

په ګډ كاركولو سره موږ هوسائي احساسـه وو اوهمدرنګـه دژونـد پـه ټولـو چـارو كي به بريالي يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګدايي يا فقر کول

انسانان دژوند داړتياوو دپوره کولو لپار وځينو توکو او سامانونو ته اړتيا لري ،چې ځيني انسانان دژوند داړتيا وړتوکي لري او خپل ژوند په هوسا اوارام ډول پرمخ بيايي، خوځيني نور انسانان بيا دژوند داړتياؤ په پوره کولو کې دستونزو سره مخ وي، او نه سي کولی چې دژوند دا اړتياوي په آسانۍ سره پوره کړي.

هرانسان اړ دی چې کار وکړئ او خپل ځان او کورنۍ ته حلاله روزي پيدا کړي لوی خدای(ج) دخپلو ټولو مخلوقاتو سره وعده کړي ده چې ټولو ته به رزق ورسوم او هغوی به وږي نه پريږدم! په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره د سُوْرَةُ هُود : 6نمبرايات ولولی.مګر دا په دې معنانه ده چې موږ انسانان دې دژوند داړتيا وو دپوره کولو لپاره هڅه او کوښښ ونه کړو او ټول ژوند دې بيله دې چې کار وکړو تېرکړو.هر انسان بايد خپل او دنورو دښه ژند دتيرولو لپاردخپل وس اوتوان مطابق کاروکړئ،حلاله روزي پيداکړی او ځان بيکاره پري نږدي.

موږ او تاسو بايد دخپل ځان لپاره داسي کارونه خوښ( انتخاب) کړو چې هغه کارچې موږ يې کوو داسلام دمبارک دين داحکامو سره په ټکرکې نه وي،يوحلال اورواکسب اوکار وي، دناورواکارونو کول اوخپلې اړتياوي په پوره کول هم کومه ګټه نه لري، بلکې د سترزيان څخه پريمانه دي. هرانسان بايد دناروا او نامشروع کسبونو او کا رونو دکولو څخه ځان وژغوري.هيڅ وخت بايد يوانسان دنورانسانانو لاسونو ته تمعه ونه کړئ او په هيڅ صورت بايد يو روغ انسان فقر ونه کړئ.فقر کول داسلام دمبارک دين دنظر ښه کارنه دی: داسلام مبارک دين ګدايي کول نه خوښوي داسلام دمبارک دين پيغمبر حضرت محمد (ص) به خلګ دفقرکولو څخه راګر ځول او کارکولو ته به يې تشويق کول،ترڅوحلال رزق لاس ته رواړي.له حضرت عبدالله (ض)څخه روايت دی چې رسوالله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:په تاسو کې خلګ فقرکوي تردې چې له الله (ج)سره يوځای کيږي اودهغه پرمخ به يوه ټوټه دغوښوهم نه وي (يعني په حشرکې) (۱)

داسي اشخاص چې کولی سی کار وکړي او روغ او جوړ وجود ولري بايد په هيڅ ډول ګدايي کولوته زړه ښه نه کړې، ځکه دوی هم کولی سي دنورو انسانانو په څير کاروکړي، زحمت وکاږي او حلاله روزي لاسته راوړي.

موږ او تاسو بايد هغه اشخاصو سره چې روغ وي اوفقر کوي دکار په پيدا کولو کې همکاري وکړو هغوی ته کار پيدا کړو يا هم ورته يوکسب ورزده کړو،



(۱)صحيح بخاری حديث ګڼه ۱۴۷۴) صحيح مسلم حديث ګڼه(۲۳۹۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دې ته يي تشويق كړو چي فقركول او دنورو لاس تـه تمعه كول يـاهم بيكـاره ګرځيدل ښه كارنه دی. يوه انسان ته چي لوی خدای (ج) روغ وجود وركړی وي داورسره نه ښايي چي ګدايي وكړي او يا بيكاره وګرځي.
ځيني انسانان داسي هم سته چي ګدايي كول دهغوی عدت ګرځيدلي وي،هغوی دګدايي كولو موتادان سوي وي، سره ددې چي هغوی كولی سي كـاروكړي اوددې زمينه هم ورته برابره وي چي كار وكړي، هتآ ځيني خولاشتمن هم وي مګر ددې سـربيره هـم دوی فقـر كـوي او ځانتــه يــې دا د نــورو انســانانو دمحنــت خــواړه اواجناس ښه ګرځولي وي، ددې څخه خوند اخلي چي ټول عمر دنورلاسونو تـه محتاجه وي.ديادو اشخاصو دانـاوړه كړنـه ځينـي وخـت زمـوږ او ستاسو پـه ټولنـه كي ستونزې پيښوي: هغه انسانان چي زموږ او ستاسو ټولنه دهغوی كـاركولو تـه سختـه اړتيـالري پـه ګدايي كولـو بوخـت وي او ټـولني تـه ددې پـر ځـاي چي ګټـه ورســوي ورتــه زيــان رســوي، دټــولني داوړو بــار ګرځي.فقر(ګــدايي) كــوونكي اشخاص ديوې ټولني درنګ بدی سبب ګرځي،يوه ټولنه دبلي ټولني پـه نسبت كمـه راولي او نورې ټـولني داسـي فكـر كـوي چـي د يـادې ټـولني اوسيدونـكي اشـخاص بيكاره او داسي انسانان دي چي تل به دنور انسانانو لاس ته محتاجه وي.
ټولــه ټولنـــه آړه ده چـــي دفقـــر كولـــو ضـــرورت (اړتيـــا)او يـــاهم دا كـــوچني فرهنګ دمنځه يوسي او خپله ټولنه دفقر كولو څخه خلاصه كړي.
هغه كسان چي كـار نـه سي كولی دهغوی سره مرستي وكړئ او داسـي كوچنـئ ټولنې په وجود راولی چي وخت پـه وخـت دټولنې څخـه خيريـه مرستې راټولي او پرهغو اشخاصو يې وويشې چي نـه سي كولی كـار وكړي،پـه يـاد كاركولوسره بـه ځيني په رښتيا اړ اشخاص دې ته اړنه سي چي هغوی ګدايي وكړي.
هغه اشخاص چي روغ رمټ دي او كارنـه كـوي دسوستئ او لټئ لـه كبلـه اوګدايي كولو تـه زړه ښـه كـوي ، هغوی دې هغواشخاصو تـه متوجي سي چي سره ددې چـي كـاركول ورتــه ســتونزمن وي خوبيــاهم پــه ډېرزحمــت كــاركوي، ورســته دې قضاوت وكړي چي موږ خو پـه بـدن روغ يوو،هغه اشخاص چي معلولـه اويـا هم ضعيفه دي هغوی ددې سره سره چي كاركول ورته زموږ په نسبت ډېر ستونزمن دي، خوبيا هم دوی خپل همت دلاسه نه دی وركړی خپل ځـان او خپلې كـورنئ تـه حلالـه روزي پيداكوي او هيڅكلـه يـې دنورانسـانانو لاس تـه ځـان نـه دی محتاجـه كړي.
كاركول انسان تـه خوشحالي وركوي، انسـان تـه ارمي،هوسـاينه بخښـي ،دانسـان بدن پياوړی كوی،انسـان دنـاروا او غلطو كـارونو دكولـو څخـه را ګرځوی.موږ او تاسو بايد په ګډه او يوازي ډول سره كاروكړو. خپل ځان، كورنئ او خپل هيواد دكاركولوپه مرسته دستونزو او كړونو څخه ليري وساتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډار (ويره) يوازې دالله (ج) څخه په کارده

انسان لوی خدای(ج) داسې پيدا کړی دی چې هغه کولی سي چې ځينې احساسات ولري او ځينو حلتونوسره مخ سي. انسان کولی سي چې مينه وکړي،خپل دزړه په بڼ کې دمينې،محبت بوټي وټومبې اوپالنه يې وکړي. انسان کولی سي چې نفرت وکړي او داورونوسمندرخپل په زړه اوبدن کې په څپو راولي،دوستې وکړي اوديو چا سره کينه ولري، ددې او نورو ورته احساساتو او حلتونو سره سره انسان وهم او وېره هم لري.

انسان دلوی خدای (ج) دمخلوقاتو څخه يو مخلوق دی.دخدای(ج) درضا او اردې څخه پرته هيڅ داسې يوکار نسته چې يو انسان يې سرته ورسوي او ياهم ور سره مخ سي موږ ټوله مسلمانان په ياده سوې خبره ايمان لرو،رسوالله (ص)فرمايلي دي: (...اي الله ! (ج)ستادورکړي منعه کوونکی نه سته اوڅه چې ته منعه کړي ورکوونکی نه سته...)① يوانسان بايد يوازې او يو ازې دالله(ج) څخه وه وېرېږي.

او همدغه يوه وېره،ډار په خپل زړه کې درلودل يو انسان دټولو وهمونو(ډارونو)څخه ګوښه ساتي، دهغه وهمونو (ډارنو) څخه چې يوانسان يې په خپل ژوند کې دمختلفو مخلوقاتو او حلتونو څخه لري.

يو انسان يوازې بايد دخپلو هغه عملونو څخه ډاروکړي چې ناروا وي، او الله (ج) نه وی ورته حلال ګرځولي، دا فکردې وکړي که زه په خپل ژوند کې نيک اوښه عمل (کار) وکړم نو الله(ج) به راته اجر،ثوب راکړي، او که چيرې بداو ناوړه کارونه په خپل ژوند کې وکړم نو خدای(ج) به يې راته سزا را کړي، نور ډول ډول وهمونه (وېرې) انسان بايد ونه کړي، ځکه که دالله(ج) خوښه وه نو يو انسان ته ژوند ورکوي او که يې چيرې خوښه وه نو ورته مرګ ورکوي!په دې خبره دلاښه پوهيدلولپاره دسُوْرَةُ الأَنعَام : 2نمبرايات ولولئ.هيڅ يو شی نسته چې يوانسان ته دې بيله دې چې دالله(ج) خوښه نه وي زيان ورسوي او يا دې هم ورته ګټه ورسوي، که يو انسان ته خير پيښيږي اوکه شر پيښيږي نودالله(ج) دطرفه ورته پيښيږي.

موږ او تاسو خپلو ماشومانو ته ځينې ويرونکي کيسې، نکلونه ،ياحکايتونه کوو چې داکړنه په را تلوونکی وخت کې ددې سبب کيږي چې هغه ويره(ډار) چې په يادو نثرونوکي شتون لري دماشومانو په دماغونوکي خوندي اوپه زړونوکي يې وېره ننوزي اوبيا کله چې هغه ماشومان لوی سي: هم ويريږي چې دا وېريدل ددې سبب کيږي چې دوی په خپل ژوندکي دزياتو ستونزو سره مخ وي ياسې ،اوډېروخت نه سي کولی چې په ژوند کې پرمختګ وکړي،تل دا ډول ځوانان دکمزورئ،ډار،اوبې جوړتئ احساس کوي.

ديو انسان په ژوندکي ترټولو غټه ناروغې ديوانسان بې ځايه وهم او وېره ده،



١- صحيح بخارى: حديث ګڼه 6615

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ او تاسو ته ځيني وخت دداسي کارونو څخه وهم پيداکيږي چي هغه غوره کارونه وي او په کولو سره يې موږ ته ګټه رسيږي،زموږ څخه ځيني,ځني وخت داسي فکر کوي که چيري زه زده کړه کوم او علم لاسته را وړم نو زماپوهه نه زده کيږي،حال دا چي هرانسان داتوان لري چي علم،پوهه زده کړي،مګرداچي موږ په ځان زحمت نه راولو دا بهانه کوو يا ياده وېره راسره وي.

که څه هم موږ بايد هغه کارونه چي کوو يې لومړی ښه وسنجو مګر په هرکار او پريکړه کي موبايد وهم او وېره نه وي، ځکه بې ځايه ډار زموږ څخه دژوند کولو خوند اخلي موږ نه پريږدي چي دځان او ټولنې لپاره خدمت وکړو او تل به زموږ زړه زموږ سره ملګرتيا نه کوي خپل جوړات به مو دلاسه ورکړي وي.

موږ بايد پرالله(ج)کلک توکل ولرو،زموږ دا کړن زموږ دايمانښه ده ،موږهغه جل جلاله ويني او يوازي او يوازي بايد دالله(ج) وېره (ډار) په خپل زړه کي ولرو او نورټول ډارونه دخپل زړه څخه وباسو،

دخدای(ج)يادونه وکړو او په دې خبره مو بايد پوره يقين او باور وي چي خير او شر دالله (ج) دطرفه څخه دي، بل هيڅوک داتوان،وس نه لري چي بغير دالله(ج) دخوښې څخه ماته خير او يا هم شر ورسوي.موږ او تاسو بايد داسي هم ونه اوسو چي پرخپل ځان ظلم وکړو او خپل ځان په خطر کي وا چوو، دځان ساتنه هم هتمي ده، مګر په ژوند کي دهرڅه څخه وهم او وېره هم ددې سبب کيږي چي موږ دستو نزو او کړاونو سره مخ سو.

موږ او تاسو مسلمانان بايد په دې خاطر دالله(ج)دمخلوقاتوڅخه پرحق ډار ونه کړو ځکه چي: بيله دې چي دخدای(ج) خوښه نه وي نو هيڅ کارنه کيږي او نه کومه پيښه منځ ته راځي.موږتل بايد ډاډمن اوسو او په دې بايد پوره باور ولرو چي زموږ ساتنه لوی خدای(ج) کوي او زموږ سره انشاءالله،خدای(ج)په هرکار کي مرسته کوونکی دی.موږ او تاسو ته دا نه ښايي چي په خپله داسي يو حرکت (خوځښت) وکړو چي هغه زموږ دبربادی سبب وګرځي او موږ ته زيان ورسوي.

موږ بايد په ښو او روا کارونو کي ډار دهيڅ يوه مخلوق څخه ونه لرو، په دې خاطرکه چيرې موږ ته په يوه نيک کار کي زيان ورسيږي نو موږ ته دهغه کار اجر انشاءالله را کول کيږي. په ناروا کارونو کي نه ويريدل دامعنا لري چي موږ خپله خپل ځان اورته غورځوو، شجاعت او زړور تو ب په نيکو او ښه کارونو کي استعمالول غوره دي، نه په خرابو او ناروا کارونو کي. موږ بايد خپل ځانونه تل دهغو کارونو څخه وساتو چي په هغه سره زموږ راتلونکي ته تاوان رسيږي.

کيدای سي موږ دخپلې ټولني خراب خلګ په ناروا کارونو کولو سره تشويق کړي او راته ووايې چي ته نه بيريدونکی يی او دا ډول کاربل کس نه سي کولی کوم چي تاوکی، ته يی رښتنی قهرمان، حال دا چي هغه کارونه چي ناروا وي او موږ يې سرته رسوو په هغه سر موږ او نو روخلکوته زيان رسيږي،په حقيقت کي موږ دناروا کړنو په کولوسره ويره ځانته اخلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخرت دعذابونو ویره دتیارو  او اورنوویره ځان ته په خپله خوښه اخلو،موږ باید دبدو کړنو دکولو په وخت کي وډارسو.موږ په هغه کړنوکي باید دوېړې احساس ونه کړو کوم چي هغه کړنې په رښتیا هم غوره، ښه،اودنیکۍ وي، او موږ او نورواشخاصوته په کښې ګټه رسیږي.

موږ باید داخبره تل په یاد ولرو چي الله (ج)موږ ویني او هغه زموږ مالک او واقداره دی، هغه دمحشرپه ورځ حساب کوونکی دی دنیکیوو اودبدیوو. موږ او تاسو باید دالله(ج) او دهغه درسول حضرت محمد(ص)ټول حکمونه پرځای کړو، او یوازي اویوازي دالله(ج) څخه ډار په خپل زړه کي ولرو، او پرې نږدو چي نورې ویرې مو په زړه کي پاتي سي.موږ باید هیڅ وخت داسي انسان ونه اوسو چي په هر نیک کار کي یوه ویره را سره وي،هر هغه څه ته چي کوو یې ورخطا یوو.موږ باید ډاډمن او زړور اوسو او هیڅ وخت خپل زړه ورتوب په غلطو کارونو کي ونه ښیو.

داسي انسانان هم سته چي خپل زړورتوب په داسي کارونو کي ښي چي هغه داسلام دنظره ناروا ګڼل سوي دي.

پرنورانسانانو باندې ظلم کوي، دنورخلکو حق خوري، غلاکوي، قتلونه کوي، چي داډول کسان هیڅ وخت زړور نه سي کیدای، بغیر ددې څخه چي داډول کسان یوازې خپل ځان ته زیان رسوي،که څه هم دوی پرنورو خلکو ظلم کوي مګر په حقیقت کي دوی پرخپل ځان ظلم کوي.

دغلطو اوناروا کارونو کوونکي خلک په دې سرتشویقول چي ګواکي دوی زړور او شجاع دي دهغو کسانو سره ددوی په کارونو کي دشراکت معنا لري. موږ او تاسو باید هغه کسان چي ناسم اوناروا کارونه کوي  تشویق نه کړو، کوښښ وکړو چي دوی ددې کارونو دکولو څخه راوګرځو، هغه کسان په دې وپوهوو چي کوم کارونه چي دوی یې کوي سم نه دي، او ددې ډول کارونو په ګټه کي لا هم زیان نغښتی دی.

راسئ چي په خپل ژوند کي نور بي همته اوبي زړه ونه اوسو،په پوره هوډېرمخ لاړشو ویره دزړه څخه وباسو اویوازي او یوازي دخپلو بدو عملونو څخه وویریږو ، دالله (ج)څخه دخپلو بدو عملونو بخښنه وغواړو او دنیکو عملونو (کارونو) دزیادښت غوښتنه تری وکړو،دحق پلوي وکړو،اودمظلوموااوبي چارو خلکولاسنیوي وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دځان څخه ښه شخص جوړول

موږ او تاسو ټول انسانان په ځان کې بدۍ او ښیګڼې لرو، دا ښیګڼې او بدۍ او کوم کارونه چې موږ او تاسو یې کوو ددې ښکارندویه دي چې موږ دښه او یا هم دبد شخصیت درلودونکي وګڼل شو :اونور خلګ زموږ په اړه په دې خبره پو هیږي چې دا کس ښه انسان دی یا بد.

پوهان وائي چې ستاسو ریښتنی دوست هغه څوک دی چې ستاسو غلطی درپه ګوته کړي درته ووایي چې دغه کار چې ته یې کوې ناسم کار د او دهغه کار څخه دراګرځولو کوښښ مو وکړي،که څه هم کیدای سي دا خبره پر موږ او تاسو بده اغیزه وکړي خو په حقیقت کې دا خبره زموږاوستاسو په ګټه تمامیږي، موږ او تاسو دبدۍ څخه را ګرځوي.

ناسم،خراب ملګرى هغه څوک دی چې موږ غلطو (ناسمو)کارونو ته وهڅوي او ناروا کارونو ته مو تشویق کړي،دداسې خلکو سره دوستي کول ښه او غوره کار نه دی. دځان لپاره باید یو ښه ملګری، یاملګري انتخاب کړو تر څو موږ ورسره دزړه خواله شریک کړاي سو، په دې کړن( کار)کولو سره موږ ته سقون، آرام راپه برخه کیږي.*

راځئ څو هغه کړنې، وپیژنو چې دهغوپه کولو خلک موږ ته داحمق او بې عقل ګومان کولی سي او ورته دا فکر پیدا کیږي چې داکس یوښه شخص نه دی لومړی: دا چې یو څوک خبرې کوي نو باید دهغوی دخبرو په منځ کې ورونه لویږو او په وار اوکراره سره خبرې وکړو. دوهم: په هغو خبرو چې نه پوهیږوباید پر هغو خبرو بحث،مباحثه ونه کړو.

دریم: داندازې څخه زیاتي او بې ځایه خبرې بایدونه کړو.څلورم: ډیربې ګټې تکیه کلامونه باید په خپلو خبرو کې استعمال نه کړو. پنځم: داسي ویوکې (کلمې) باید په خپلو خبرو کې ونه کاروچې نورو خلکو ته په کښي سپکاوی (توهین) سوی وی. شپږم: نورو خلګوته دخبرو کو لونوبت ورکړو.

اووم: خبرې موباید داندازې څخه زیاتي لوړې نه وي، دخبرې کوونکي کس پو ښتونو ته باید پرخپل وخت جواب ورکړو او دخبرې کوونکي شخص خبرې باید سرفي نظر ونه ګرځو،یعني خبرې کوونکي ته باید متوجي واوسو.نهم: خندا راوستوونکي خبرې، یعني غیرې مناسیبي ټوکي موباید په لړه اندازه سره وي.لسم: داسي بدني حرکتونه باید ونه کړو چې په هغه حرکت سره مو نورو خلکو ته سپکاوی کړی وی.

یوولسم: دمغروري کولو څخه باید ځان وساتو په عامه اصطلاح بې ځایه بد معاشي ونه کړو.دوولسم: دموراوپلارخپل خپلوانو بي احترامي ونه کړو.دیرلسم: نشیي باید توکي ونه کارو.څورلسم درواغ، غلا ،زنا،لواطات، قتل، جنګ جګړې، سپکې سپورې،چغلګري، په امانت کې خیانت، چم اوفریب اونوردې کړنوته ورته نارواکارونه باید ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسئ چې په خپلو خبرو عادتونو اونورو کړنو،کارونوکې ځان داصلاح خواته بوزو. راسئ چې خپل ځانونه داسې جوړ کړو چې خلګ زموږ دنیکو اخلاقو، نیکوکارونو او غوره چار چلند دراغیزې لاندې راسي ،داسې چې زموږپه لیدلو، زموږ په درک کولو او تحلیلولو ناپوه او جاهل وګړي هم خپل ځانونه اصلاح کړي،نیک او صالح انسانان دځان څخه جوړ کړي او نور هیڅکله بد او ناوړ کارونه ونه کړئ.

راسئ چې خپل ځانونه دا سې جوړ کړو چې نورانسانان دا فکر(آند) ونه کړئ چې موږ دوی ته زیان رسوونکي وګړي یوو او دوی زموږ څخه لیرې والی اختیار کړي، موږ ددې وړ ونه بولي چې زموږ سره خبرې او دوستي وکړي. یوه بله خبره دلته باید زیاته کړم چې هیڅ وخت یو انسان دده دنیستی، غریبی، بیوسی،کمزوری،کم قووتی،کمواکی، له عمله مه رټئ، سپکاوی ورته مه کوئ، ښه والی او غوره والی دیو انسان په مال،دولت، ښایست، او نسب پورې اړه نه لري، بلکی ښه او غوره انسان هغه دی چې دنیکو او غوره اخلاقو درلو دونکی وی،نورو انسانانو ته زیان رسوونکي نه وي او تل ښه اونیک کارونه کوي.که یو څوک عالم وی او ده دا کړن لاره غوره کړي وي چې دبې علمو او ناپوهو خلکو سره دی نا سته ولاړه نه کوی په دې دلیل چې دا دله خلګ بې علمه ناپوه دي، زماپه آند داکړنه ښه او قناعت بخښونکي کړنه نه ده، عالمان او پوهان خلګ په دې خاطراودلیل باید دبې علمو او جاهلو خلکو سره ناسته ولاړه ولري چې هغوی دې ته تشویق کړي چې علم وکړي او ورته سمه اونیغه لاره په ګوته کړي. موږ او تاسو باید دټولو مسلمانانو ورو نوسره دنیکو اخلاقو او ښه چار چلند څخه کار واخلو او پرې نږدو چې زموږ څخه دې زموږ یو ورور ازار سي.

زموږ او ستاسو په ټولنه کې ډېر انسانان په بدو، خرابو کارونو او عدتو نوکې بند پاتې دي او دوی دهمدې کبله ښه ژوند نه لري،دپوهانو او نیکې کوونکو یوه دنده داهم ده چې لار ورکې پرنځېغو لارو برابر کړي اوپه تاریکیوو کې ورکو ته ډیوې په لاسونوکي ورکړي. موږ هغه وخت کولی سو یو ښه کس دځان څخه جوړکړو چې موږ دخپلې ټولنې داو سیدونکو سره مرسته وکړو،هغوی ته زیان ونه رسوو، دمشرانو قدر،احترام (درناوی) ولرو او پرماشومانو او بې وزلو انسانانو مهربانه واوسو. نورو ته عزت ورکول دا معنالري لکه موږ چې خپل ځان ته عزت ور کوو. موږ به هغه وخت یو ښه کس دځانه جوړکړی وی کوم وخت چې موږخپلو ټولو کارونو ته دکولو څخه مخکې ښه فکر کوو، دخپل کوونکي کارښې اوبدې پایلې په هراړخیز ډول څېړو اوداسنجو چې آیا کوم کار چې زه یې کوم ښه دی زما او زما دټولنې لپاره او که خراب اوزیان رسوونکی کار دی؟ که موږ چیرې مهربانه، مرسته کوونکې، ښه اخلاق درلو دونکي او دناروا کارونو څخه پرهیز کوونکي اشخاص واوسو نو موږ به دالله (ج) او دهغه دمخلوقاتو دنظره ښه اشخاص وګڼل سو انشاءالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مطالعه،کتاب لوستنه

مطالعه،کتاب لوستل دانسان ژوند ته روښنايي راوړي اويوه انسان ته داښې چې څنګه پر سيده ،نيغو اوسمو لارو تګ وکړي. هغه عالمان چې مطالعه نه کوي او خپل علم نور ته نه ښې داسي مثال لري لکه لمر چې ترنځي (کسوف) نيولی وی او رڼا نه سي خورولی.

موږاو تاسو بايد هر وخت مطالعه وکړو ځکه په کتاب لوستلو او مطالعي کولو سره دانسان ذهن روښانه کيږي او نوي معلومات لاسته را وړي. په مطالعه کولو سره زموږ تفکور نور هم پراخيږي او نوې مفکورې مو دماغ ته داخيليږي. هرانسان ته الله (ج) داسي يو ماده په وجود(بدن)کي ايښي ده،چي انسان دهغې مادې په واسطه کولی سي چي معلومات خوندي کړي او دوخت په تيريدو دهغو معلوماتو څخه ګټه واخلي دا ډول معلوما ت دهرانسان سره سته، اندازه يې ډېره زياته وي او ګټه ترينه اخلي. که چيرې موږ او تاسو خپل حافظي ته نوې معلومات ورزيات نه کړو، دو خت په تيريدو مو ذهن او حافظه  دواړه کمزوري کيږي. موږاو تاسو بايد په هره برخه کي معلومات ولرو او هر هغه کتاب او ليکنه مطالعه کړو، چي موږ او تاسو ته دژوند په چارو کي ګټوره تمام سي ياتماميږي. درټولو غوره مطالعه د قرآن کريم  مطالعه ده، دهغه څخه ورسته دحضرت محمد (ص) داحاديثومطالعه ده.

هغه لوستنې،مطالعي غوره او بهتره دي چي زموږ دژوند لارې راته روښانه، ځلانده کړي اودغلطی کولو ته مو پري نږدي. موږبايد دخپل مسلک سره سره  په هره برخه کي څه ناڅه پوهه ولرو او کله چي ضرورت يې راته پيښ سو نو دهغه مطالعي څخه چي موږ مخکي علم،خبر حاصل کړی و دهغه علم ،خبر څخه دخپل دځان او خپلوورڼو لپاره ګټه واخلو او لاربنوونکي واوسو. دهرښه او غوره کار په باره کي بايد معلومات لاسته راوړو.

موږ او تاسو بايد يومعلوم وخت په يوه ورځ کي يوڅه وخت ددې لپاره وټا کو چي په هغه وخت کي مطالعه،کتاب لوستنه وکړو.يو کس چي کله پوهه حاصله کړې او علم لاسته راوړي، نو بايد هتمي يې در نورو اشخاصو پوري ورسوي او نور خلګ هم دځان سره دعلم څخه بر خمن کړئ، په دې کار(کړن) کو لوسره يو انسان ته دوه ډوله ګټه رسيږي، لومړی دا چي دی به نور هم په خپل زده کړې علم او پوهي کي ماهيره، زيرک سي، بل به يې دهغه کس ياکسانو سره مرسته کړي وي چي هغه پوهه نه لري اود ياد کس په واسطه هغه علم حاصل کړي.

مطالعه هغه ډالی ده چي موږ ته خوشحالی راوړي او زموږ دماغ ځواک من کوي.

علم او پوهه په مطالعه کولو سر زياتيږي او کله چي موږ مطالعه نه کوو ورو ورو زموږ دحافظي څخه ياد کړی، حفظ کړی علم پوهه ليري ځي او موږ دستو نزو سره مخ کيږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ او تاسو باید ټل دکتابونو او لیکونو لوستنه وکړو تر څو په هغه څه وپوهیږو چې مخکې نه په پو هیدو. په مطالعې کولو سره انسان دستو نزو او کړاونو دحلیدو اودهغوی څخه دجدایې لاره پیدا کوي.

که چیرې موږ او تا سو لیکل او لوستل کولی سو:نوباید لږترلږه خو په هغه وخت کې مطالعه وکړو چې بیکاره یوو او خپل وخت په ناسمو اوبې ګټې کارونو کې تېرنه کړو.په خپله ټولنه کې باید دخپل وس سره سم دمطالعې کولو زمینه برابره کړو اوخلکوته دمطالعې ګټې بیان اوهغوی کتاب لوستنې ته تشویق کړو ترڅوکتاب لوستنه زموږ په ټولنه کې یوفرهنګ سي. په مطالعه کولو او یالیکنه کولو سره یو انسان نورهم دبر یا (کامیابۍ)خواته ځي.

موږ باید هڅه وکړو چې داسې لیکنې مطالعه کړو چې دهغه لیکونو څخه موږ ته ګټه ورسیږي او دنیکی کولو لارښوونه راته وکړي. کله چې موږ یو کتاب یایوه لیکنه مطالعه کوو نو باید هرې کلمې (ویی) ته یې په غوړ سره فکر وکړو اودا هڅه وکړو چې په صحي او سم ډول ځان په وپوهوو.مطالعه باید یوازې ددې لپاره هم ونه سي چې وخت پرې تېر سي، بلکې موږ باید دمطالعې کو لو څخه سالیمه، پرځای اوپوره استفاده وکړو او ګټه ترینه واخلو. یوکس باید هیڅ وخت خپل ځان بې مطالعې او لیکنې پرې نږدي.

په مطا لعې کولو سره کولی سوخپل ژوند ته نیغ لوري ته بدلون ورکړو او په خپل ژوند کې مثبت نوښتو نه منځته راوړو. دمطالعې کول زموږ ژوند ته ارامې، هوساینه رابخښې، دغمونو او کړاونو څخه مولیري بیایې، هیڅ یو دا سې غم او کړاو نسته چې موږ دې یې په مطا لعه کولو سره لیرنه کړو اودحل لاره یې ورته ونه مندو،هرومرو مطالعه زموږ سره دا مرسته کو ي چې صبر او زغم راته توصیه او موږ دهغه غم او کړاو په مقابل کې کلک ودروي او پري نږدي چې موږ خپل همت دلا سه ورکړو په مطالعه کولو سره انسان دیوازي والي څخه خلاصیږي کتابلوستنه (مطالعه) انسان ته دا وارنه ورکوي چې هغه دیوازي والي احساس وکړي.

ټل موږ او تاسو باید مطالعه وکړو, او دمطالعې کولو څخه مثبتې ګټې لاسته راوړو. موږ او تاسو باید هیڅکله داسې یوه لیکنه مطالعه نه کړو چې په مطالعه کولو سره یې زموږ او ستاسو دونیا او اخرت ته تاوان رسیږي،کیدای سي داسې ډیرې لیکنې به وي چې یو انسان دناسمي ،کږې لارې اوغلطی خواته بوزي،بدو او ناوړه کارو نوته یې وهڅوي،ناسمې لیکنې مطالعه کول ددې پر ځای چې موږ دهغې لیکنې دمطالعې څخه ګټه واخلو برعکس موږته تاوان،پیښوي،

د دا ډول لیکنو دلوستلو اومطالعه کولو څخه باید په کلکه ډډه وکړو او که چیرې موږ او تاسو داسې یوه لیکنه ولوستل نوباید په هغه لیکنې باندی عمل ونه کړو او د ژوند په چاروکې ترینه ګټه وانخلو. علم،پوهه په لوستلو او مطالعه کولو سره لاسته را ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راسئ چې تل خپل علم درنورو کسانو پورې ورسوو او دنور کسانو دعلم څخه استفاده وکړو. زموږ دعلم او پوهې څخه باید موږ او نورو کسانو ته ګټه ورسیږي او هغه زحمتونه او تکلیفو نه مو بې ځایه لاړنه سي چې موږ دعلم پوهې دلاسته راوړلو په لاره کې ګاللې دي.راسئ چې دمطالعې کولو سره ځان عدت کړو مطالعه وکړو خوندتري واخلو اوګټې ورڅخه لاسته راوړو، دخپل کور دتیاره ګوټو لپاره په مطالعه کولوسره هغوتیاروڅپاره دډیوو رڼا وموندو.

---

## خپل لوڼې او خویندې په لوړ ولوړ ورکول

زموږ او ستاسو په ټولنه کې ځیني خلک غواړي چې پیسې اونورمادیات په داسې لارو پیدا کړي چې هغو لارو څخه پیسې اونورمادیات لاسته روړل ناروا کړنه وي،یاداشخاص دې ته پاملرنه نه کوي چې کومې پیسې او اجناس چې دوی ته دکومې لارې څخه په لاس ورځي حلالې دې او که حرامې،دهمدې په حرامه لاره دپیسو دلاسته راوړولو دجملې څخه یو هم خپلې لوڼې او خویندې په لوړ ولوړ ورکول دي.یاد کار داسلام دمبارک دین داحکامو خلاف او ناروا عمل دی داکارپه اصل کې دیوه حور( آزاد) انسان خرڅول دي، داسلام دین هیڅ وخت یادکار ته اجازه نه ده ور کړي.

اسلام ښځې ته مهرټاکلي دی اودا مهر یوازي دهغې ښځې حق دی چې دنرڅخه یې دهغه سره دشرعي نکاح کولوپه بدل کې غواړي،په دې خبره دلاښه پوهیدلولپاره [سُوْرَةُ الأحزَاب : 50]ولولئ.یوښځه باید دخپل ځان دنکاح مهرلوړ ونه ټاکئ. لوړ مهر ټاکنه ډېرې ستونزې منځته راوړي او دا کړنه بدې پایلې درلودلی سي.موږ باید ښځې ونه پلورو.

ښځه باید خپل مهرخپله وټاکي.دلور خور..پلورل یوازي دا نه چې یو ناروا کار دی بلکې دیوې کورنۍ او هتا دیوې ټولنې دبربادۍ سبب ګرځي او دا کار ډیرې لویې ستو نزې را ولاړه وي.

کومې کورنۍ چې خپله لور یا خور وه یو کس ته په کم ولوړ اویا هم شرعي مهر ورکړي نه وي: نو دا کورنۍ دخپلې لور او خور څخه په حقیقت کې دهغې خو شحالي اخلي او نه پریږدي چې لور یا خور دې یې ارمه اوخوشحاله ژوند ولري، نه یوازې دا چې خپل دلور او خور ژوند خرابوي، بلکې دهغه کورنۍ او آن دخپلې ټولنې خوشحالي اخلي او دډېرو انسانانو ژوند دستونزو سره مخ کوي، کوم کس ته چې کومې کورنۍ لور او یا هم خور په لوړولوړ ورکړي وي، هغه کس هڅه کوي چې دیادې کورنۍ دخوا ورته ټاکل سوی ولوړ ژر پوره کړي، ددې کار لپاره معلومه خبره ده چې هغه زیاتو پیسو ته اړتیا لري،یاد کس هڅه کوي چې دروا او نارو لارو څخه یاد ولوړ پوره کړي.

ځیني ځوانان خپل ژوند په خطر کې اچوي او خارجي هیوادونو ته په قاچاکي لارو په پټ ډول صفر کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي يادکار ددې لامل کيږي چي يادسوی کس خپل ژوند دلاسه ورکړی، زنداني سي او يا په هم هغه هيواد کی په نشيي توکو او نور بدو کارونو اخته سي چي بيانه سي کولی په آساني سره خپل عادي ژوند ته راوګر ځي.ځيني ځوانان په خپل هيواد کي دې ته مجبوره (اړ) کيږي چي غلا او وژنې وکړي ځکه داولوړونه په دومره اندازه سره لوړ وي چي زموږ او ستاسو دميانه روه اقتصاد درلودونکو په توان کي نه وي او نه سي کولی چي دولوړ دازياتي پيسې ورته پوره کړي، چي په پايله کي يې يادکسان دې ته مجبور سي چي دناروا اونامشروع لارو څخه دولوړ پيسې په لاس راوړي.

ځيني ځوانان ددې جملې څخه دنشيي توکو کرکيله پيل کړي،ځيني يې غلاکول او رشوت اخيستل پيل کړي اوځيني يې دقاچاک کوونکو او وژونکو سره يوځای کيږي او هڅه کوي چي دا لوړ ولوړ پوره کړي.يادې تولې کړنې ددې سبب ګرځي او ياهم ګرځيدلي دي چي زموږ دټولنې ځيني ځوانان په غلطو،ناروا اوکږو لاروبوزي اوپه هيواد کي موستونزي راولاړي کړي. په دې کار کي هغه کس چي دا غلط کارونه کوي او هغه کس چي دی يې دې کارونو ته اړيستلي دی دواړه شريک دي اودوړه به ګونهګاره وي انشاءالله.

هغه کس چي يوې کورنۍ خپله لور يا خور ورته په لوړولوړ (مهر) ورکړي ده، يايوې ښځي دخپل ځان مهر(ولوړ)لوړ تاکلی وي کله چي تاکل سوی ولوړ دډېرو زحمتو دګالولو څخه ورسته پوره کوي معلوخبره ده چي په دې موده کي به يادکس دډيرستونزوسره مخ سوی وی، پايله يې دا چي دلوړ ولوړ درلودونکو ځينو ښځو ته دهغوی دخاوند (ميړه) په کورکي ځيني ستونزې دخاوند اودهغه دکورنۍ دنورو غړو دخوا پيښيږي.

دبيلګي په ډول يادې ميرمنې ته دهغې خوسر ګنۍ پيغور ورکوي، ورته وائي چي ستامور،پلا ر،ورور،اوياتا زموږ څخه ډېر ولوړاخيستی دی او موږ دا انتقام ستا څخه بيرته اخلو، ګرمه ته يې: په دې بهانې سره پر هغې معصومې ميرمنې ظلم کوي او نه يې پريږدي چي په آرمۍ ژوند وکړي، بل اړخ ته هغه کورنۍ چي يوه ښځه يې په لوړ ولوړ(مهر) سره خپل زوی يا هم ورور ته په نکاح کړې وي،د اقتصادي ستونزو سره دياد ولوړ دورکړي څخه ورسته مخ سي، دا ستونزې يوازې دهغې کورنۍ نه دي، بلکي په دې ستونزو کي دلوړ ولوړ درلودونکي ميرمنه هم دخپلې کورنۍ داقتصادي ستونزو څخه رنځ وړي او نه سي کولی خپل ژوند په ښه ډول پر مخ بوزي!هيڅ يوه کورنۍ نه غواړی چي خور يا لور دې يې دستونزو سره مخ سي. که چيري يوه کورنۍ دا نه غواړي چي لور ياخور دې يې ددا ډول ستو نزو سره مخ سي:بايد خپلې لونې او خويندې په لوړ ولوړ ورنه کړې. هيڅ يو پلار او ورور ته دلور ياخور مهر،ولورخوړل حلال نه دي، مهرالمثل بايد اوسنيو شرايطو اودهغه شخص چي ورته ښځه په نکاح کيږي داقتصادي حلت سره سم وتاکل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته غواړم بیا یادونه وکړم، مهر دهغې ښځې حق دی کوم چي نکاح کوي بیاهغه اختیارمنه ده،بل هیڅوک په دې اجناسو اوپیسو کی حق نه لري. ځیني خلک دا بها نه کوي چي په اوس وخت کي لګښتونه زیات دي او موږ نه سو کولی دا لګښتونه په لړه اندازه پیسو پوره کړو چي دا دول خبرناسمه ده او دا یوازي یوه بهانه ده.

موږ هیڅ اړتیا نه لورو چي زیات لګښت په وادونو اوخور لورته په ډېرو توکو کولو سره وکړو او خپل نوم په زیات لګښت کولو سره لوړ کړو، دا د اندازې څخه زیات لګښتونه یوازې اصراف دی. موږ باید په لږ مصرف (لګښت) کولو سره ونه شرمیږو او هیڅ وخت دافکر ونه کړو چي په لږلګښت کولو سره به زه بې احترامه سم او زما عزت به ختم سي،دیو انسان عزت دهغه په درلودونکو مادیاتو کي نه دی، بلکي عزت دالله (ج)دطرفه څخه یو نعمت دی او هیڅ یوکس نه سي کولی په لګښتونو سره عزت پیدا کړي، هوسخا او داړمنو سره مرسته کول غوره کاردی.

کله چي ځیني کسان خپلې لونې او خویندې په نکاح ورکوي نو هغوی دا فکر کوي، که چیرې زه خپله لور او یا هم خور په لږ ولوړ سره ورکړم یالورخورمې خپل مهرمثل کم وتاکي نو خلک به ماته سپکاوی وکړی، داکار به زما دلور اویا خور دخراب ژوند لامل سي او خلک به هغې ته داپیغور ورکوي چي ته یې په لږ ولوړ سره غوښتې یې یاتا خپل مهرکم ټاکلی دی چي دا دول فکر کول بیلکول غلط(ناسم) فکر دی، تاسو په لږ مهر یا ولوړ اخیستلو سره دخپل لور یا خور ژوند نه خرابوئ، بلکي په زیات ولوړ اخیستلو سره خپل دخور یا لور ژوند خرابوئ.

راسئ چي نور په خپله ټولنه کي دبدو رواجونو مخه ونیسو او نور پرینږدو چي زموږ ټولنه دخرابو رواجونو ښکار سي.

که چیرې په موږ خپل لونې او خویندې ګرانې دي نو باید دهغوی لپاره ستونزې جوړې نه کړو،هغوی ته خوشحالی ورکړو او خپل ټولنه نور دلوړ ولوړ څخه خلاصه کړو، زموږ دټولنې ډیرې ستونزې به په دې کار کولو سره حل سي او نور به موځوانان دلوړ ولوړدپوره کولو لپاره ناروا کارونو ته لاس نه اچوي.

موږ او تاسو هریو تن په دې مکلف یو چي لومړی ښه کار دخپل ځان څخه پیل کړو په دې کارسره به موږ یوه لویه نیکي کړي وي او خپل مینه به مو دالله (ج) دسپیڅلي دین اسلام سره ښودلي وي.

خویندو خپل مهرالمثل مناسیب وټاکئ اوخپل په مهرکي خپله تصروف وکړئ.

ورنو دخپلو لوړنو، خویندو اوخپل خپلوانو ښځو څخه توکي مه جوړوئ اوپیر،پلور یې ودروئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکاره او پټه پاکي

موږ مسلمانان داسلام مبارک دين په دې سره مکلف کړي يوو چې ظاهر (ښکاره) معنوي او پټې يعنې دزړه،نفس اودماغ پاکوالی ولرو. داسلام مبارک دين موږ دجنابت او چټلۍ په وخت کي په اودس اوغسل کولو يعني ځان پريولو په پاکو او بوسره امرکړي يوو. موږ مسلمانان دجنابت بې اودسۍ او دبدن دنا پاکۍ په حال کي وخت نه تېر وو او تل خپل ښکاره او پټې ناپاکۍ دمنځه وړو. لکه څنګه چي معلومه خبره ده چې په غسل کولو او اودس کولو سره په ښکاره ډول نجاست او ناپاکي دمنځه ځي،همداسې موږ دمعنوي اوپټو ناپاکيو څخه هم وه اسلامي احکاموته په غاړې ايښودلو،دګناهونو څخه په ليري پاتيدکيدلو،داخرت په عذابونو يادولو،دالله (ج)په ډيرعبادت اوذکر کولو،دنبوي سنتونو په عملي کولو،دځان سره دنيکۍ اوبدۍ په حساب کولو،دنورمسلمانو سره په مينه کولو اوترتولو اړينه داچي دلوی الله (ج)څخه په وېرې (ډار)کولوسره ځان دزړه ،نفس،اودماغ دناپاکيوو څخه پاکولی سو.موږ او تاسو بايد تل خپل بدن خوړه، جامې، کور او خپل ټول چاپيريال دناپا کيوو يا ناپاکه کيدو(چټل يدو)څخه څخه وساتو او پرې نږدو چې موږ ته دې دناپاکۍ له عمل زيان ورسيږي.

نظافت پاکي دايمان يو جز(برخه) ده.رسوالله (ص)فرمايي:ژباړه.پاکي دنيم ايمان سره برابره ده.①

نظافت (پاکي) هغه کړنه ده چې موږيې په کولو سره دخلکو د نظره ښه معلوميږو اوخلګ زموږ څخه ليروالی نه اختياره وي.

که چيرې موږ او تاسو خپل نظافت (پاکي) مراعت نه کړو نو يو خوابه موږ ناروغيوته لاره هواره کړي وي، بل به خلګ زموږ سره زموږ دنجاست او ناپاکۍ په خاطر سم چلند نه کوي او ليروالی به را څخه اختيارکړي.

موږ او تاسو بايد پرې نږدو چې زموږ او ستاسو کورونه،ډبرې (حجرې) او سيمې دې ناپاکي وي. په يوه ټولنه کي که هر وګړی دناپاکۍ مخنيوي وکړئ او پرې نږدي چې سيمه دې يې ناپاکه او ککړه وي ،نو هغه ټولنه به يو پاک اوسوتره چاپيريال ولري، هيڅ وخت به نارو غيو ته لاره خلاصه نه سي اودهغه ټولنې خلګ به صحت درلودونکي وګړي وي. موږ او تاسو ټول بايد په ګډه او ديوبل په مرسته خپل سيمه پاکه وساتو.

يومسلمان بايد ددې سر بيره چې خپل بدن او خپله سيمه پاک ساتي همدا ډول بايد خپل زړه او نفس هم دټو لوبدو، خرابو مفکورو،خيالونو ،وسوسو او انديښنو څخه ليري وساتي، هيڅکله بايد ناوړه او ناسم کړنه تر سره نه کړئ او دخپل زړه دداسې ساتلو هڅه ونه کړئ چې دنفرت،کينې او دنورو مسلمانانو دکرکې څخه ډک وي. ديوه مسلمان زړه بايد تل دبغض څخه خالي وي او نفرت او کينې ته بايد يومسلمان په خپل زړه کي ځای ورنه کړې.



١- صحيح مسلم کتاب الطهارت 534

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ باید هیڅ وخت دیوبل څخه نفرت ونه کړو، تل دیوبل سره په وروروليٰ او مینه چار چلند وکړو او پر یوبل مهربانه و اوسو. زموږ او ستاسو زړونه باید دفریب، چم ،خیانت او دوکي کولو څخه پاک وي. موږ باید ریښتیني ،امانت، داره، مهربانه اوښه مسلمانان واوسو. کله چي موږ په ښکاره خپل ځان پاک کړی وی، نو باید دا فکر هم وکړو چي آیا په رښتیا هم زه دناپاکی څخه پاک سوی یم او که یا؟

هغه ناپا کي چي په ښکاره زمو ږ پربدن معلو میږي، دهغه نا پاکیٰ څخه ډېره بي توانه او کمزوري ده چي زموږ په زړو نو کي ځای لری.لومړی باید موږ هغه ناپاکي دمنځه یو سو اوپا که یې کړو چي زموږ په زړه ننوتلي ده اودزړه بنې یې راخزان کړی دی،ځکه دا ناپاکي دهغه ناپاکیٰ څخه خطر ناکه او زیان رسوونکي ده چي پرموږ په ښکاره معلومیږي.

کله چي موږ په یو ځای کي دناپاکیٰ او نجاست سره مخ کیږو: دهغه څخه خپل ځان لیري ساتو او نږدي نه ورځو، مګر زموږ یو شي په دې وخت کي دیاده وتلی وی:چی دا نجاست زموږ د زړه دنجاست څخه خطر ناک او زیان رسوونکی نه دی. راسئ چي موږ خپل ښکاره او پټې ناپاکیٰ دمنځه یوسو، پري نږدو چي ددې ناپاکیو څخه موږ ته زیان ورسیږي او یا هم نورو کسانو ته زموږ پټه ،باطني ناپاکي زیان ورسوي.

لکه څنګه چي په ښکاره نجاست زموږ بدن ته تاوان رسوي او موږ په نا روغیواو افتنو اخته کوي همداسي زموږ دزړه؛ نفس اودماغ ناپاکي زموږ بدن او روح ته زیان رسوي او موږ په بیلا بیلو بدو کارونو کي بوخت کوي.زموږ دزړه اودماغ ناپاکي موږ دخپل خدای (ج) څخه لیري کوي،زموږ څخه شفقت او مهرباني اخلي او موږ ته کینه او مکر راکوي.راسئ چي خپل ځانونه دښکاره او پټو ناپاکیو څخه پاک کړو،ترڅو دانسانانو او الله (ج) په نزد ښه انسانان و اوسو او دپټو او ښکاره نارو غیو څخه خوندي پاتې سو.

---

## دانسان په ژوند کي دورزش (تکرښت) ارزښت

لوی خدای (ج) دانسان بدن داسي جوړکړی دی، چي کله انسان په یو کار بوخت وی نو دانسان بدن نور هم دډېر کارکولو وړتیا پیدا کوی، ورو ورو دهم هغه کار سره بلدیږي او بدن یې نورهم دهغه کار په کولو سره پیا وړی کیږی. البته زه دفزیکي یاهغه کارونو څخه یادونه کوم چي هغه په نیغ ډول یوانسان په داسي ډول سره سرته ورسوي چي هغه کارونه ورزش ته ورته کارونه وي، لکه دحقانې، معمارې، پېښي اوداسي نور ډېر کارونه.کارکوونکي انسانان نسبت هغو انسانانو ته چي ورزش او ورزش ته ورته کارونه نه کوی پیاوړی، سالیم او دښه صحت خاوندان وي.دهرانسان بدن دې ته اړتیا لري چي ورزش وکړې!هغه کسان چي ورزش کوي دنشیې موادو داستعمال،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ځايه ناستې،ولاړې او بدوکارونوڅخه تر ډېرې اندازې ليرې پاتې کيږي. په ورزش کولو سره دانسان بدن دډول ډول نارو غيو پر وړاندې پياوړى کيږى. ورزش دانسان بدن ته وده ورکوي اوهيڅکله يې نه پريږدي چې کمزورى سي. ورزش ددې تر څنګ چې دانسان بدن په فزيکى ډول پياوړى کوى، په معنوي ډول هم دانسان بدن ته ګټه رسوي، دانسان دماغ پياوړى کوى،انسان ته خوشحالي ورکوي، انسان خفګان ته نه پريږدي او تل ديوه غوره ملګرى په څير هغه ته خوشحالى ورکوي. ځيني کسان په دې بهانه چې موږ ورزشي ميدا نونه، نه لرو: ورزش نه کوي او دايې يوه بهانه نيولې وي. ددوى دا وينا چې دورزش لپار ميدان نه لرو ناسمه ده.

ورزش کول يوازې په ورزشي ميدانونو کي نه کيږي، بلکې موږ کولى سو چې په هغه ځاى کي چې موږ دنده لرو ورزش (تکړښت) وکړو. ځيني داسي حرکتونه سته چې موږ کولى سو په هر ځاى کي دا ډول حرکتونه وکړو اودې ته به اړتيا نه وي چې د ورزش لپاره دې ځانګړى ميدان ولرو. ورزش دانسان وجود دسوستۍ او لټۍ څخه ليرې ساتي.

او نه يې پريږدي چې په نارو غيو اخته او يا هم خپله روغتيا دلاسه ورکړي. موږ بايد دهغه حرکتونو څخه ډډه وکړو چې هغه حرکتونه زيان رسوونکي وي او دانسان بدن دستونزو سره مخ کوي. نامناسيب حرکتونه په وړد محاله او لنډ محاله توګه انسان دجسمي ستونزو سره مخ کوي، هتا په ځينو حالاتوکي يې فلج کوي، د هډوکو دما تيدو سبب يې ګرځي چې بيا ورسته خپل ژوند په سمه توګه پرمخ نسي بيولى او په خپل ژوند کي دستو نزو سره مخ وي. ورزش بايد په ساليم ،مسلکي او ارام ډول سره وسي. په ورزش کي بايد دبې غورۍ او بې پرواىۍ څخه کاروا نه خيستل سي .ورزش بايد داسي نه وى چې ددې پرځاى چې بدن ته مو ګټه ورسوى تاوان راته پيښ کړي.

هرانسان ځانته ځانګړي خوښه لري، چې داخوښه په ورزش کي هم سته. يو انسان بايد خپل دخوښې وړ ورزش وپيژني او ورسته دې هغه ورزش ته دوام ورکړي. کيداى سي ځيني ورزشونه مو خوښ نه سي، خوکيداى سي داسي ورزش به هم وى چې موږ دي دهغه ورزش سره مينه ولرو، زموږ دخوښې وړدې وګرځي او موږ دې دوخت په تېريدوسره په هغه ورزش کي ما هيره سو. دا اړينه نه ده چې هتمن دې موږ په ورزش کي لوړو پوړيو ته ورسيږو، بلکي دا اړينه ده چې موږ ورزش وکړو او خپل بدن دنارو غيو څخه ليرې اوپياوړى وساتو .موږبايد خپل ځان په ورزش کولو سره خوښ وساتو کيداى سي په راتلونکي وخت کى موږ زموږ دخوښې وړ ورزش کي ډېر ماهيره سو اوموږ دي لوړ مقام ته دخپل خوښي وړ ورزش کي ورسيږو. موږ بايد هغه اشخاص چې دورزش سره مينه نه لري دې ته تشويق کړوچې ورزش وکړئ او هغه وخت چې بې کاره تيروي په ورزش کولو سره يې تېر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورزش موږ تـه جسمي او روحـي پيـا وړتيـا را كـوي اومـوږ تـل فعـال اوپيـاوړي ساتي. راسئ چي موږ ورزش كولو ته وخت وركړو ترڅو دهر پلوه پياوړي اوسو اود ورزش كولو حق چي موږ مسلمانانو ته اسلام هم راكړى دى ګټه تـري واخلـو اوپرينږدو چي جسم مو ناتوانه پاته سي.

---

## دماشينونو سمه كارونه

ننى نړۍ پر مختګ كړى دى او ډول ډول وسايل دانسانانو پـه اختيـاركي دي. ډول ډول ماشينونه جوړشوي دي، چي پـه هره برخـه كي يې دانسـان كـار هوسا كړى دى او دچاروپـه ښـه سرته رسولو كـي ورسرمرسته كـوي. موږ او تـا سو دلـوى خداى(ج) په خوښه دهغه وسيلو څخه ګټه اخلو. په دې وسيلو او ماشينونو كي يو هم دتلوراتلـو وسيلې ،وسـايط دي، چـي داوسيلې عبـارت دي لـه موټرونـو، مـوټر سـايكلونو، تركټورونـو، باسـيكلونو، كېښـتيوو ،ريـل، الوتكـو او داسـي نوروڅخه،داتولې وسيلې،وسايط موږ او تاسو ديو ځاى څخه بل ځـاى تـه پـه ډيره هوسايي او بيله كومه تكليفه رسـوي،په شرط ددې كـه مـوږ ددې وسيلو،وسـايطو څخـه پـر ځـاى او خونـدي اسـتفاده وكـړو.يـادې وسيلې،وسـايط ځينـي وختونـه دخطرونو څخه ډكي وي، چـي دټكراوښتلو(چپه كيدلو)او اور اخيستلو، سره مخ كيږي اودانسانانو ژوندترينه اخلي، چي ډېر انسانان ددې وسيلو ديادو سوو پيښو لـه عملـه پـه ننـي عصـر(وخت)كي زخمـي او يـا وژل كيږي.ديـادو پيښـو درمنځتـه كيدلو ځينـي لاملونـه پـه دې ډول سـره دي. ماشـومانو تـه ددې وسـايطو دچلولـو اجازه، بي پروايي، ځان ښودنه، دسړكونو خراب والى، دنشې په حالت كي چلونه، تيز رفتار، په موبايل كي خبرې كول، خوب، دسړكونو خرابوالى اونورډير لاملونـه لري. موږ او تاسو بايد خپلو ماشومانو ته موټر، موټر سايكل او نوروسـايل دګنـې ګونې په ځايونو كي په لاس ورنه كړو او كه چيرې غواړو چي خپلو ماشومانو تـه دا وسيلې،وسـايط پـه لاس وركـړو نـو بايـد درخپـل نظـر لانـدي پـه خـالي او داسـي ځـايونو كـي چـي هلتـه عامـه شتمنى، شخصـي شتمنى او انسـانان كـم وي پـه لاس وركړو. پرلويو لارو اوسړكونو باندي ماشومانو ته داوسيلې پـه لاس وركول ياپـه بل عبارت دچلونې اجازه يې وركول،په لوى لاس خپل ماشوم او نورو انسـانانو تـه زيان رسول دي. په ځينو حالاتو كـي ځينـي خلـګ غـواړي چـي پـه خپـل موټر،موټر سايكل او نورو وسايلو سره ځـان نـو رو خلـګو تـه لوړ،جورتمنـد،پياوړى معرفـي كړى،دبيلګې په ډول دخلګو په ګڼه ګونه كي دمو ټر اوموټر سايكل ډير تيز رفتار، په داسي لارو چلونه چي هغه لار ددې وسيلو دتګ او راتګ لپاره مناسيبه نـه وي. دخلګو ومخته دخپلې چلونې دزده كړې ښودنه،ياد كارونـه ددې لامل ګرځـي چي موټر يا موټر سايكل دلارې څخه واوړي او چپه سي، يا دكوم سي سره ټكر

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړي او یا هم کوم انسان په ژوبل یا ووژل سي،داناسمه اودنه منلو وړکړنه ده چي موږ او تاسو دخپل غرور او کبرښکار سو، خپل ځان او نورو انسانانو ته زیان ورسوو،په هروخت کې چي موږ هرڅومره هم دېښه ژوند درلودونکي یو نو باید عاجزه اوسو او کبر ونه کړو.دسړکونو او لارو خرابوالی هم ددې وسایلو دټکر او اوښتلو یو لوی لامل دی.

هغه سړکونه چي زموږ او ستاسو دکورونو او ځمکو څخه تیریږي: دازموږ او ستاسو خپل مسؤلیت دی چي داسړکونه خپله سم اودریوې اندازې پوري یې ورغوو،ځکه که موږ هر یو دخپل کور او کلي لارې ورغوو، نو هیڅ یو خرابه لاره او سړک به خراب پاته نه سي. هغه سړکونه او لارې چي دعامه ځایونو څخه تیریږي نو دهم هغه سیمې او سیدونکي باید په ګډه دحاشر دلارې هغه سړکونه ورغوي.ځیني انسانان هغه وخت دیوې وسیلې چلونه کوي چي دنشې اویا غوسې په حالت کې وي، دا دوړه حلتونه ددې لامل کیږي چي موټر،موټرسایکل او یاکومه بله وسیله دچلوونکي دواکه ووزي او واوړي، ټکر اویاهم کومه بله ترافیکي پیښه وکړي.

په موبایل کې باید دچلولو په وخت کي خبرې ونه کړو، ځکه دیوې وسیلې چلونه یوازي په لاسونو او پښوسره نه کیږي، بلکي دانسان ټول وجود باید کار وکړي دهغه څخه ورسته یو کس ښه او مناسیبه چلونه دیویې وسیلې کولی سې. هغه وخت چي یوانسان ته خوب ورځي په هغه وخت کې دیوې وسیلې چلونه ددې لامل کیږي چي یوه بده پیښه منځ ته راسي، هروخت چي کوم چلوونکی په ځان وپوهیدی چي اوس نوزه خوب ته اړتیا لرم نو باید هغه وخت دچلونې څخه لاس واخلې او سم دستي استراحت وکړي، ځکه هغه وخت چي یوکس دکومې وسیلې دچلونې په حلت کې وي که چیرې هغه وخت چلوونکي ته خوب ورسې نو هتمن داخطر سته چي چلوونکی ویده سي اوهغه وسیله چي دی یې په خپل واک کې لري دواکه یې ووزي او کومه بده پیښ منځ ته راسي.هر هغه څوک چي ماشین چلوونکی وي نوبایډ دچلولو په وخت کي دپوره دقت ،غوږ اوفکر څخه کارواخلي، احتیاط وکړي ترڅو دترفیکي پیښنو مخنیوی وسي. دیوې وسیلې چلوونکی یوازي دخپل ځان دساتلو مسؤلیت پرغاړه نه لري، بلکي دهغو انسانانو دژوند مسؤلیت هم دده پر غاړه دی چي دده سره په دې وسیله کي شتون لري. هغه وخت چي موږ چلوونکي یوو او دومره یولوی مسؤلیت مو د غاړې وي، نو څنګه بې پروایي کولی شو؟

دیوې وسیلې چلوونکی هیڅ وخت باید وراخطانه سي اوبې پهمي ونه کړي، که څه هم چي موږ او تاسو مسلمانان په دې ایمان لرو چي خیر او شر دلوی خدای (ج) دطرفه څخه دي، مګر موږ باید بې پروا ونه اوسو او دپوره احتیاط څخه کارواخلو، ځکه انسان مکلف دی چي دخپل ځان اونورو ساتنه وکړئ، خپل ځان او نور انسانان په خطر کې وانه چوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهر ماشین څخه باید په خپل ځای اوپر وخت استفاده وکړو . هیڅ ماشین باید بې ځایه ونه کارو او ناسمه او ناروا استفاده ترینه ونه کړو .ځینې انسانان داسې فکر کوي چې ماشین به تل زما په اختیار کې وي،یاد وګړي په داسې ډول ماشین کاروي چې په ماشین باندې ډیر باور وینې او تل یې په اجزاوو اطمنان(باور) کوي، مګر ماشین داعتبار وړنه دی، په ماشین باندی باید پوره باور ونه سی، کیدای سي چې په نامعلومه وخت دکاره وغورځیږي کار ونه کړي او نورو انسانانو ته زیان ورسوي.ماشین داسې یوشی دی چې دبیلا بیلو پرزو،ټوټو څخه جوړسوی دی او ددې ټوټوڅخه که چیرې یوه هم پروخت کارونه کړي نو ماشین دکارغورځي او هتمن خطر پیښوي.

کله چې انسانانو ماشینونه دخپل هوساینې لپاره جوړکړی دی نوباید دهغو څخه مثبته او ښه استفاده وکړئ او هیڅ وخت یې داسې استعمال نه کړئ چې خپل ځان او نورو انسانانو ته زیان ورسوي.

هرماشین چلوونکی باید دپوره غور،دقت اوفکر دکولو څخه ورسته د هغو وسایلوو څخه کارواخلې،چی انسان ته خطر پیښوی، ځکه په ځینو حلاتو کې همدغه انسان دالله(ج) په مرسته جوړکړی ماشین خپله انسان ته زیان رسوي.موږ چې کله یو ماشین کارو نو باید په پوره ډول پر هغه واک دارې ولرو او کله چې یو ماشین کارو لومړی باید هغه په سمه توګه زده کړو او ورسته ورڅخه استفا ده وکړواو دخطرناکوپیښو څخه دخپل وس اوتوان مطابق مخنیوی وکړو.

---

## دچا پیریال پاک ساتنه او سمسورتیا

یو انسان په ژوند کې داسې مادو ته اړتیا لري، چې بې له هغه مادو څخه ژوند نه سي کولی. اوبه،خواړه، هوا اودا سې نورې مادې چې بې له دې مادو څخه دانسان ژوند ناشونی دی. که چیرې پاملرنه وکړو نویادې مادې خپل په منځ کی یوډول اړیکې سره لري،دبیلګې په ډول که چیرې په یوه سیمه کې اوبه شتون ولري نو په هغه سیمه کی نباتات وده کوي، دنباتاتو څخه خواړه لاسته راځي او په همدغه سیمو کې دهغو سیمو په پرتله هوا پاکه وي چې هلته نباتات نه وي. پاکه او مناسیبه اوبه هوا (چاپیریال) انسان دنارو غیو څخه لیرې ساتي او نه پریږدي چې انسانان او نور ژوي په نارو غیو اخته شي.

موږ او تاسو باید په خپلو سیمو کې نباتات کښیږدو ،چې ددې کار په کولو سره موږ ته ډېرې ګټې رسیږي، یوخو به مو دکور او سیمې چاپیر یال پاک ساتلی وی، اوبل به موږ دنباتاتو دحصلا تو څخه ګټه پورته کړي وي. موږاو تاسو انسانان الله (ج) ددې څخه نه یو منعه کړي چې دخپل ځانونو ساتنه وکړو موږ او تاسو باید لومړی خپل ځان پاک وساتو او وروسته خپل چاپیریال پاک وساتو.رسوالله (ص)فرمایې:ژباړه.پاکي دنیم ایمان سره برابره ده.①



۱ـ صحیح مسلم کتاب الطهارت حدیث ګڼه 534

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې موږ هریو که هغه ځای چي موږ په هغه ځای کې استوګنه کوو اوهغه ځای چې هلته کارکو پاک وساتو نو ټوله نړۍ به مودناپاکۍ اوچټلۍ څخه ساتلي وي.

داچي اوس زموږ چاپیریال ککړاو نا پاکه دی داموږ او تاسو ناپاکه کړی دی او په ډول ډول نارو غیو دهمدغه ککړتیا له وجې مبتلا یو. ناپاکه چاپیریال موږ ته ډیرې ستونزې راټوکولي دي. که چیرې موږ او تاسو هر ډول موادو څخه په ځای استفاده وکړو او اصراف په کښې ونه کړو نو په دې کارکولوسره به مو دردېرې اندزې خپل چاپیریال پاک ساتلی وي.

**دچا پیریال په پاک ساتولو کي نباتات لویه ونډه لري.**

موږ او تاسو هریو باید لږترلږه یوه ونه او نبا تات کښینوو او پالنه یې هم وکړو .ونې دسیلابو نو دزیات بحیر څخه مخنیوي کوي، دسیلابونو مخه نیسي. ونې او نباتات چاپیریال پاک ساتي اوموږاوتاسو دهغه څخه خوراکي مواد لاسته را وړو. نباتات دیوانسان روح تازه کوي او تل یې په لیدلودخوښۍ احساس کوي. نباتات دیوه انسان په ژوند کي دحدنه زیاتي ګټې لري. نباتات دلوی خدای(ج) یو لوی نعمت دی او موږ او تاسو یې باید په ساتولو کي دتوان سره سم کوښښ وکړو. خپله سیمه باید دنباتاتو په کښت او کرولو سره ښکلي کړو.کله چې موږ او تاسو دخورکي او یا هم غیري خورکي موادو څخه استفاده کوو،

هغه اضافي،بالابود مواد چي ددغه موادو څخه پاتیږي باید په هر ځای کې یې ونه غورځوو او دا اضافي مواد په هغه ځایونو کې وا چوو چې ددې اضافي موادو لپاره ځانګړي سوي وي، او یایې هم په یو مناسیب ځای کي درخاورو لاندي کړو، ترڅو په راتلو نکي وخت کي دامواد زموږ چا پیریال اوهوا راته ککړه نه کړئ.

موږ باید خپل راتلوونکي نسل ته درشا ناپاکه چاپیریال پرینږدو.

دهغه اجناسو او وسایلو څخه په نامناسیب ډول باید استفاده ونه کړو چې هغه وسیلې زیات لوګي تولیدوي.

لوګي او ځیني نورکیمیاوي توکي دچاپیریال په ککړتیا کي لویه ونډه لري، نو باید درخپل وسه پوري دهغو ماشینونو او کیمیاوي توکو څخه چي هغه دچاپیریال لپاره مضر،خطرناکه او وژونکي مواد تولیدوي استفاده ونه کړو .

موږبایدداسي لارې چارې پیدا کړو چي هغه ددې ډول اجناسو او موادو یوغوره اوښه بدیل وګرځي او نورموچاپیریال راته خراب ککړ نه کړي.

دچا پیریال پاک ساتل زموږ اوستاسو ټولو دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ديني عالمان

زموږ اوستاسو په ټولنه کي ديني علماؤته زموږ ټول مسلمانان ورونه احترام (درناوی) لري او ټولو ويناوو اواصلاحي لارښوونوته يې په پوره غوږسره غوږ نيسي، مګرددې غوره مقام او د ديني علماؤد پاک نامه څخه ځيني بد اوجاهله کسان ناسمه اوناروا استفاده کوي او ځيني داسي ويناوي وګړوته اوروي چي هغه ويناوي داسلام دمبارک دين سره په ټکرکي وي: زموږ مسلمانان ورونه دنارواوناسموکارونو وه کولو ته هڅوي، ياده کړنه يو زيان رسوونکي اونارواکړنه ده.

زموږ ديني عالمان په دې مکلف دي چي د دا ډول کسانو پرخلاف خپل ږغ پورته کړئ،چوف پاتي نه سي او پري نږدي چي داکسان داسلام دمبارک دين دنامه څخه ناروا اوناسمه ګټه پورته کړي:دمسلمانانو ذهنيتونه ورته خراب کړي. ددې کاردمخنيوي لپارعلمأ بايد په ډليزه توګه سرکښيني او دهغو مسئلوپه هکله سره خبرې وکړي چي دمسلمانانو په منځ کي خپرې سوي دي، مګر يادې مسئلې داسلامي کړونو اوشريعت سره په ټکرکي وي، ديادومسئلوپه هکله دې يوه داسي پريکړه وکړي چي نورداکسان داسلام دمبارک دين دنامه څخه نارواوناسمه استفاده ونه کړي اود مسلمانان ذهنيتونه ورت خراب اومغشوش نه کړي.

دهغو کتابونو او ليکونو په اړه دې مسلمانان خبرکړي او ورته دي يې په ډاګه اوبربنډې کړي چي داسلامي مسائيلو،احکامو په نامه جوړسوي وي مګر غلطي (ناسمي) مفکوري مسلمانانو ته ورکوي اوپه حقيقت کي داسلام دمبارک دين سره هيڅ اړيکه نه لري، ديادو کتابونو،ليکونو،اشخاصواوکړيو مخه دي ونيسي. ديني عالمان بايد په خپل منځ کي ټولې اختلافي اړيني مسئلې سره حل کړي، په يوږغ دي يوکار ته هو يانه ووايې اوعام مسلمانان بايد ددوخبرو په منځ کي پري نږدي.

ټولې هغه لويې خبرې اومسائيل چي دوی په هغه کښي په يوه خوله نه وي اوسره په کښي اختلاف لري په ګوته اويوه فتوادي پري وکړي، ځکه که چيرې يوديني عالم يوډول وينا کوي او بل ديني عالم بل ډول وينا کوي نو مسلمانان په خپل منځ کي سره اختلاف پيدا کوي او لويې لويې نا خوالې منځ ته راوړي،دعوامو،هغوکسانوچي ديني علم نه لري ذهنيتونه مغشوش،په شک اوتردود کي مبتلاکيږي نيغه لاره تري ورکيږي.ددې بدپايلو درلودونکوکړنو دنه پيښيدلو اومخنيوي لپاره بايد ديني عالمان په خپل منځ کي يوه داسي وينا هم پري نږدي چي په هغه وينا کي دوی سره مخالفه وي،ديني عالمان دي دنوروعامو وګړو په مرسته دهغو کسانو پرضد اواز پورته کړئ چي هغه کسان دخپلو ګټولپاره داسلام دنامه څخه غلطه(ناسمه)،ناروا استفاده کوي دمسلمانانو په منځ کي خنډونه ،ستونزې اونفاق پيښوي او مسلمانان پرغلطواو کږو وږولارو بيايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يودينې عالم بايد داسې يوه وينامسلمانانو ته وانوروي چې په هغه موضوع کې پوره معلومات نه لري او دهره اړخه په خبر نه وي، ځکه که چيرې يوعالم يوه ديني وينا په ناخبرۍ کې مسلمانانو ته واورولـه، نو ددينـي علم نه درلـودونکي مسلمانان په هغه وينا باندي دعمل جامې اغوندي هغه وينا يو بل ته رسوي اوهغه کار بيا بيا تکراره وي، چې داډول عمل يونـاروا عمل دی او عالمان بايد هيڅکله داسې وينا ونه کړئ چې په هغه وينا،خبره،فتوا،ياموضوع (سکالو) کې پوره معلومات ونه لري.

يوعالم چې کله يوډلې ته نصيحت(واعظ)کوي، نو بايد دی په هره هغه دينـي موضـوع کـي چـي دی يـې مسـلمانانو تـه پـه اړه معلومـات ورکـوي پـوره علـم درلودنکی وی او نوردېروالی او کمښت په کښې رانه ولي البته په اصل کې يې دموضوع. ديو عالم مسؤليت دادی چې يوه ټولنه اصلاح کړي او هغه ټولنه دناروا اوناسمو کارونو څخه ووېروي اودبداعمالوڅخه دوتلولارې چارې ورته په ګوته کړي.

عالم ټولنه دبدوڅخه منعه اونيکوکارونوته يې تشويق کوي.يوعالم داوبو په شان دی چې ناپاکی دمنځه وړي او پاکي منځ ته راوړي.دينـي عالمان بايد يوه ټولنه اصلاح کړئ او ټول هغه کارونه چې داسلام دنظره ناروادي مسلمانانو ته په ګوته او وښيي اونورکسان پرې نېږدي چې داسلام دنوم څخه په استفادي ناروکارونه وکړي،ياټولنه ورته تشويق کړي اومسلمانان پرکړه لاره روان کړي.

هرمسلمان په دي مکلف دی چې داسلام دمبارک دين په ټولو احکامو ځان خبر کړي او هيڅ داسي يو کارونه کړئ چې داسلام مبارک دين هغه کارته اجازه نه وي ورکړي.

بايد ټول مسلمانان دهغه کسانو مخنيوی وکړي چې داسلام دمبارک دين څخه په ګټه اخيستنې نارواکارونه کوي او مسلمانانوته زيان رسوي.

موږ اوتاسو ټول مکلف يو چې د دينـي عالمانووينـاو اواصلاحي لارښوونو ته غوږ ونيسواو هيڅ وخت ديني عالمانو ته سپکاوی ونه کړواو تل دقدر،درناوي او عزت په نظرورته وګورو.

موږمسلمانان مکلف يووچې دهرعالم احترم(درنـاوی)ولرواوپرې نږدوچې کوم څوک علماوته توهين وکړي.

راسـئ ټولنـه دعلماوپـه مشـوره دپرمختـګ سـمت تـه ټيـل وهواودهغـوی دتجريبواوعلم درڼايي‌څخه په ګټه اخيستلوخپل دژوندتياره ګوټونه په ښه ډول روښانه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دالله (ج) عبادت په سمه توګه کول، اواحکاموته يې غاړه آيښودنه**

لوی خدای(ج) انسانان دعبادت لپاره پيداکړي دي!په دې خبره دلاښه پوهيدلو لپاره د سُوْرَةُ الذّارِيَات : 56نمبرايات ولولیٌ.انسانان په دې مکلف او ګمارل سوي دي چي دخپل خالق (ج) عبادات او ستاينه وکړي، هيڅ وخت دالله(ج) داحکامو څخه سر غړونه ونه کړي اوهغه احکام چي لوی خدای(ج) دخپل رسول حضرت محمد(ص) په واسطه موږانسانانو ته راستولي دي په ربښتني ډول پري عمل وکړو.

دهغه کارونو دکولو څخه ډډه وکړو چي موږ انسانان دهغه کارونو دکولو څخه منعه سوي يو او هغه کارونه وکړو چي موږ په هغه کارونو باندي ګمارل سوي يو.

دنيکو کارونو په کولو سره موږ خپل رب العزت ته نژدي کيږو او دبدو کارونو په کولو ورڅخه ليري کيږو.

موږ او تاسو بايد دالله(ج) درضا (خوشی)لپاره پرهيز ګاره او بدي نه کوونکو خلګو سره دوستي وکړو اود هغو انسانانوڅخه چي دلوی خدای (ج) داحکامو څخه سر غړونه کوي نفرت وکړو، دادوستي او کينه مو بايد يوازي اويوازي دلوی خدای(ج) درضا لپاره وي.انسان بايد تل عاجزه وي، کبر کوونکی او غرور کوونکی نه وي. انسان بايدخير رسوونکی واوسی په خپل وخت اوبيله دي چي کوم ځنډپه کښي وکړي دخپل خالق (ج) عبادت وکړي.

عبادت مو بايد داسي نه وی لکه دکوم کار چي عدت کوو، بلکي عبادت موبايد دزړه داخلاصه او په داسي ډول سره وي چي وجود(بدن) اوروح دواړه مو دلوی خدای(ج) په ياد کي بوخت وي اونورې ټولي دونياوي ګټې ،کارونه او خبرې مو درشاکړي وي اويوازي اويوازي موټوله پاملرنه،دلوی خداي (ج) په يادولو، اودهغه (ج) په قدرتونو کي په آند (فکر)کولو کي وي .

که چيرې موږ اوتاسو لوی خدای (ج) نه وينو هغه(ج) خوموويني،نوهغه وخت چي موږ الله(ج) وينی موږ هم بايد داسي فکر وکړولکه موږ چي دالله(ج) په حضور کي ولاړيوو، عبادت اويادونه يې کوو، ثنا،ستاينه او صفات يې وايوو دهغه څخه غوښتنه کوو.دالله(ج)دعبادت په وخت کي موبايد په ښکاره او پټه دواړو کي لوی خدای(ج) ته رجوع کړي وي.

هيڅکله موعبادت بايد په داسي شان سره نه وي چي په ښکاره خو دالله(ج) په عبادت بوخت يو ، مګر په دماغ او زړه کي مودخدای (ج) ياد نه وی، ددونياچارې موپه زړه او دماغ کي ځي راځي او دهغوی په هکله فکر کوو.دعبادت په وخت کي دانسان لوی دښمن ابليس ،شيطان انسان ته وسوسې وراچوي او دې ته يې نه پريږدي چي دخپل خالق (ج)عبادت په سمه توګه سره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان،مؤمن بايد دشيطان او خپل نفس سره په کلکه مبارېزه وکړي او پرې نږدي چې دنفس ناروا غوښتني پر يو مؤمن،مسلمان برلاسي سي. بې ځايه اوبې ګټې انساني غوښتني انسان دخپل پيداکوونکی څخه ليري کوي.

عبادت که چيرې يو انسان په سمه طريقه سره وکړي، نو انسان دګناهونو څخه ليري کوي.

عبادت کول موبايد په داسي ډول سره وي چې موږ کله د يووخت لمونځ ادا کړو دربل وخت درلمانځه پوري مودګناه څخه وساتي. يوه روژه مو بايد دربلې روژي پوري دګناه څخه ليري وساتي... دا هر څه هغه وخت کيدای سي چې موږ خپل ځان الله(ج) ته په رښتني ډول تسليم کړو، دټولو فرايضواوسنتونو پابنده واوسو او هيڅ وخت داسلام دمبارک دين داحکامو څخه سر غړونه ونه کړو.

دانسانانو لپاره دادونيا يوازي اويوازي يوه ازموينه ده او دادونيا ته انسانان دآمتحان لپاره راليږل شوي دي.په دې دونيا کي نيکي کول او دګنا هونو څخه ډډه کول انسان ته ابدي خوشحالی او جنت په نصيب کوي.

بدي او دالله(ج)او دهغه درسول حضرت محمد (ص) داحکامو څخه سرغړونه او نه عملي کول انسان ته دوږخ ورکوی، که چيرې دخدای(ج) خوښه وه نوګنهګاره انسان ته به دوږخ ورپه برخه کړي او که يې خوښه وه نووبه يې بخښي. دادونيا ددې لپاره لاکمه ده چې موږ نيکی په کښي وکړو، نوځکه به په دې کمه موده کي چې موږ او تاسو په دې دونيا کي ميشت يو بدي وکړو. ديؤ يوه انسان لپارداکوم وخت چې په دې دونياکي تيره وي کم معلو ميږي، هروخت هڅه کوي چې خپل وخت دالله(ج)درضاينې لپاره تېرکړي، ددې دونيا خوښی ورته خوب معلوميږي، هيڅ وخت يې په دې پاني کيدونکي دونيا زړه نه وي تړلی،خپل ټول،يا ډېر وخت په دې کي تيروي چې ځنګه کولی شم مسلمانانو ته خير ورسوم او نيکي وکړم.

مرګ دسترګو دربانو لاندي دی.هيڅ يو انسان داضمانت،داډکوم چاته نه سي ورکولی چې ته به يوه شېبه لاهم نور ژوندی پاته سي ،نوبيا ولې يوانسان خپل وخت په عبس او نارواکارونو باندي تېره وي؟

ژوند دباد په شان روان دی او هيڅ وخت دچا انتظارنه کوي، چاته دا واري ،موقه نه ورکوي چې تېروخت بيرته راوګرځوي، نويو انسان که دځان خير غواړي بايد بي فکره او بي تد بيره کار ونه کړي، تل ديوه کاردکولو مخکي فکر ووهي او دپوهانو انسانانو سره مشوره وکړئ.

وخت راګرځيدونکی نه دی. هغه وخت زموږ لپاره دخير څخه ډک دی چې دخپل ابدي ژوند لپاره موڅه په کي لاس ته راوړل.نه ختميدونکې خوښی په جنت کي دې او نه ختميدونکې عذابونه په دوږخ کي دي.

الله(ج) انسان خپلې خوښي ته پريښی دی مختارکړی يی دی که هغه بدي کوي اوکه نيکي کوي، الله(ج)پر ټولو انسانانو رحمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله(ج) زمـوږ او ستاسـو عبـادت تـه اړتيـا نـه لـري! بلکـي زمـوږ اوستاسـو څخـه آزموينه اخلي،زموږ لپاره دا ازموينه هوسا هم ده او سخته هم، يـوازې اويـوازې زموږ کارونو تـه کتـل کيږي. الله(ج) پـر متقيـانو(پرهيز) کونکـو او قناعت کونکـو انسانانو رحيم دی. ناهيلي دالله(ج) دستر درباره څخه نه ده په کار، موږ بايد اُميد کوونکي واوسو اوتل دالله(ج) پرنعمتونو شکراداکړو اوپـه هغـه څـه بانـدې راضـي (خوښ) واوسو چي موږ ته دالله (ج)دخوا څخه راکول سوي وي.

په دې دونيا کي بايد دومره نيکی وکړو چي زموږ دنيکی لـه کبلـه نـور مسلمانانو ته لاهم ګټه ورسيږي.کله چي يو مسلمان پـه ستونزه کي وي دهغه سره مرسته وکړو. يومسلمان ورور موبايد دلاس او ژبې دضرر څخه خوندي وي، يعني داچي نـور مسلمانان زمـوږ او ستاسـو دلاس او ژبـې دضـرر څخـه ځانونـه پـه امـن کـي احساس کړي.

کـه چيرې خدای(ج) مـه کـړه مـوږ پـه قصداً او ياخطاسره کومـه وړه اولويـه ګنـاه کړي وي، دلوی خدای(ج) څخه دهغې ګناه بخښنه وغواړو او په راتلوونکي وخت کي هغه ګناه تکرار نه کړو.

که دالله (ج) خوښه وه نو وبه مو بخښي او که يې خوښـه وه نـودکړي ګنـاه سزابه راته راکړي، په ريښتيا هم الله(ج)بخښوونکی ذات دی.يومؤمن بايد تـل خپـل نفس په خپل واک کي ولري.

بد نفس زموږ څخه هغه څـه غوړي چي زمـوږ دبـر بـادی سبب ګرځي. مـوږ بايـد دګناه څخه لير پاته سو، ددې دونيـا دعيش او خوشحالی لپـاره داخـرت خوښـی او ښادی دمنځ يونـه سو.

ددې دونيــا پــه زحمتــو نــو بايــد داخــرت خوشــحالی لاســته روړو، دژوندانــه دضرورتونو دپوره کولو لپاره بايد حلال او رواکارونـه او کسبونه وکړو.خپل ځـان اولاد اودوستان دحرامو کارونو اوکسبونو څخـه خپل دروسـه پوري ليـري وسـاتو او پری نږدو چي هغوی په حرامو خوړوسرتغذيه او پـه جاموسره يې پټ سي.يو مسلمان بايد مشفيق او مهربانـه وي.

مسلمان بايد ظالم و نه اوسي دبل مسلمان ورور حق په هيڅ ډول هيڅ وخت ونـه خـوري اودر پښـويې لانـدي نـه کـړي ځکـه الله (ج) خپـل درحـق وه يـوه بنـده تـه ورتيريـدای سـي مګـر دنـور مخلوقـاتو درحـق درهغـه وختـه نـه سـي ورتيريـدای ترڅوهغه مخلوق نه وي ورتيرسوی انشاءالله.

مـوږ چـي ځانونـه مسلمانان بولـو نوبايد داسلام دمبـارک ديـن پـر لارښـونو عمـل وکړو ،دځان څخه کامل مؤمنان جوړکړواوپه دې باندي شکراداکړو چي مسلمانان يو،موږمسلمانان بايد قرآن کريم اوحديث شريفونه مطالعه کړو اوعمل بـه پـري وکړ،که چيرې داکړنـه وکړونو هله به انشاءالله موږبرياليتوب ته ځان رسولی وی.

ددې دونيا په خوښيوو به ځـان نـه تير باسو، اوځانونـه بـه پـه مکمـل (پـوره) ډول دخدای(ج) او دهغه درسول(ص)پرلاره برابرکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پرماشومانو باندې د هغوی دمور او پلار او یا د هغوی دنورو دوستانو د خوا ځخه ناسم نوم ایښودنه او په ناسمو نومونو سره دهغوی یادول

ډېرې مېندې او پلرونه پر خپل اولادونو باندې ناسم نومونه ږدي او یایې هم په داسې نومونو سره یادوي چې هغه نومونه دماشوم پر روحیه بده اغیزه کوي. دانومونه ډېر وخت دګرانښت،مینې له وجې ځخه پرماشومانو ایښودل کیږي، چې زیاتره وخت دانو مونه دوالدینو، نیکونو، اناګانو، کاکا ګانو او نورو دکورنۍ دغړو اویا نژدې دوستانو دخواځخه پرماشومانو ایښودل کیږي، چې دانومونه په راتلوونکې وخت کې کله چې ماشوم ځوانیږي دهغه دسپکاوي سبب ګرځي، ځینې وخت دهمدغه نوم له کبله هغه په ټولنه کې توهینږي او هغه ته ټولنه هر وخت دخپل نوم له کبله ازار رسوي.

دلته په لنډ ډول دځو داسې نومونو یادونه کوم ،لکه: سور،پیت پزی،لنډی، توری،چوری، منډی،کارګه،شینکی،ختې،دا ډول نومونه دښځینو لپاره هم موجود دي او یوازې پرنارینو ماشومانو نه ایښودل کیږي،بلکې پر ښځینو ماشومانو هم ایښودل کیږي. ځینې ماشومان چې کوم معلولیت ولري هغوی ته ددوی دمعلولیت دډول په نامه ویل کیږي، معلول ماشومان د معلولیت نه درلودونکو ماشومانو په پرتله ددې نومونو ځخه زیات اغیزمن کیږي، په هغوی باندې منفي تاثیرات غورځوي او دخپل ژوند ځخه دناهیلي کیدو احساس ورته پیدا کیږي.

ناسم نوم ایښودنه دیو ماشوم فکرته بدلون ورکوي او تل ورسره یواندېښنه وي چې ځنګه کولی سم دانوم دځان ځخه لیري کړم،ماشوم خپل هوډ او همت دلاسه ورکوي، ناتوانه کیږي، په راتلوونکې وخت کې دی یوې هیلې یا مقصد ته درسیدلو ځخه لاس اخلي، ځکه دی دناهیلۍ په جال کې لا دوخته راګیرسوی وی او مبارزه دستونزو په وړاندې نه سي کولی.ماشومان دهغو کسانو سره هیڅ وخت مینه نه لري او کینه ورسره کوي کوم کسان چې دوی ته په ناسم نوم باندې غږ کوي، که ځه هم په ژبه سره ځه نه سي ویلی مګر دهغوی کینه او رخه دیادو وګړوپروړاندې ډېره زیاته وي، تل دیادوکسانو ځخه ځخه یو ډول کرکه کوي،چې داکرکه ورو ورو ډېریږي،په را تلونکې وخت کې یو توپان ترینه جوړیږي او ټوله ټولنه ورته یوه بده او ناسمه ټولنه معلو میږي، خپل ځان او ټولنې ته ستونزې را ولاړوي او هیڅ وخت دا سې ناسم نوم درلودونکې کسان په خپل نوم سره نه خوشحالیږي بلکې هغوی ته خفګان اوتکلیف ورکوي.

هرمور او پلار او هغه کسان چې دوی ته دماشوم دنوم ایښودلو زیمواري ور په غاړه شې دوی باید یو ښه او غوره نوم داسلام دمبارک دین په رڼا کې دخپل دود او کلتور سره برابر پیدا او پر ماشوم یې کیږدي، داسې یو نوم چې ماشوم په راتلونکې وخت کې دخپل نوم ځخه خوښ او راضي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام مبارک دين پر ماشوم باندي ښه او غوره نوم ايښودنه دماشوم حق بللی دی. ماشوم ددې حق لري چي پر هغه اسلامي ښکلی او دمعنا څخه ډک نوم کيښودل سي، ځکه که دالله(ج) خوښه وي نو دنوم دمعناسره سم ځانګړتياوي او چلندونه به په هغه ماشوم کي پيداسي اودی به تل دخپل نوم په اوريدلو سره دهغه چاڅخه خوښيږي چي پرده باندي يې دا غوره نوم ايښي دی.که موږ دخپلو ماشومانو سره مينه کوو، راته ګران وي، نو ددې پر ځای چي هغه ته په يوه نا سم نوم سره ور غږ کړو او نوي نوم ورته کيږدو بايد په خپل اصلي او هغه نوم چي پردي ماشوم ايښودل سوی دی ورږغ کړو. هغه نوم  چي موږ داسلام او زموږ دکلتور سره برابر ورته انتخاب کړی دی. هيڅ وخت بايد يو کس ته دهغه دنوم څخه پرته په بل نوم ور ږغ ،غږ نه کړو او تل يو بل ته په خپلو نومونو سره ووايو.که چيرې يو شخص زموږ او ستاسو څخه  په داسي نوم سره نومول کيږي چي هغه نوم دده اصلي نوم نه وي او يا هم دکورنۍ، يا دوستانو دخوا څخه ورباندي ناسم نوم ايښودل سوی وی، په داسي حال کی هغه کولی سي چي ځان ته بل نوم خوښ او پر ځان يې کيږدي. لومړی که موږ چيري خپله سم نوم لرواو موږ ته ټولنه په ناسم نوم سره وائي نو هر هغه کس  چي موږ ته په ناسم نوم سره ږغ کوي هغه ته بايد ووايو چي ورورجانه زه خپله ښايسته نوم لرم او ته بيا هم ماته په دې ناسم نوم سره غږ کوي، ته ماته په دې کارسره تاوان نه سي رسولی بلکي ځانته زيان رسوی، ته په دې کار کولو سره ځان ګنهګاره کوی، ځکه زما پر تا داحق دی چي ماته په خپل نوم سره ږغ وکړې، زه په دې ناسم نامه نه خوشحاليږم بلکي زه دخواشينۍ احساس کوم نو که ته چيرې مادوست بولي نو په دې نوم سره ماته غږ مه کوه،ځکه دازمانوم نه دی، ددې او ځينو نورو ويناو په اوريدلو سره به په راتلونکي وخت کی يادکس په خپل نوم سره ياديږي او ناسم نوم به يې رو رو دمنځه لاړسي او ټولنه به ده ته په خپل اصلی اوسم نوم سره غږ کوي.دوهم هغه وګړي چي پر هغوی باندی داسلام او خپل کلتور څخه خلاف نومونه ايښودل سوی وی: بايد دخپلي کورنۍ او دوستانو په مرسته يو نوم خوښ او پرځان يې کيږدي،دا ناشونی کارنه دی چي يو شخص خپل نوم ته بدلون ورکړي. هوموږ او تاسو کولی سو خپل ناسم غيري اسلامي او زموږ دکلتور څخه مخالف نومونه بدل کړو. داسلام مبارک دين موږ مسلمانان يو مسلمان ته دلاس او ژبې دتکليف رسولو څخه منعه کړي يوو. مسلمان  په ناسم نوم سره يادول يو ډول ازار رسول دي .موږ او تاسو حق نه لرو چي نورو مسلمانانو ته په ناسم نوم سره ور غږ کړو. موږ او تاسو بايد هڅه وکړو چي دځانونو څخه نيک اخلاق لرونکي او باادبه انسانان جوړکړو. داهم يو ډول اخلاق دې چي موږ خپلو دوستانو ته په سم نوم سره غږ وکړواو هغوی ته په سم نوم ويلو،غږکولو سره نور هم په خپلو منځونو کي مينه او ګرانښت منځ ته راولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږاوتاسوبایدهیڅ وخت په بدو او ناسمو نومونو سره یوبل ته غږ ونه کړو،په دې کارکولوسره په خپلومنځونوکي بغض او کینه منځ ته رانه ولوو. که یوکس په ناسم نوم سره یادول دګرانښت څخه وي او که دبغض، کینې څخه په دواړو حالاتو کي یې دیو مسلمان لپاره ویل ناسم کاردی اوباید ددې کړنې څخه په کلکه ډډه وکړئ،ځکه داسلام مبارک دین اوزموږ ژبه زموږ مسلمانانو لپاره ښه او ښایسته نومونه لري اوموږ ته یې ښودنه سوې ده. موږ باید په هیڅ وخت کي خپل مسلمان ورورپه غیري اسلامي، غیري اخلاقی اوزموږ دفرهنګ څخه په خلاف نوم سره ونه بلو.والدین باید پرخپلو اولادونو باندي زموږ دفرهنګ سره برابراو اسلامي نومونه کیږدي. راسئ چې دناسمونومونو داکوچنی فرهنګ دمنځه یوسو او خپل هغه نومونه چې دخولوڅخه پریوتي دي، راژوندي کړو.موږباید دنورو دفرهنګ ښکار ونه ګرځو، هیڅ وخت نه یوازې په نوم ایښودلو کي بلکې دژوند په ټولو چارو کي خپل فرهنګ هیر نه کړو او دنورو دفرهنګ تکلید ونه کړوو .

---

په ښوونځیوو او مدرسوو کې کیفیت لرونکي او ښه زده کړه

ښوونځي، مدرسې او نور تعلیمي ځایونه دعلم پوهې دلاسته راوړلو دروښنایي اودبریالیتوب ته درسیدلو ځایونه دي. په مدارسو اوښوونځیوو کي موږ او تاسوته داسلام دمبارک دین په اړه زده کړه راکول کیږي، موږ دالله(ج)دحکمونو او دهغه جل جلاله درسول (ص) دکړونو او ویناوو څخه خبریږو اوراته نیغه،سیده لاره دښه ژوند او اخرت لپاره ښودل کیږي.په ښونځیوو اومدرسوو کې موږ اوتاسو په دې باندي پوهوي چې دونیاته موږ دڅه لپاره راغلي یو انسانان په خپل منځ کي یو پربل کوم حقوق لري، نوردالله (ج) مخلوقات پرانسانانو باندي کوم حقوق لري، لوی خدای(ج) انسانان دڅه شي لپاره پیداکړی دی او دوی کوم مسؤلیتونه لري.همداډول په ښونځیوو او مدرسوو کي موږاوتاسو ته عصري او فني علوم ښوول کیږي.زموږ او ستاسو ټولنه دې دواړو دپوهې او پرمختګ مرکزونو ته اړتیا لري.موږ او تاسوباید په دیني او عصري پوهې سمبال و اوسو خپل هیواد او خپلې ټولنې ته دهمدې لارې خدمت وکړو، ترڅوموږ دپوهې په لاسته راوړلوسره یوپرمختللي ټولنه سو.عموماً موږ اوتاسو په ماشومتوب کي دپوهې په ګل بڼ سرورننباسو.موږډېروخت دپوهې ،علم لاسته راوړل دماشومتوب څخه پیلوو، کله چې زموږ څخه زموږ دماشوم توب طلائې وخت تېرسي نوځینې زموږڅخه داسې فکرکوي، چې په لویوالي کي پوهه لاسته نه راوړل کیږی او خپل هیلې دلاسه ورکوي، چې ددوی داډول فکرناسم فکر دی، ځکه پوهه لاسته روړل معلوم وخت نه لري! هر څوک کولی سي چې هروخت پوهه لاسته روړي، خوبهتره داده چې موږ خپل ماشومان دماشومتوب څخه دپوهې دلاسته روړلو لپاره وهڅواو په هغوی باندي علم، پوهه زده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښه زده کړه کول:

ښه زده کړه کول په يوم ارم دخوښۍ څخه ډک اويوداسي چاپيرل کي کيږي چي هلته دزده کوونکوسره دمهربانۍ اوميني څخه ډک چلند کيږي. ځينو تعليمي مرکزونو کي دزده کوونکوسره دښوونکو او په تعليمي مرکزکي دنورو کارکوونکو دخوا څخه ناسم چلند کيږي: دروحي او جسمي فشارلاندي راوستل کيږي، ددې پرځای چي ديوې مناسيبې لارې څخه کارواخلي او زده کوونکی په دې وپوهوي چي کوم کارچي تاوکی ناسم دی، په راتلونکي وخت کي داکارمه تکراره وه،برعکس دهغوی سره زور زياتی کوي او هغوی تحديدوي .دازور زياتی او دزده کوونکو سره ناسم چلند ډيروخت دناوخت راتګ، غيري حاضري(ناسوبتيا) دزده کوونکو ترمنځ دشوخۍ کولو او ځينونورمسائيلو له کبله صورت نيسي، چي ددې نامناسيب تحديد اوزور زياتي له عمله دزده کوونکي جوړت کميږي او دزده کړې څخه يې دتيښتي سبب هم کيدای سي.په يوه تعليمي مرکزکي زده کوونکی دروحي اوجسمي فشارلاندي راوستل يوبد او دزده کړې لپاره نامناسيب چاپيريال بللی سو.چي زده کوونکی په ياد چاپيريال کي نه سی کولی په ښه ډول زده کړه وکړي.

په يوه داسی چاپيريال کي چي هلته وېره (ډار) شتون ولري، خفه کوونکی وی اويو زده کوونکی خپله غوښتنه،پوښتنه، هيله اونظر نه سي ويلی، زده کوونکی نه سي کولی چي هلته په ښه ډول زده کړه وکړي.

يوزده کوونکی دزده کړي لپاره يوارم، دخوښۍ او خوشحالۍ څخه ډک،خپل هيله ښکاره کوونکی، خپل غوښتنه ويوونکی اويوداسي چاپيريال غواړي چی هلته شفقت او مينه موجوده وي.ښوونکي بايد پرخپلو زده کوونکو باندي مهربانه وي، هغوی ته دي داحق ورکړي چي خپل نظر څرګند کړي،په درس کی ونډه ولري... دزده کوونکي او ښوونکي ترمنځ بايد داسي يوه ددوستۍ فضا وي، لکه څنګه چي ديو ملګري اوملګري ترمنځ وي.

ملګري په ډيره آساني سره کولی سي يوبل ته خپله غوښتنه،پوښتنه،هيله ووايې،دې ته ورته يوه فضا بايد دزده کوونکي اوښوونکي ترمنځ موجوده وي او داسي يوه ددوستۍ فضا ددوی ترمنځ بايد شتون ولري لکه څنګه چي دوالداو اولاد ترمنځ وي..دشفقت اومهربانۍ فضا.

که چيرې يوزده کوونکی خپل درسونو ته پاملرنه نه کوي، شوخي کوي او دناسم چار چلند څخه دنور زده کونکو پروړاندې کاراخلي:داسي زده کوونکی دې ددې پر ځای چي ووهل سی، درروحي فشارلاندي را وستل سي اويا ورسر ناسم چلند وسی هغه ته دي دښوونکو او والدينو دخوا څخه په ډيره ارمه او دپوهې څخه په ډکه لحجه پوهوی ورکول سي:ښوونکي دې دخپلو ټولو مهرتونو په کارولو سره زده کوونکی په دې وپوهوي، چي کوم کارچي دی يې کوی ناسم او دزيان څخه ډک کار دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمثالو (بیلګو) په راوړلو او یاهم د کیسو اوحکایتونو په کولو سره هغه ته داقنعت ورکولی سی چې کومه کړنه چې دی یې کوي ناسمه اوښه کړنه نه ده.که چیرې یو ښوونکی اویا په یو تعلیمي مرکز کی بل کوم کارکوونکی دیوه زده کوونکی سره چې هغه ناسم چار، چلند او غلطي کوي،دهغه دچلند په مقابل کې په وار وار ناسم چلند کوي، نو زده کوونکی خپل دکړې کارڅخه لاس نه اخلي، په بیا بیا خپل کړې کړنه تکراره وي او هغه داسې احساس کوي چې زه دقدر،درناوي او عزت وړنه یم زه یولټ او داسې یو څوک یم چې هیڅکله نه اصلاح کیږم، دوی زما څخه هیڅ دښو کړنو کولو هیله نه لري، نو زه ولې ښه چار وکړم او په ښه ډول زده کړه وکړم؟

لنډه داچې هغه ورځ تربلې خپل په چلند کې منفي بدلون راولي، خپل پر ځان یې اعتماد دمنځه ځي، په راتلونکې وخت دټولنې داوړ بارګرځي،ټولنه به دده دشر څخه خوندي پاتې نه وي او ددې کس دبدوالي سبب به یوازې هغه کس وي چې ددې ماشوم یاتنکي ځوان فکر یې نورهم منفي سمته تیل واهه .که چیرې یوښوونکی اویا هم مور او پلارد یوه ماشوم دناسم کارد کولو په وخت کې، دهغه دنیکې پوهونې لپاره دمناسیبې لارې څخه کاروا‌خلي، او هغه ته دا احساس ورکړي چې کوم کارچې دی یې کوي ناسم او دزیان څخه ډک کار دی، نو هغه ماشوم او یاهم تنکي ځوان به په راتلونکي وخت کې خپل ناسم کارنه تکراره وي، په خپل کړي کاربه په وار وار پښیمانه کیږي او بیا به داهڅه نه کوي چې بیله فکره اویاهم منفي اړخ درلودونکي کړنه وکړي.

په تعلیمي مرکزونو کې دې د زده کوونکو ترمنځ سیالی په لاره واچول سي. داسایلی باید دپوره شفافیت،روښوالي څخه برخمنې وي او هغه زده کوونکي دې ددې سیالیو په ترڅ کې په ښه سی چې رښتیا هم لیاقت درلودونکي زده کوونکي وي، او په خپلودرسونو او کړونو کې یې دنورزده کوونکوڅخه زښت زیار ایستلي وي. یادو زده کونکوته دې دهغوی دلاتشویق لپاره ډالی ورکول سئ، ترڅو په راتلوونکي وخت کی نورزده کوونکي هم وهڅیږي او په خپلو درسونواو چار چلند کې مثبت بدلون راولي.

وخت په وخت دزده کونکو ارزیابي کول، زده کوونکي ته دزده کړي دګټې په اړه په عملي ډول پوهوی ورکول، دعلمی تجریبو سرته رسول په ساده اوپیچلي ډول سره، په یو تعلیمي مرکز کې اړین دي. دهغو زده کوونکوسره چې په درسونو او یاهم دژوند په نورو چارو کې دستونزو سره مخ وي د نورو زده کوونکو په پرتله دې ډیره مرسته ورسره وسئ، اوورته دې مناسیبې، وړ لارښونې وسئ:ترڅو هغوی دخپلو ستونزوسره مقابله وکړي، پرخپل ځان اعتماد پیداکړي، په راتلونکی وخت کې خپله دخپل ځان ستونزه حل یاورته دحل لاره وموندې او بیا دې ته اړه نه سي چې دستو نزې پر وړاندې خپل همت دلاسه ورکړي.

ښوونکي باید هیڅ وخت خپل زده کوونکي په نا سمو نومونو سره یا دنه کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني دا چي هغوی بايد خپل په نو مونو سره ياد کړي. ښوونکي بايد دزده کونکو ترمنځ داسي يوه فضا رامنځته کړي چي هغوی ديو بل سره په ډېره مينه، دوستۍ چار،چلند وکړي، ديو بل سره تل مرسته کوونکي او همکاري کوونکي واوسي، اوديو او بل نظريې په مينه او غور سره واو ري.

زده کونکي دي په دې وپوهوې چي ديو اوبل سره کينه ،رخه او بغض کول ناسم کاردی او تاسو بايد تل يودبل همکاره اوسي، پری نږدئ چي ستاسو په منځ خفګان منځ ته راسي.په تعليمي مرکزوکي دښوونکو نشتون، بي وختة راتګ،ناسوبتيا، او په ماهيرانه اومسلکي ډول درس نه ويل،نه ورکول اوياهم په درس باندي دزده کونکو نه پوهول پرزده کونکو منفي اغيزې لري.

دښوونې په يوه ښه مرکز کي بايد تحديد او وېره موجوده نه وي. هغه زده کوونکي چي پرنورو زده کونکو زورزياتی کوی بايد وپيژندل سي او په راتلونکي وخت کي زورزياتي ته پري نه ښودل سي. دهغه وسيلو مخه بايد ونيول سی چي هغه ژوبلوونکي او ياهم تحديده ونکي وسيلې وي.

هيڅ وخت بايد تعليمي مرکزونه وېرونکي نه وي بلکي برعکس دخوښۍ او امن ځخه برخمن وي. وخت په وخت بايد ديوه تعلمي مرکز کار کوونکي دټولنې دمخورو او دزده کوونکو دوالدينو سره غونډې ونيسي،ترڅو پر هغو ستونزو باندي چي په مدرسوو، ښونځيوو اويا هم تعليمي مرکزو کي موجودې وي خبرې وسي اودحل لارې چارې ورته په ګوته سي.

د يوې ټولني ټول وګړي بايد په ګډه دعلم،پوهې دپرمختګ لپاره کاروکړي.په تعليمي مرکزونو کي بايد دقومی، ژبني اونژدي توپير ځخه مخنيوی وسي او ټولو زده کوونکو ته په يوه نظر وکتل سي.

تعليمی مرکزونه بايد دسياسی کړونو لپاره ونه کارول سی او هيڅ وخت بايد تعليمي مرکزونو ته دسياسی ځايونو په نظر ونه کتل سي. موږ او تاسو بايد خپل تعليمي مرکزونه دهرې ناخوالې ځخه ليري وساتو او هيڅ چاته بايد اجازه ورنه کړو چي زموږ دتعليمی مرکزونو ځخه ناروا اوناسمه استفاده وکړي. موږبايد خپل ټولنه دعلم او پوهې په ګاڼه سمباله کړو، دنا پوهۍ تورې تيارې دمنځ يوسو.

او ځانونه په دې وپوهوو چي دپوهې نعمت دانسانانو لپاره څومره دارزښت وړدی. دتعليمي مرکزونو پر وړاندې هر راپورته کيدونکی او را پورته شوی خنډ اوستونزه بايد ژر تر ژره دمنځه يوسو او پري نږدوچي زموږ تعليمي مرکزونه دمنځه لاړسي.

دتعليمي مرکزدمنځه وړل ديوې ټولنې دمنځه وړلو معنالري. همدغه تعليمي مرکزونه دي چي زموږ راتلوونکي نسلونه راته روزي ، زموږ هيواد به دهمدې تعليمي مرکزونو دزده کوونکو له کبله دلوی خدای(ج) په مرسته پر مختګ کوي ،موږ ته به خو شحالی راکوي، دا کړاونو به راځخه ليرکوي او يو سوکاله ژوند به را ته ډالۍ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دميرمنې او خاوند(ميړه) ترمنځ ښې اړيکې او يوبل ته درناوی

ميرمنه او خاوند موږ داسلام دنظره هغه چاته ويلی سو چې، دنر او ښځی ترمنځ نکاح وسي، يعنی نراو ښځه په دې سره راضي (خوښ) سي چي ددوی ترمنځ نکاح، دګډژوندتېرولو تړون سي،په اصتلاح وا ده سره وکړې. ميرمنه اوميړه بايد يو دبل عزت او احترام(درناوی) ولري او پري نږدي چي ددوی ترمنځ خفګان منځ ته راسي.

ميرمنه او خاوند(ميړه)بايد يو دبل په رازونو دامکان تر حده پوري خبر وي او پري نږدي چي ددوی ترمنځ ناوړه ،منفي شک او ګومان پيداسي. هيڅ وخت دي ميرمنه اوخاوند يوبل ته درواغ نه وايي او هڅه دي وکړې چي تل يوبل ته رښتيا ووايې. دهغو کارونو په اړه دې يو دبل سره صلاح او مشوره وکړې چې، دوی دواړه ورسره مخ کيږي.

هيڅ وخت بايددميرمنې او خاوند ترمنځ دبي باوری فضا حاکمه نه سي، ميرمنه او خا وند بايد په هغو کارونو او پريکړو کي سره موافيق سي چي دوی په هغه پريکړو او کارو نوکي هم نظره نه وي او هريو يې ځان ته يونظر لري، په داسي حال کي بايد داسي يوه دحل لاره پيدا کړي چي ددواړو دقبو ليت وړ وګرځي. که چيرې ديوې ميرمنې او خا وند په منځ کي داسي مسايل مخته راځي چي دوی ديوبل دنظر پر خلاف عمل کوي نو بايد ددا ډول کارو نو څخه دواړه طرفه په کلکه ډډه وکړي. کله چي خاوند او ميرمنه ديو بل پر ځای پر يکړو او مشورو ته غوږ نه نيسي،صرفي نظر يې ګرځوي، نو د دوی داکړنه د دوی دوړو ترمنځ دخفګان او پريشانی لامل کيږي، دوی نه سي کولی چي خپل ژوند ته په خوښی دوام ورکړي اوخوشحاله اوسي.

دميرمنې او خاوند ترمنځ مخالفتونه، بدبينی، لفظی شخړې او جنګ جګړې دهغوی دماشومانو په روحيه او ذهن بده اغيزه کوي، ماشوم دي ته نه پريږدي چي ساليمه او مناسيبه روزنه ترلاسه کړي، دماشومانو د دماغي ستونزو لامل کېږي ،ماشومان په راتلوونکي وخت کي دي ته ليواله کيږي چي بدو اوخرابو عملو نوته لاس وا چوي، هغوی ددې پرځای چي ښه او نيک انسانان سي برعکس يې دخرابی خواته بيايې او هتا ځيني وختونه دميرمنې ،خاوند يادکورنی دنورو غړو ترمنځ خپل منځي شخړې او جنګونه ماشومان دي ته اړباسي چي ځان وژنه وکړي او ياهم دکوره څخه وتښتې. ډيری هغه ماشومان چي په کورونو کي يې شخړې کيږي په جسمي او عصبي ناروغيوو اخته وي او په سمه توګه جسمي اومعنوي وده او نمونه سي کولی ياد ماشومان ژر په داسي کړنو باندي اخته کيدای سي چي دکورنی او ټولنې داوږو بار وګرځي. دماشومانو په وړاندې بايد هيڅکله هم لفضي شخړې او جنګونه ونه سي.ميرمنه او خاوند بايد خپلې ټولې ستونزې ديو بل سره په خبرواترو حل کړي. يو ميرمنه بايد دخپل خاوند څخه نه پوره کيدونکي غوښتنې ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمنه باید دخپل خاوند اقتصادي ستو نزې په نظرکي ونیسي اودخاوند اقتصادي حالت ته په کتو خپلې غوښتنې وه خپل خاوند ته وړاندې کړي. دیوې میرمنې او خاوند ترمنځ باید متقابل احترام،درناوی مو جود وي. دیوبل سپکاوی باید په هیڅ صورت سره ونه کړي. خاوند او میرمنه با ید دیوبل د دوستانو او اقرباؤ عزت او درناوی ولري، هیڅکله باید دیوبل قریبانو ته بي احترامي ونه کړي.

دیوبل ددوستانو احترام او درناوی ددې لامل کیږي چې دوی خوشحاله وساتي، که چیرې دیوې میرمنې او خاوند ترمنځ کومه ستونزه پیدا کیږي نو لومړی دي په خپله دا هڅه کوي چې راولاړي سویه ستونزې ته دحل لار پیدا کړي، که چیرې دوی په دې کارونه تونیدل نودخپلې کورنۍ دمشرانو څخه دي مرسته وغواړي اوراولاړې سوي ستو نزې ته دي دحل لاره پیدا کړي.هره میرمنه او خاوند داغواړي چې نیک او ښه اولادونه دي ولري، ددې لپاره چې اولا دونه یې په سمه اونیغه لاره روان سي: باید لومړی خپلو او لادونو ته په خپل کورکي سالیمه تربیه (روزنه) ورکړي اوورسته دهغه څخه خپل اولادونه دعلم اوپوهې په ګانه سینګارکړي.والدین بایدپه هیڅ صورت سره پري نږدي چې اولادونه دي یې بې علمه پاته سي. میرمنه اوخاوند بایدتل هڅه وکړي چې ددوی ترمنځ ټول راولاړسوي خندونه ،ستونزې اونوراړوندموضوعات دیوبل سره په مشوره کولو حل کړي،پري نږدی چې دوړو وړوستو نزو څخه لویې ستونزي منځ ته راسي اوخدای (ج)مه کړه دکو رنۍ څخه یې خوشحالۍ دځان سره یوسي. ژوند په خوشحالۍ او بغیر دنفرت څخه تېر کړي. کینه کوونکې اوغرور کوونکې انسانان هیڅکله پرنیغه لارنه دي روان اوپرهغه لاره خپل سفرکوي چې دهغې لارې پای دناکامۍ کندې ته رسیدلی وي.

---

## مشوره کول

موږ او تاسو تل دافکر کوو چې کوم کارونه او کړنې چې موږ ته ښه معلومیږي، هغه کړنې په رښتیا هم ښه او بهتره کړنې دي او بیله دې چې دنوروخلکو سره مشوره وکړوسرته یې رسوو: مګرنه هر زموږ خوښ کړی کار(کړن)او زموږ کړې پریکړه پرځای او سمه نه وي.

هتمن زموږ ډیرو نیمګړتیاوو ته پام نه وي، ځکه کیدای سي زموږ تجربې او دماغ دنور انسانانو په پرتله کمزوری وی،کیدای سي زموږ دنظره څخه کوم څه پټ پاتې سوی وی او زموږ دي وه هغه ته هیڅ پام نه وي او ښتی،که چیرې په رښتیا هم موږ تجربه لرونکي او دخپل کوونکي کار یاپریکړې هراړخ ته تو جوکوونکي یو او هیڅ دې ته اړتیاونه لرو چې موږ دي یو څوک وپوښتو، مګر بیا هم مشوره کول دکامیابه انسانانو هنردی او هیڅکله پوه اوکامیاب وګړي بیله صلاح مشورې خپلې کړنې سرته نه رسوي.مشوره کول نه یوازې دا چې موږ په هغه کارونو کې چې موږ یې سرته رسوو او یاهغه پریکړې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ يې کوو په هغو کې موږ دکاميابۍ (بريالیتوب) سره مخ کوي، بلکې موږ په مشور کولو سره دهغو انسانانو زړونه هم لاسته راوړو چې موږ دهغو سره مشوره کوو،دوستي مونوره هم ديوبل دزړوپه څمکوکې جړړې (ربنې) ځغلوي او ترمنځ موبې اتفاقې دمنځه وړي. ځيني انسانان دخپل ژوندانه لويې لويې پريکړې په يوزې ځان سره کوي، دهيڅ يو چاسره مشوره نه کوي او ددوی په آندکوم کار چې دوی يې کوي هغه غوره او ښه دی: ددوی دامفکوره او کړنه په حقيقت کې ناسمه کړنه ده، ځکه انسان الله(ج) دځان څخه پوره نه دی پيدا کړی! انسان عاجزه او دخپل خالق(ج) او يودبل مرستې ته اړتيا لري.

هيڅ وخت ديوه انسان عقل، فکردومره نه دی پياوړی چې په هرې کړنې ،برخې اوډګر کې دي پوره پوهه ولري، اوکه يې ولري هم نوبشپړه به نه وي، کيدای سي يو څه ورڅخه هېرسوي وي ،يايې هم پام نه وي ورته اوښتی اوياهم توجو نه ورته اوړي، نو ځکه مشورکول اړين دي.

مشوره کول کيدای سي يوه انسان ته کاميابۍ اوخوشحالۍ ور په برخه کړي، دانسان عقل او فکر ديوه کاروه ټولو اړخونوته واړه وي يايې اړوي. موږ به يوکار يو ډول ارزولی ،سنجولی (ګڼلی) وی، مګر يوه کوچنۍ نيمګړتيا به وي هغه به زموږ دکار خنډ وګرځي، ستونزه به راته پيښه کړي کيدای سی تل به دهغې نيمګړتيا څخه رنځ وړو اوهغه نميګړتيا به نه سوجبرانولی،مګردا هرڅه به هغه وخت نه وي:کله چې موږ ديو بل سره مشوره وکړو، ديو بل دکړيو پريکړو څخه ځانونه خبرکړو، پري نږدو چې ستونزې دي زموږ مخنيوی وکړي ،کارونه دي مو په سم ډول سره سرته ونه رسيږي او يا دې په راتلونکي وخت کې دخپلې کړي پريکړې څخه ناراضه (ناخوښه)سو.اولادونه بايد دخپلو والدينو سره په هرکوونکي کارکي مشوره وکړې، هيڅ يوکاردي بيله دې چې خپل مور او پلار خبر کړي نه کوي، ځکه موراو پلار هغه وخت دخپل اولاد څخه ډير خفه او ناراضه کيږي، کله چی اولادونه يې کومه پر يکړه بيله دي چې خپل مور او پلارخبرکړي وکړې.په کوم کار کې چې دمور او پلارخوښه نه وي هغه کار به څنګه دخير څخه ډک وي؟

برکت،بريااوښوالی تل په هغوکارونو کې وي په کوموکارونو کې چې دوالدينومشوره اورضايت (خوښې) شتون ولري.ميندي او پلرونه هم بايد دخپلو اولادونو سره په هرې واړې او لويې پريکړې کي مشوره وکړي. هيڅ وخت دي دخپلو اولادونو په حق کي درهغه وخته کومه پريکړه نه کوي، ترڅو چي يې هغوی خبرکړي نه وي او دهغوی سره يې مشوره کړي نه وي يايې دهغوی خوښې اوناخوښې ځان ته نه وي معلوم کړي. دبيلګي په ډول داولاد دزده کړي څخه محرومه کول، هغوی ته کومه دنده پيداکول، او يايوبله لويه پريکړه چې په هغه کې دخپل اولادسره مشوره نه کول داسې مثال لري لکه چې يومور اوپلار دخپل اولاد ژوند په خپل لاس ورته خربوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلواولادو ته دهغوی دمشورې اوخبراوې پرته کوزده ،نکاح،واده کول. هیڅ مور او پلارته دانه ښايي چې بيله دې چې دخپل اولاد سره مشوره وکړي هغوی ته کوزده او يا هم واده وکړي. ښځه او نارينه هغه وخت سره نکاح کولی سي داسلام دنظره چې هغوی دواړه په نکاح کولو راضي وي. كه چيرې په دوی دواړوکې يو هم دخپلې نكاح اوګډ ژوند تېرولو څخه راضي،خوښ نه وي، نوددوی دواړوګډ ژوندبه د ډيروستونزو څخه پريمانه وي،داسلامي شرعت دنظره دنارينه اوښځي نكاح دايجاب اوقبول په نشتون كي صحت،رواوالى نه لري:اړينه ده چي نراوښځه ايجاب اوقبول وکړي اودنکاح اوګډژوندتيرولولپاره يوبل خوښ کړي.

مګر دا خوښي په دې معنا هم نه ده چي داسلام ددين داحکاموڅخه په کي سرغړونه وسي او په ټولنه کي بي حيايي ته لمن ووهل سي. په نكاح کي دولي ياسرپرست خوښي هم اړينه ده خپل سري نكاح كول هم دفسادزيږولو لامل كيدای سي.که چيرې يو موراو پلار غواړي چي د اولادونو ژوند دې يې په خوشحالۍ کي تيرسي : بايد هغه وخت چي دهغوی نکاح کوي دهغوی رضا يت (خوښي) دځان سره ولري، بيله دې چي هغوی راضي نه کړي هغوی ته نکاح کول دهغوی ژوند خرابول دي اوياده نکاح نه ده.همداسي موږ او تاسو ټوله اړيوچې ديوبل سره مشور وکړو:

ځکه داسلام په مبارک دين کي مشوره کول دمؤمن دصفاتو څخه يو صفت دی او دبشريت ستر لارښود حضرت محمد (ص) به تل دخپلو ملګرو او هغه خلکو سره چي ده مبارک به ورسره ناسته ولاړه کول مشوره به يې ورسره کول.په مشوره کولو سره ديو انسان عزت نه کميږي، بلكي نور هم عزتمند كيږي. مشوره کول موږ دستونزواو کړاونو څخه ليري ساتي.کله چي موږمشوره كوونكي واوسونو هيڅ وخت به موږ دخفګان،ماتې اوناکامۍ سره مخ نه سو!

---

## دمشرانو(ډيرعمرلرونکو) درناوی کول

مشران هغه څوک دي چي زموږ څخه مخکي دې فاني نړۍ ته را غلي وي، او زموږ څخه په عمرکي مشران . يادکسان که چيرې نارينه وي هغوی ته په عامه اصطلاح سپين ږيري،بوډاګان اوكه چيرې ښځينه وي هغوی ته سپين سري،بوډيانې ويل كيږي، ياد نومونه په پښتو ژبه كي دپښتنو دلهجوله اړخه بدلون کوي، تو پير په کښي راځي اوپيښتانه ددې عمرلرونكو لپاره نورنومونه هم کاروي. ددې ضعيفو کسانو احترام او عزت کول پر موږ او تا سو ټولو مسلمانانو لازم د او موږ بايد ديادو کسانو سره نيک سلوک او ښه چلند وکړو. هغوی ته سپکاوی(توهين) ونه کړو. ياد كسان چي اوس پر لاره سم تګ نه سي كولى يوخت زموږ او ستاسو په څير ځوانان وه او دوی هم زموږ اوستاسو په څير خپل دځوانی وخت چي دپياوړتياوخت دی په کارکولو او خلکو ته په خدمت کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تیرکړی دی. داضعیفه کسان اوس هم غواړي چې زموږ اوستاسو ځوانانو په شان ژوند وکړي، کاروکړي،هیواد او خلګوته خدمت وکړي، مګر افسوس چې دوی ضعیفه،بوډا سوی دي،نه سي کولی چې ټولنې ته کاراو خدمت وکړي او زموږ او ستاسوځوانانو په څیرالله (ج)عبا دت وکړي.

دیادوکسانو زړونه هغه وخت سخت دردکوي چې کله هغوی ته موږ خدای(ج) مکړه سپکاوی کوو او یاهم ورسره نیک سلوک نه کوو.داسلام مبارک دین ضعیفه او دډېر عمر لرونکو ته دعزت اواحترام درلودلو توصیه کړې ده ، دهغوی درناوی کول یې نیکي ګڼلې ده او دهغوی احترام کول ښیګڼه بولي.داسلام دمبین دین پیغمبر حضرت محمد(ص)او دهغه یارانو تل دضیفو انسانانو احترام کړی دی،دښه خوي خاوند هغه څوک دی چې دمشرانو احترام ولري. کوم څوک چې دمشرانو احترام نه لري او پرکشرانو رحم نه لري هغه شخص په اصل کې دخپل ځان قدر نه کوي اوټولنه هغه کس ته په سپک نظر ګوري !

دډیرعمرخاوندان هغه څوک دي چې هغوی دخپل ژوند څخه ډېرې تجربې لاسته راوړي دي  او موږ او تاسو دهغوی سره په ناسته ولاړه دژوند ددې سترې اوګړندي سفر دبریالیتوب لارې چارې زده کوو،دژوند دلارو دګړنګونو په اړه معلومات لاسته راوړو.موږ اوتاسو باید دمشران دنصحتونواوتجربو څخه پوره ګټه واخلو او دمشرانو(بوډاګانو) سره باید ډیر وخت تېر کړو،هتمن مشران وه موږته دنیکۍ څخه ډکې او داسې ویناوې کوي چې زموږ دژوندانه تیاره ګوټونه روښانه کړي،موږ او تاسو ته نیغې او برابرې لارې په ګوته کوي او دې ته مونه پرېږدي چې پر ناسمه،غلطه لاره قدم کیږدو. راسئ چې دمشرانو،ضعیفو کسان سره مرسته وکړو، دهغوی احترام اوقدر وکړو،ترڅومو دژوند یوبل اړخ هم ښائیسته کړی وی اوداسي یو څوک واوسو چې اخلاق لرونکی اونیکي کوونکی وی.

---

## پخلاینه

موږ اوتاسو مسلمانان ټوله سره وروڼه یوو. موږ اوتاسو ځینې وختونه دیوبل سره دنظراختلا ف پیداکوو، ددې اختلاف له عمله ځینې وخت دیوبل سره لفظي شخړې کوو او یاهم یوبل ته لاس سره اچوو، چې ددې عمله موږ بیایه خپل منځ کې سره خفه کیږو وختونه وختونه په خفګان کې تیروو، وختونه تېرسې خوزموږ ترمنځ پخلاینه منځ ته نه راځې. داخفګان زموږ تر منځ کینه او بغض نور هم زیاتوي اونور هم دیوبل څخه زړه بدې کیږو،چې یادکار زموږ پرشخصیت او اخلاقو بده اغیزه کوي. زموږ څخه ټولنه لیر والی اختیاره وي. کینه بغض او خفګان پرموږ زموږ پرکورنۍ او هتازموږ پرټولنه بده اغیزه کوي او ورته ډول ډول ستونزې را ولاړه وي. دبشریت ستر لار ښود حضرت محمد(ص)فرمایي: هیڅ سړي ته نه ده رواچې تردرو ورځو پورته خپل مسلمان ورور پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کله سره مخ سي دادوري مخ واړوي اوهغه دوري .ددوی غوره هغه دی چي اول سلام ووايي.①

موږ ديو بل سره په بد چلند ديو بل سره په بغض کولو ګټه لاسته نه راوړو، دې ته به هيڅ اړتيا نه وي چي موږ دې په خپل منځ کي خفګان اختيارکړو،ځکه موږ مسلمانان ديو بل څخه هيڅ وخت ليري نه يوو، موږ بايد خپل په منځ کي تل يوالی او اتفاق ولرو،پرې نږدو چي دشراچوونکو په لمسون خپل ځانونه ديو بل څخه ليري کړو.موږ ورنه يو ددې سربيره څنګه ديوبل سره کينه او بغض کولی سو، څنګه په يوبل پسي،بدووايو ،اوولې نورو خلګو ته ددې پر ځای چي ګټه ورسو زيان ورته ورسوو،

ولې نور هم وهڅوچي زموږ په شان دوی هم کينې او بغض ته په خپل زړه کي ځای ورکړي او خپل ځان په لمبوکي وسوځي؟ که چيرې خدای (ج) مکړه زموږ او ستاسو ترمنځ يوه ستونزه پيښيږي نو بايد دا ستونزدخپلو مشرانو اودوستانو په مرسته سره حل کړو او پرينږدو چي داستونزه دې دومره لويه سي چي زموږ تر منځ دي خفګان منځ ته راوړي، موږ دې ديوبل څخه ليري کړي. هيڅ وخت بايد موږ خفګان اختيارنه کړو او کوم څه چي اختيارؤ هغه بايد مينه او دوستي وي. خفګان ته بايد هيڅ وخت پنا يونه سو، بلکي موږ بايدتل ددوستی ملګري وه اوسو او تل په هر ډول حالاتو کي پخلاينه اختيار کړو.ديوبل څخه بدوړل او خفګان اختيارول زموږ څخه خوشحالی اخلې او موږ او تاسو يوښه او دخوشحالۍ څخه ډک ژوند ته نه پريږدي.پخلاينه هغه نعمت دی چي موږ کولی سو چي يو بل ته ګټه ورسوو، ديوبل خبرو ته غوږ کيږدو،ديوبل دستونزو څخه خبر سو،يوبل ته خپل غوښتنې ورسوو، ديوبل سره مرسته وکړو،اواتفاق منځ ته راولوو.کينه او خفګان موږ ديوبل څخه ليري کوي، ديوبل غوښتنې نه سو اوريدلی، نيکې مودمنځ وړي، موږ دکډنې اوخفګان په حلت کي داسي احساس کوولکه دټولې نړۍ غمونه چي زموږ پرسروي،په يادوحلتونوکي موږهيڅ وخت دخوشحالۍ احساس نه کوو، تل دټولنې څخه ليروالی اختيارؤ.موږ او تاسو بايد کينه او خفګان چي زموږ دزړه مرض دی او زموږ پرو جود او روح (مغز) دواړوبده اغيزه کوي اختيار نه کړو.موږ او تاسو بايد په خوشحالی خپل ژوند پرمخ بوزو، نه ديوبل سره په خفګان کينه او بغض کولو. داسلام مبارک دين موږ مسلمانان ديوبل سره په مينه، وروروليی، ښه چلند،اواتفاق سره امرکړي يو او هيڅ وخت يې دې ته نه يو هڅولي چي يودبل سرکينه او بغض وکړو.

موږ مسلمانان بايد ديوبل په بديوو پسي ونه ګرځو. ددې پر ځای چي دنورو بدی لټوو بايد خپلې بدی دمنځ يوسو، پريوبل بد ونه وايو او په يو بل پسي دځان څخه خبرې ونه تړو.خپلو ورونواو خويندوته بايد په ژبه اولاس سره زيان ونه رسوو. هيڅ وخت موږبايدټولنه ديوه بداو شررسوونکي انسان په توګه ونه پيژنی،ټولنه موږبايد د نيکي کوونکی او خيررسونکی انسان په توګه وپيژني.



١- صحيح بخاري کتاب الادب حديث کنه 6076

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ژوند باید دیو بل څخه په کرکې نفرت او خفګان کې تېر نه کړو.ددې پرځای چې دیوبل څخه نفرت کوو، باید دیو بل سره مینه وکړو، خپل دالنډ ژوند په ورور ولۍ اوپخلاینه کې تیرکړو اوپرې نږدو چې خفګان دې زموږ ژوند ته داخل سي اوموږ ته دې زیان ورسوي.

---

## په غیري قانوني اوپټ ډول سره خارجي هیوادونو ته سفر،دسفر په دوام او هغه هیواد کې بدې پېښې

په غیري قانوني توګه خارجي هیوا دونو ته سفر او تلل زموږ په هیواد کې ډېر اوکچه یې ډېره لوړه ده. دا سفرونه ،په قاچاقي لارو تلل، دخپل هیواد پریښودل، او تیښته ډیر وخت دجنګ جګړو،بې وزلۍ، ښه ژوند کولو او ځینې وختونه دشوق څخه هم زموږ ځینې هیوادوال خپل هیواد پریږدي او نورو هیوادو نو ته سفرکوي. قاچاق کوونکي او ځینې نورې ډلې دخپلو شخصې ګټولپاره زموږ هیواد وال په ډوډول خبرو سره غولوي.چاته دښه ژوند او هوسایني، چاته دپیسو او چاته هم دعیش او حشرت خبرې کوي چې په پایله کې یې زموږ ځینې هیوادوال دهغوی په خبرو غو لیږي په پټ او قاچاقي ډول یوخارجي هیوادته دتللو لپاره زړه ښه کوي. په قاچاقي لاروتګ،سفر هیڅ وخت دځاني،مالي اومعنوي خطرونو څخه خالي نه وي.خارجي هیواد ته دتللو پر مهال زموږ هیوادوال دډول ډول ستونزو سره مخامخ کیږي. ځیني سفر کوونکي دسفرپرمهال پرلارې باندي دلوږې او تندې څخه ومري،ځیني نور په سمندر کي غرک اودکبانو خورک سي، ځیني نور بیا دپولو ساتو دخوا څخه ووژل سي. کوم کسان چې په خپلې موخې کي بریالي سي او هغه هیواد ته چې دوی یې دتللو اراده کړي وي ورسیږي:هلته دځینو ژوند دغولامۍ څخه کم نه وي. دوی دهغه خارجي هیواد دوګړو خدمت کوي،داسي کارونه کوي چي خپل په هیواد کي به یې هیڅکله ونه کړي،مګر په یوه خارجي هیواد کي نه په هغه کار سترې کیږي او نه هم په شرمیږي. هغه خبرې او ناسمي ویناوي چي زموږ هیوادوال یې دخارجیانو څخه دهغوی په هیواد کي اورې هیڅ وخت به داونه زغمې چي دخپل یوه هیوادوال څخه یې واورې، ځکه دوی مجبوره دې چي په یو پردي هېواد کي هرڅه وزغمې هغه که درانده کارونه او که دپردیو دخوا دوی ته سپکاوی او پیغورونه وي.

زموږ اوستاسو هیواد والو ته په خارجي هیوا دونو کي سپکاوی کیږي، په ډول ډول نومونو سره نومول کیږي، هر وخت هغوی ته پیغور ورکول کیږي دهیواد دپریښودلو، دبي وزلۍ، دبي علمۍ، جنګ کوونکو، هیواد خرابوونکو او دې ته ورته نورډیر پیغورونه ...

زموږ ځینې هیودوال چي کله په یوه خارجي هیواد کي میشت سي،نو دهغه هیوادفرهنګ دود، کلتور خپل کړي: داکار هیڅ وخت دمنلو وړنه دی. دپردیوو فرهنګ،کلتور خپلول اسلامي احکام هیرول، خپل کلتور هیرول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنورودمذهب کلتور او ژبې منل خپله ژبه هيرول او هغه خپل هيواد ته راوړل، زموږ ددين کلتو او ژبې په زيان کړنې دي. ياد کسان هيڅکله دا حق نه لري چي زموږ دهيواد ديوه اوسيدونکي او يوه افغان دعوه وکړي. يادکسان هيڅ وخت زموږ څخه نه دي اونه هم موږ او تاسو هغوی ته اجازه ور کوو چي زموږ دنوم څخه منفي ګټه واخلي.

پورته ياد سوي کسان تل دخپل هيواد خرابي غواړي دوی دخپل فرهنګ دښمنان دي.کوم هيوادوال چي موخپل هيواد پريږدي دجنګ جګړو او اقتصادي ستونزو له عمله، که چيرې دغه هيواد وال مو دلته په هيوادکي دسولې، ارامۍ او داقتصاد دغوړيدا او پياوړتيا لپاره دزړه له قومي هڅه او زيار وباسي، باوري يم چي ډير ژر به زموږ هيواد دهغو هيوادونو څخه وروسته نه وي کوم هيواد ونه چي موږ دميشتيدو لپاره ټاکلي دي.

حقيقت خودادی چي همدا موږ او تاسو يو چي هيواد مودر دې حده را رسولی دی: چي اوس دخپل هيواد څخه تښتو او پريږدو يی. موږ او تاسو زيار نه دی ايستلي په خپل هيواد کي، زموږڅخه ځينې تل ځان خوښوونکي اوځان غوښتوونکي پاته سوي دي.موږځينو تل دا غوره ګڼلې ده چي درقيبو پر ديوو څخه مرسته وغواړو،تل مودرقيبوپرديوو په لمسون خپل هيواد د اور په لمبو کي سوځلی دی.

په يوه اوبل نوم سره يو بل غندو او سره وژنو. موږځيني تيروتلي! رقيبواوغمازو پرديوو داسي ګڼلې يو لکه دبازي توپ، يومو يوې خواته په پښه وهې اوبل موبلې خواته په پښه وهي، همدا موږ يو چي خپل هيواد مو دپرديو په لمسون دردې حده را رسولی دی: چي اوس رقيبواوغمازو پرديو ته پناءوړو. ډير زموږ څخه په خارجي هيوادو نو کي ميشت دي اوهلته په بيلابيل ډول زورول کيږي. که موږ يوالی ولرو،يوبل ته ګټه ورسوو، پوهه،علم حاصل کړو،نوزموږ هيواد به ډير ژر دلوی خدای (ج)په مرسته ددې شته ناخوالو څخه خلاص سي، يو سوليزاو پر مختللی هيواد به سي، نړۍ والو ته به يومثال سي.

موږ او تاسو بايد ددې پرځای چي مغرض، شر رسوونکي خلګ راڅخه کار واخلې او خپل په ګټه مو استعمال کړې،نو بايد خپل ټول قوت،پياوړتيا او انرژي خپل په هيواد کي مصرف کړواو نور دنورو دخدمت کولو څخه ډډه وکړو.که موږ په پردي هيواد کي هر څومره کار وکړو:

زموږ دکاراصلي ګټه هغه هيواد ته رسيږی او ډيره لږ ګټه زموږدزحمت ګاللو چي هغه هم زموږ شخصي ده موږ ته رسيږي. که موږ خپل په هيواد کي کار وکړو زحمت وګالو زموږ دشخصي ګټې ترڅنګ زموږ دکارګټه زموږ هيواد ته هم رسيږي،که څه هم زموږ شخصي ګټه لږ وي مګر موږ بايد دخپل هيواد لپاره دا لږ ګټه قبوله کړو، خپل در شخصي ګټو دهيواد ګټه موهيمه وګڼو اودهيوادګټې ته حق داوليت ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشويق کول اودتشويق اغيزې

ديوشخص تشويق کول ديوه غوره اوکاميابه کار څخه ورسته هغه ښه او پر ځای کړنه ده چي هڅه کوونکی اوغوره کارکوونکی دې ته اړباسي چي نور هم خپل په غوره او ښه کار کي زيار وباسي او پرمختګ په کښي وکړي. تشويق کول بايد په لومړي سرکي دمورپلار اودکورنۍ دنورو غړو دخوا څخه وي. که زموږ ماشومان او زموږ اولادونه او دکورنۍ نور غړي په يوه کارکي دځا نه وړتيا ښيي او خپل کارونه په ښه ډول سره سرته رسوي، موږ يې بايد تشويق کړو. هغوی نورهم دښوکړنو کولوته وهڅوو.

هيڅکله بايد هغه کسان چي په رښتيا هم غوره او ښه کارکوي دخپلونيکو کړنو دکولوڅخه ناهيلي اوپښيمانه نه کړو. دزيار ايستونکو کسانو تشويق کول، دهغوی سره يو ډول مرسته کول دي.

په خپلوکارونوکي بريالي او زيارايستوونکي اشخاص بايد هغه وخت تشويق او نور هم وهڅو ،چي کله هغوی په يوه نيک او ښه کاربوخت او په هغه کارکي دځان څخه وړتياوي ښيي.

هيڅ وخت هغه کسان بايد تشويق او وه نه هڅول سي چي هغوی بدکاره او داسي کارونه کوي چي دټولني او زموږ او ستاسو دخلکو په زيان وي، ځکه که دهغوی سره زموږ تشويق او هڅول ملګري وي نو هيڅکله به دخپل ناسم او زيان رسوونکي کارڅخه لاس وانه خلي او تل به فکر (آند) کوي چي زه پرحقه يم او سمه لار مې غوره کړې ده.

په يو ښه کار کي هڅه کول او بيا دټولنې دخوا څخه تشويق يوکس ته لا زياته پياوړتيا وربخښي. که ديونيک کارکوونکی سره دټولنې تشويق ملګری نه وی نو ورو ورو هغه کس چي نيک کار کوی دخپل کار څخه پښيمانه کيږی اوفکر کوي چي ټولنه زمادکارونو څخه راضي(خوښه) نه ده، نو بيا ولې زه نور هم زيار وباسم؟

همداشان فکر دکورنۍ يو غړی هم کوي، کله چي هغه دخپلې کورنۍ دغړو دخوا څخه نه تشويق کيږي.

هر وړاولايق شخص بايد وستايل شي اوورته دلانور زيارايستلومشوره ورکول شي،نه داچي زموږ اولاد زموږ دکورنۍ يو غړی اوياهم زموږ دټولني يو غړی دې دخپل ځانه وړتيا ښيي اوموږ دې هغه نه تشويق کوو.

ټول زيار ايستوونکي او ښه کارکوونکي دستا يلو وړدي.

هيڅ وخت بايد موږ اوتاسو هغه کسان چي په يو ښه او روا کارکي زيار باسي بې همت نه کړو،که مو تشويق نه کړل دهغوی زړه هم بايد دخپل کار څخه ورمات نه کړو،تل هڅه وکړو چي دهغو کسانو سره چي زيار باسي، دټولنې لپار خدمت کوي مرسته وکړو، هغه وستايوو ترڅو هغوی نور هم زيار وباسي او پر خپل کړواوکونکونيکو،ښو کارونوپښيمانه نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتفاق او یوالی

یو ټولنه هغه وخت سولیزه،هوسا، ارامه او پرمختګ کولی سي چي کله په یوه ټولنه کي یوالی (اتفاق) شتون ولري. ټوله وګړي یې په یوه ږغ او دریوه چترلاندي ژوند کوي. هرډول خطر او مشکل ته ټوله په ګډه ودریږي پري نږدي چې ستونزه او خطر ددوی منځ ته داخل سي جرړې په کښې وغځوي او دیوبل سره مرسته کوونکي وي.

مګرهغه ټولنې او وګړي هیڅکه سولیز دشخړو څخه خلاص،هوسا او رام ژوند نه سي درلو دلی په کومه ټولنو کي چي بې اتفاقي وي،دیوبل په غم نه غمجن کیږي، دستو نزو او مشکلاتو په وخت کي دیوبل لاس نیوی نه کوي، تل دا هڅه کوي چي څنګه یوبل دمخې لیري کړي او تل په دې فکر کي وي چي په کومه طریقه کولی سي چي یو بل ته زیان ورسوي،دا ډول فکر درلو دونکي اشخاص او ټولنې تل ونورو ته محتاج وي اوهتا ځیني خویې دنورو ترلاس لا ندي ژوند کوي.

داډول ټولنې چي یوالی نه لري،تل په اوروکي سووځي، او تل یې سیالان په دې هڅه کي وي چي نور هم ددوی په منځ کي بې اتفاقي راولي.کله چي یوملت اویوه ټولنه یوالی ولري، که هغه هر څومره کوچنی ملت او ټولنه هم وي، که هر څومره ضعیف اقتصاد ولري او که هرڅومره ورسته پاتې وي، مګرکه هغوی یوالی او اتفاق ته ژمن اوسي هغوی به په ډېره کمه موده کي پرمختګ وکړې،یوه پیاوړي ټولنه به ترینه جوړه سي.

هیڅ وخت یوډله نسي کولی چي یوې ټولنې ته زیان ورسوي، مګر دوی ته هغه وخت زیان ورته رسوي یا ورسولی سي چي دوی په خپل منځ کي یوالی ونه لري.مسلمانان ټوله سره وروڼه دي او هیڅ یو مسلمان دبل مسلمان څخه بحتراوغوره نه دی، مګر غوره والی او بحترې دیو مسلمان په بل مسلمان باندي دهغه علم او نیک اخلاق دي. په اوس وخت او یانني عصر کي دمسلمانانو تر منځ څنګه چي بنایي هغه سي یوالی شتون نه لري، او دمسلمانانو په منځ کي بې اتفاقي حا کمه ده؟دا بې اتفاقي ددې سبب ګر ځیدلي ده چي مسلمانان ورسته پاتي سي،وروڼه!

مسلمانان په یوه اوبل نوم سره وژنې او یوبل ته زیان رسوي، حال داچې زموږمسلمانانو په مینځ کي باید هیڅ وخت یو وړه ستونزه لا هم پیښه نه سي، ځکه موږ ته الله (ج) قرآنکریم غوره کتاب را کړی دی، دمحمد (ص) حدیث زموږ سره شتون لري او هیڅ داسي کوم څه نشته چي زموږ په شریعت کي دې دهغه دحل لاره نه وی: نو بیا ددې سرېیره موږ ولې یوبل وژنو اویو بل ته زیان رسوو؟ معلومه خبره ده چي موږ په خپل بشکلي اسلامي شریعت عمل نه کوو، موږ او تا سو وروڼه پرناسمه لارروان یو او تر څو چي موږپه خپل اسلامي شریعت په ربښتیاهم عمل ونه کړو، نو ددې ستونزو څخه به ونوزو! موږ او تاسو وروڼه باید دیوبل دغلطیو څخه ورتېر سو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه اشخاص چي غلطي کوي باید یوه داسي لاره ورته په ګوته کړو چي په راتلوونکي وخت کي بیا هغه غلطي تکرار نه کړي. کله چي یوه ټولنه دستونزو سره لاس اوګریوان وي نو یو لوی سبب به ددوی دورپیښو ستونزو دهغوی تر منځ بي اتفاقي وي. یوالی او اتفاق هغه درمل دي چي په استعمالولو سره یي موږ دټولو نارو غیو څخه ژغورل کیږو. بي اتفاقي هغه زهر دي چي په استعمالولو سره یي زموږ وجود دکاره لویږي،ضعیفه کیږي ،په یوه وارټولي ناروغۍ راباندي حمله کوي او موږ دمنځه وړي.
که چیرې غواړو چي په خپل کور،کلي او هیواد کي خوشحاله،هوسا او ارامه ژوند ولرو، نوباید په خپل منځ کي یوالی او اتفاق ولرو. تل باید یؤداسي احساس راسره وي چي دنور په زیان خفه شو او دتوان ترحده دهغوی سره مرسته وکړو. زموږ په منځ کې به هغه وخت هیڅ څوک لاس وهنه ونه کړي، کله چي موږ یوالی او اتفاق ولرو او ټوله په یوه ږغ هرخطرته ودریږو. خوشحالي او سوکالې په یوالي او اتفاق کي ده. غم او خفګان په بي اتفاقي شتون لري.

---

## په یوه ټولنه کې وړاو په کارپوه مشران ټاکل

زموږ ټولنه کلونه کیږي، چي دجنګ په لمبو کي سوځي. زموږ ټولنه دهمدې جنګ جګړو له کبله په ډېر برخوکي دستونزو سره مخ ده. دعلم او پو هې نشتوالی، اقتصادي ستونزې، معلولیت وژنې،روحي او جسمي ناروغۍ، ناحقه او په زیاته کچه ظلمونه، دپردیو لاس وهنه، دتاریخي اثارو دمنځه تلل او لوټول ،زموږ دمادې اومعنوي شتمنیوو دمنځه تلل اودورکیدو دخطر سره مخ کیدل، دا اودې ته ورته ډېر نور مشکلات او زیانونه موږ ته دجنګ او جګړو له کبله راپیښ سوي او موږ ورسره لاس او ګریوان یو.
جنګ ولې موږته را پیښ دی؟ زما په آند جنګ اودجنګ دوام لاندي څولوی لاملونه لري. زموږ اوستاسو ترمنځ بي اتفاقي، دپوهې نشتوالی، اقتصادي ستونزې، دمغرضوهیوادونولاس وهنه، چي موږ او تاسو هغوی ته ددې لاس وهنواونیابتي جګړې زمینه برابره کړې ده. دپه کارپوه اووړمشرانو او رهبرانو نه شتون، او دې ته ورته نور لاملونه.
زماپه آند خلګواو ټولني ته منلی رهبر داکولی سي چي پورته لا ملونه دمنځه یوسي او یوه ټولنه دي پر مختګ وکړي.موږ او تاسو ایماندارو،متقي (پرهیزګارو) ،زړسواندو،نیک سلوکه، وړه په کارپوه او داسي مشرانوته اړتیا لرو چي دټولې جامعې لپاره خدمت کوونکي وي نه دیو څوکمو وګړو لپاره. یومشر یا رهبرباید یوازې دځان اوخپلو خپلوان په فکرکي نه بلکي دټولو هیواد والو په فکر کي واوسي،مګرنن ورځ زموږ اوستاسو ځیني رهبران داسي فکردرلودونکي دي چي دځان او څو محدودو کسانو څخه پرته نورې ټولنې لپاره کاراوخدمت نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې پرځای چې رهبران مو ټولنې ته خدمت وکړي خپل ځان او څو نورکسانوته خدمت کوي، زموږ اوستاسو ځينې مشران، رهبران نه خوپه کار پوه دي، نه خومهربانه دي، نه متقي (پرهيزګاره)دي او نه هم ټولنې ته خدمت کوونکي دي. دوی ولې رهبران سوي دي علت يې څه سي دی؟

همدا موږ اوتاسو يو چې دوی مورهبران ټاکلي دي. هغه که څه هم موږ نه دي ټاکلي، خو دلږ غوراوفکرکولو ورسته که موږمتوجي شو دهرلوړپوړې او ټيټ پوړې مشر ټاکوونکي په اصل کي موږ او تاسو يو.

موږ اوتاسوکه چيرې په يوه خوله او يوه ږغ سو نو دهرې راولاړې سوې ستونزې مخه نيولی سو! ځيني رهبرانو له دې کبله دټولنې يا دټولنې ديوې برخې واکمني په غاړه لري چې دوی ظلم کوونکي وه يادې يادوی ځينې نورې مادې يامعنوي شتمني درلودلې، دا اودې ته ورته نورعلتونه دي چې نن دوی زموږ مشران دي. ياد رهبران خپل ټاټوبي اوټولنې ته هيڅکله خدمت نه سي کولی!

ددې پر ځای چې عامووګړو ته خدمت وکړي،برعکس هغوی ته زيان رسوي او عامو وګړو څخه خدمت غواړي،پر ځينو عامووګړو ظلمونه کوي،دټولنې دځينووګړو ترمنځ نفاق راولي او نه پريږدي چې ددوی درواک لاندي عام خلګ خپل ژوند په ارام اورحت سره پر مخ بوزی.

که څه هم ځينې ددوی څخه په ښکاره خو دخدمت دعوه کوي او ځان يوښه اونيک رهبرمعرفي کوي، مګر دوی دالله(ج) اوځينې وخت دهغه دبندګانو څخه خپلې بدۍ نه سي پټولی او ددوی هره بده کړنه الله(ج) وينې، او دهغه دځينو بندګانو څخه دهغوی بدۍ هيڅکله هم نه سی پټيدلی.

داخبره موږ اوتاسو ته اوس تجربه سوې او معلومه ده، چې هيڅ وخت يوټولنه درهغو پوري پر مختګ نه سی کولی تر څوچې: دهغه ټولنې رهبران يوازې او يوازې دخپل ټولنې لپاره خدمت ونه کړي،ترڅو چی رهبريې په کارپوه او دخپلې رهبرې لپاردهراړخه وړنه وي.

موږ اوتاسو عام خلګ بايد دنيکو رهبرانو په ټاکلو کي دپوره دقت اوغور څخه کار واخلو، ترڅو داسي رهبران دخپل ځان او ټولنې په سرامران کړو چې موږته خدمت،کار وکړي، نه دا چې زموږ څخه خدمت وغواړي.که چيرې موږ يوداسي کس رهبر وټاکو چې هغه دالله (ج) داحکامو څخه سر غړونکی وي، نو موږ او تاسو به هم دهغه سره دده په هره ګناه کي ونډه وال يو، که چيرې موږ يونيک او وړه رهبر وټاکو نو دهغه سره به دهغه دنيکيو په ثواب او اجرکي ونډه درلودونکي يو.

الله جل جلاله موږ دنيکی په کارونوکې دټولوسره په مرسته کولو اودګناه ،تيري اوبدی په کارونوکي په نه مرسته کولو امرکړی يو!په دې خبره دلاښه پوهيدلو لپاره د سُوۡرَةُ المَائدة 2نمبرايات ولولئ.

که زموږاوستاسو رهبران همدا مهال وړ په کارپوه او خدمت کوونکي نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړ او تاسوباید دنیکو، ربښتینواو ایماندره مشرانو په مرسته هغوی دخپل مقام څخه لیري کړو او پري نږدو چې زموږ مشران دي ددې پرځای چې موږ ته خدمت وکړي موږ ته دي زیان ورسوي.ولس باید هیڅ وخت دداسي مشرانو پاتي کیدل پرخپل ځان باندي ونه زغمي چي هغوی دوی ته مشکلات زیږوي او دهغوی کړنې دهیواد او هیوادوالو په زیان تماميږي.دعامو خلکو دا مسؤ لیت دی چې دهغه مشرانو پروړاندې غږاوچت کړي او چوف پاته نه سي،کوم رهبران چې دهغو دندو وړنه وي چي اوس هغه دندې ددوی په واک کي دي. ولس دهرظالم او ګونهګاره مخه نیولی سي، په شرط ددې چې هغوی یوالی ولری. رهبري (مشرې) موباید عادل او انصاف لرونکي انسانان وکړې نه ظالمان او غرور کوونکي. که چیرې عام خلګ دداسي بدو اونا اهله مشرانو پر ضد راپورته نه سي غږ پورته نه کړې او خپل همت دلاسه ورکړي، نو دخپل ځان اونورمسلمانانو په حق کي به یي ظلم کړی وی اوتل به ددوی بي زړه توب او کم جوړتې له عمله پردوی باندي ظالمان اونا اهله اشخاص مشري او رهبري کوي،البته دیادونې وړده چي داسلامي هیواد دپاچا پروړاندې دهرډول سرغړونې څخه مسلمانان منعه سوې دي.رسول الله (ص)فرمایي:ستاسوپه امامانو(امرانو)کي غوره امامان هغه دی چي تاسویي خوښوئ اوهغه تاسوخوښوي، هغه ستاسولپاره دعاءکوي اوتاسودهغه لپاره دعاءکوي، اوستاسوبد امامان هغه دي چي تاسودهغه دښمنان یاست اوهغه ستاسودښمن یې، تاسوپرهغه لعنت وایاست اوهغه پرتاسولعنت وایي، خلګوویل: اې دالله رسوله! ایا داسي بدامامان په توره دفع نه کړو؟ رسول الله (ص)وفرمایل: نه،ترڅوچي هغوئ لمونځ اداکوي اوکله چي تاسودخپل امام په اړه یوه خبره ووینئ نوپه زړه سره هغه بدوګڼئ مګردهغه له پیروی څخه مه وځئ.① الله (ج) دي موږ اوتاسو دشررسوونکودشر څخه خوندي وساتي.

درهبریامشردتولنې په وړاندې مسؤلیتونه:

رهبریامشر دهر هغه کس دحساب په ورځ حساب ورکوونکی دی چې پریاد رهبریي حقونه وه، مګرده دهغو حقونه نه وه ورکړي اودهغوپرحقونویي سترګې پټولي. که چیرې پر یوه سیمه باندي حاکم داحساب ورکولی سی چي دده ترلاس لاندي هروګړی به دده ګریوان نیسي او دمحشر په ورځ به دالله (ج) په وړندې دهغه څخه دخپل حق غوښتنه کوي اودی به دهغوپه حق نیول کیږي، نو دی دي ددې سترې ننګوانې په شتون کي پر خپل عوامو ظلم کوونکی اوسي او دهغوی حقونه دې هغوی ته نه ورکوي،یاد رهبرهغه څوک دی چي هغه په حقیقت کي خپل اخرت ددې دونیاپه بدل کي په ښکاره پلوري اوبدي کوي.که دالله(ج) خوښه وه نو دهر حاکم یامشر څخه به حساب دمحشر په ورځ وغواړې اوهغه ته به انشاءالله اجرونه دنیکیوو او عذا بونه دبدیوو په بدله کي ورکړي.الله جل جلاله دمحشر،حساب په ورځ دیوې زرې نیکی اویوې زرې بدی حساب کوونکی دی په دې خبره: دلاښه پوهیدلو لپاره د سُوَرَةُ الزّلزَلَة : 7:۸ نمبرایاتونه ولولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



١- صحیح مسلم کتاب المارت حدیث ګڼه4804



ددې سترې ننګونې په شتون کي،دزړسوي وړهغه رهبردی چې هغه هم دخدای (ج) په نزد ګنهګاره وي او هم دهغه جل جلاله دهغوبندګان حق خړونکی وي چې دی يې الله(ج) مشر، رهبر کړی دی.

که چیرې یو مشر(حاکم)دالله(ج) دبندګانو حق خوړونکی وي، دهغه څخه هغه شخص په زرګونو ځله بحتر او غوره دی چې دسهارخواړه پیداکړې نو دماښام خواړه نه لري ،که د ماښام خواړه پيدا کړې نو دسهار خواړه نه لري او په هغه حال کی هم دی دالله(ج) شکرکوونکی وي.یوشخص که چیرې د دووتنو پرسرلاهم حاکم وي، نو باید هغه وخت دی دا مشرې وکړې چې دی کولی سي ددغو دوتنو دحقونو څخه په ښه ډول ساتنه وکړاي سي، دهغو دحقونو حساب په دې دونیا اواخرت کي په پوره اوښه ډول ورکولی سي اودی هم هروخت دخپل ځان سره ددې دووتنو په اړه دځان سره حساب کوونکی وی.

که کوم څوک دخپل ځان دحقوقو حساب الله(ج) ته نه سي ورکولی:هغه وخت به څنګه دهغه جل جلاله دنورو مخلوقاتو حساب چې دده سره به کیږي خپل خالق (ج)ته ورکړي.دحساب په ورځ به نیک بخته هغه څوک وي چې یوازي دخپلوکړنو حساب الله(ج) ته ورکړي او کامیابي یې په برخه سي،دهغه څخه لوی نیک بخته به هغه څوک وي چې دده درواک لاندي وګړو دهغوحقونو حساب کوم چي دی یې مسؤل و په پوره اوښه ډول سره خپل خالق (ج) ته ورکړې. دمشرانو هڅه باید تل داوي چي دخپل دلاس لاندي یعنی عامو خلګوباندي په هیڅ صورت کي ظلم ونه کړې.حاکمان،امامان (رهبران) بایدتل دهغو اشخاصو په اړه فکر وکړې چي زیمواره یې دوی دي او دځان څخه دې پوښتنه وکړې چي آیاهغه انسانان چي زه یې مشریم پر هغوی باندی ظلم کیږي اوکه نه؟ آیا هغوی خواړه لري او که نه؟ آیا هغوی زما څخه خوښ دي او که نه؟

آیا ما پرهغوی ظلم کړی دی او که نه؟ آیا زه دهغوپه منځ کي فرق کوونکي یم اوکه نه؟ آیا ماددوی حق غوښتني اوریدلې دي که نه؟ آیا هغوی زما په حق کي دوعا کوونکي دی که ښیرا کوونکي؟ آیا هغوی ماته یو ښه رهبر وائي او که یا؟ولې هغوی زما څخه نارضه (ناخوښه) دي؟ ما دهغوی خبریا آهوال اخیستی دی او که یا؟ ما هغوی ته دژوند اسنتیاوي راوستلي دي او که مې هغوی په مشکلاتو کي مبتلا کړي دي؟

دا او دې ته ورته پوښتونو جوابونه که یورهبر دځان سره وموندل نوخپلې مشرې ته دي دوام ورکړې او که یې چیرې ددې پوښتونو جوابونه ونه موندل نو ددې پر ځای چي دا فاني نړۍ په خوښۍ کي تېره کړي، بحتره داده چي آبدې ژوندون ته پاملرنه وکړې او اخرت ځان ته هوسا کړې، ددې میلمنې مشرۍ(رهبرۍ) څخه دې لاس واخلې پرکړو ګناهونو دي توبه وباسې اودخپل خالق (ج) عبادت دي وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله (ج) به انشاءالله دهغه تېرګناهونه وروبخښي او هغه ته به جنت ورکړی.
دانړۍ ختميدونکي ده پرهرساکښونکی باندي! هغه که چيرې دفرعون په شان لوی ظالم وی، هغه که چيرې دنمرود په شان مال داره وي او هغه که چيرې دسليمان عليه السلام په شان پاچاهي ولري. غوره داده چې مخکي له دې څخه چې ديو مسلمان حق مو پر زيمه پاته سي نو ددې پاته کيدونکي نړۍ څخه دګوناهونو څخه پاک خپل درب العزت په مخکي ودرېږو او خپل دابدي ژوند کور د ځان لپاره ښکلی جوړکړو.
يودوست دخدای(ج) ديوه پاچا څخه پوښتنه وکړل؟که ته چيرې په يوه دښته کي دتندي څخه مړکيدي او تاته يوکس يو غړپ اوبه ستا په نيمه پاچاهي درکولي ايا ته به هغه قبولي کړي؟ پاچا ويل هو:بيايې ترينه وپوښتل که چيرې ته دهمدغه يو غړپ او بوله کبله په تکليف سي او دغه اوبه دي دبدن څخه نه خارجيږي يعنی تشي متيازي دي نه کيږي او يو طبيب ستا په نيمه پا چاهي باندي ستا دا مرض دمنځه وړي نو ته به هغه ته خپله نيمه پاچا هي ورکړي؟پاچا ويل هو: هغه ولي وويل نودا پاچاهي انسان څه کوي چې ديو غړپ اوبو ار زښت نه لري.①
ددې لپاردي هيڅ يو انسان هم غرور نه کوي چي زه طاقت لرونکي يم، او يا هم زه شتمني لرونکي يم، ځکه طاقت او شتمني زموږ او ستاسو ميلمانه دي. نن به وي سبا به نه وي. انسان بايد عاجزي کوونکی وي نه غرور کونکي. عزت په عاجزي کي پټ دی نه په مغرورې کي. هرمشر او رهبردې دالله (ج) دمخلوق په حق کي ديوزرې په اندازه هم ظلم او زورزياتی نه کوی، ځکه الله(ج) ته کمزوري، مظلومان او مسکينان انسانان په شرط ددې چې دالله(ج) شکرکوونکي وي، دظلم کوونکو، حق خوړونکواونورو ګناه کوونکو انسانانو څخه نږدي او ګران دي انشاءالله. دهغو انسانانو دوعاانشاءالله ژرقبليږي چې الله (ج) ته صبرکوونکي وي، دهغه جل جلاله احکام منوونکي وي اودمسلمانانو لپاره خدمت کوونکي وي.

---

## غيبت کول

غيبت کول هغه عمل دی، چې ځينو انسانانو خپل عدت ګرځولی دی اوخپل مجلسونه تل په غيبت کولو سره ګرم ساتي.
ځيني وګړي تل په دې لټه کي وي چي څنګه کولی سي ديوه مسلمان ورور عيب پيدا او درنورو پوري يې ورسوي، ددې کړني څخه ځيني اشخاص ډېرخوند اخلي، تل ياد اشخاص دنورو هغه کړنې بيانوي چې هغوی کړي وي، دوه مخې کوي او په دې کار کولو سره ځان په لويه ګوناه کي اخته کوي.ځيني خوآن په نور خلکو پسي درواغ تړي چي دې کار ته بهتان وايې.ديوه مسلمان غيبت کول سخته ګناه ده، مګر زموږدټولنې ځيني وګړي خوغيبت کول،درواغ ويل عادي ګر ځولي دي، او ديو ډول وخت تېروني نوم يې ورکړی دی.داسلام مبارک دين غيبت کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- تذ كرةُ الاولياء



بهتان ويل حرام كړي دي،مسلمانانو،مؤمنانو ته يې دغيبت نه كولوحكم كړى دى او كوونكي يې ګناهګاران بللي دى.په دې خبره دلاښه پوهيدلو لپاره د سُوْرَةُ الحُجرَات : ۱۲نمبرايات ولولئ.رسول الله (ص)فرمايي:تاسوپوهيږئ چې غيبت څه شي دى؟خلګوويل:الله (ج)اودهغه رسول (ص)ښه پوهيږي، رسول الله (ص)وفرمايل: غيبت دادى چې ته دخپل ورور يادونه وكړې په داسې توګه چې هغه يې بدګڼي، خلګوويل اې دالله (ج)رسوله كه چيرې زموږپه ورور كې هغه عيب موجودوي رسول الله (ص)وفرمايل: كه چيرې په هغه كې عيب وي نو همدغه غيبت دى اوكه نه نوبهتان دى.①

ځينې وختونه غيبت كول او بهتان ويل لويې ستونزې راولاړه وي او دجنګ جګړو سبب ګر ځي.

په يوه مسلمان پسې غيبت كول دهغه بدى ويل په هغه پسې درواغ تړل يعني بهتان ويل اونور مسلمانانو ته دهغه بدي ښكاره كول او بدي ويل ډيربد او دنه منلو وړكارونه دي.

ځيني وخت دهمدغو غيبت كوونكو غيبت او په نورو پسې درواغ تړل بيا ځيني نور چغلګر اوبد انسانان درهغو كسانو پوري ورسوي چې دهغوى غيبت يابهتان ويل شوى وى.

كله چې درهغوى پوري ياد چغلګر انسانان دغه شوى غيبت او بهتان ورسوي، نو ددوى دواړو اويا هم هتا د دوى دريوواړو ترمنځ ستونزي راولاړيږي اوځيني وخت ددوى ددې بدبينيو زيان ټولنې ته هم رسيږي. موږ او تاسو مسلمانان بايد هيڅ وخت دنور عيبونه ونه لټو ددې پر ځاى چې دنور عيبونه لټو نو بايد خپل عيبونه اصلاح كړو.

يو متل دى چې وايي: دبل عيب دكلو منځ دى او خپل عيب دولو منځ دى. كه مو چيري په توان كي وي نوبايد هغه كسان چې ښكاره او پټ عيبونو لري په نرمه لهجه ورسره خبرې وكړو اوهغوى دخپلو عيبونو څخه خبراو په دمنځه وړلو كي يې ورسره مرسته وكړو،كه چيرې ياده كړنه نه شو كولى نوبايد هيڅ وخت دنورو عيبونه ونه لټو او ښكار( بربنده) يې نه كړو.

رسوالله (ص)فرمايې: څوک چې په دنياكي ديوبنده عيب پټ كړي نوالله (ج)به دقيامت په ورځ دهغه عيب پټ كړي.②

كه موږ ديو چا يوعيب پټ كړو او پرده يې وكړو نوالله(ج) به زموږ دعيبونو پرده وكړې او زموږ عيبونه به خپلو مخلوقاتوته انشاءالله په دې دونيا او اخرت كې نه ښكاره كوي.موږ بايد دهغو انسانانو رازونه هم ښكاره نه كړو چې په موږيې باور كړى دى اوموږته يې خپل رازونه امانتً ويلې وي.

موږ ته غيبت كول بهتان ويل او چغلګرې هيڅ كومه ګټه نه رسوى اونه يې هم رسولى سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



١- صحیح مسلم حدیث ګڼه 6593 ٢- صحیح مسلم حدیث ګڼه 6595



بلکي موږ ته غیبت بهتان اوچغلګري کول یو داسي زیان رسوي چي موږ بیا دا زیان نه سو جبرانه ولی اونه یې هم زغملی سو.دحساب په ورځ به زموږ نیکۍ دهغو کسانو دنیکۍ په پله کي الله(ج) وراچوي چي موږ دهغوی غیبت کوونکي و اویایې هم بهتان ویونکي وو.

آیا زموږ څخه څوک په دې کار سره را ضي (خوښ) دی چي موږ خپل نیک عملونه هغوکسانو ته ورکړو چي دهغوی موږ غیبت کوو اویا هم بهتان پري وایوو؟

معلومه خبر ده چي زموږ څخه ډېردې ته نه دي تیار چي خپلې نیکۍ هغواشخاصوته ورکړي چي دهغوی غیبت یابهتان وایي،حل لاره داده،که غوړو زموږنیکۍ زموږپه حق کي دحساب په ورځ وشمېرل سي، موږ باید دغیبت کولو او بهتان ویلو عدت پرېږدو او هیڅ وخت دا ناوړه کار ونه کړو. راسئ خویندو او وروڼو چي دټولو بدو عملونو او کارونو څخه لاس واخلو او نیک اخلاق لرونکي انسانان و اوسو .

خپل مجلسونه ددې پر ځای چي په غیبت کولو،بهتان ویلو او چغلګري سره خیرن اوناوړه کړو.

برعکس موږ باید خپل مجلسونه دالله(ج) په یادولو،دقرآني آیاتونو په لوستلو، دحضرت محمد(ص) په ویناوو،د اسلامي اوټولنیزو اخلاقو په بیانولو، دهیواد په پیاوړي کولو، بیا رغولو، اونوښتونو په را وستلو باندي بحث او خبرې وکړو،خپلې پرځای ،ګټورې تجربې اونیکې ویناوي دیوبل سره شریکې کړو،نه دا چي زموږ مجلسونه او بحثونه دي تل دنورو په غیبت کولو،بهتان ویلو،چغلګري اونور ناوړو خبرو اوکارونو سره تېرسي، او داقیمتي وخت دي زموږ اوستاسو ده په ګناه کولو کي لاړسي.

---

## پرحیواناتو ظلم

رسول الله (ص)فرمایي:...کله چي تاسوذبح کوئ په ښه ډول یې کوئ چاړه تیره کوئ اوخپلوڅارویوته ارام ورکوئ.①

داسلام مبارک دین پرحیواناتودظلم کولوڅخه مسلمانان منعه کړي دي او پورته حدیث شریف یې یوه بیلګه ده،مګر زموږ او ستاسو په ټولنه کې ځیني وګړي پرمظلومو ژویو ډول ډول ظلمونه کوي، داظلمونه پر حیواناتو قصداً او په ښکاره ډول دټولنې دځیونو اوسیدونکو دخواڅخه سرته رسیږي. دې ظلمونو ته یې دیوډول خوښې،وخت تیروني یاذوق نوم ورکړی دی اوځیني خلګ داظلم کول خپل خوښه او شوق بولي. داظلمونه عبارت دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحيح مسلم كتاب الصيدوالذبائح حديث گڼه5055

په سمندركي دملغلرولټون..................................................................

**لومړی دسپيوو جنګول:زموږ اوستاسو په ټولنه کي سپيان ځيني وخت ددې لپاره ساتل کيږي، چې هغوی ديوبل سره وجنګوي.**

**دسپيوو دجنګ په جريان (دوام) کي سپيان يو بل ژوبلوي او دهمدغه جنګ او ژوبلي څخه زموږ دټولني ځيني وګړي خوند اخلي.**

**ځيني پسونه سره جنګوي او پر هغوی داظلم په قصداً سره سرته رسوی.همدا ډول ځيني مرغان هم دجنګولو لپاره زموږ اوستاسو په ټولنه کي ساتل کيږي.**

**دکرک (مړز) په نامه يو مرغه چې ددې مرغه جنګول زموږ په ټولنه کي ډير مشهور او په ځينوسيمو کي يو کوچني فرهنګ ګرځيدلی دی. همداسي چرګ او زرکه هم هغه مرغان دي چې زموږ په ټولنه کې يې جنګول ځيني مينوال لري.**

**همداشان پرځينو حيواناتو باندي ډير باروړل، په حيواناتو باندي دهغوی دتوان څخه پورته او ډير کارکول،مرغان په بندکي ساتل دډول ډول ژويو وژل، په بې رحمانه ډول سره ښکار کول، اوژيوي دمنځه وړل. يادظلمونه او دې ته ورته نورډول ډول ظلمونه پرحيوانتو(ژويو) ددې سبب سوي دي چې زموږ په ټولنه کي دځينو ژويو نسل دکميدو سره مخ دی اونسل يې دمنځه تلو په حال کې دی.**

**پرحيوناتو ظلم کول که هر ډول وي يوبد اودنه منلو وړ کاردی، که څه هم اوس مهال پر ژيو ظلم کول زموږاوستاسوڅخه ځينوته يو عادي کار او لوبه ګر ځيدلي ده، مګرپه حقيقت کي هر ډول ظلم او زور زياتی پر ژويو باندي يوه ګناه ده.**

**کوم ظلمونه چي موږ او تاسو يي دالله (ج) پر مخلوقاتو باندي کوو دمنلو وړنه دي. که څه هم ناحقه ظلم کول هروخت اوپه هرډول چي وي ګناه ده، مګر دانسان دظلم څخه چي پربل انسان يې کوي،پر يوه حيوان باندي ديوه انسان ظلم ډير بد دی، ځکه انسان کولی سي په ځينو حلاتو کی دخپل ځان څخه دفاع(ساتنه) وکړې او يا هم ځيني وخت داسي کيدای سي چي يو انسان دي ظالم ګنهکار ته بخښنه وکړي، مګر په يو حيوان کي داځانګړتيا نسته، نه خو يوحيوان دانسان په شان دځان څخه ساتنه کولی سي او نه هم خبرې کولی سي چي ظلم کوونکي ته بخښنه وکړي، پر ژويو باندي ظلم کونکي به که دالله(ج)خوښه وه داخرت په ورځ دناحقه ظلم کولوحساب ورکوي.که دالله (ج) خوښه وه نو دخپل بد عمل سزا به ويني او که دالله (ج) خوښه وه نو بخښنه به ورته وکړي.راسئ دحيوناتو دښکارپه بندولو،نه کولو خپل چاپيريال پاک اوښکلی واساتو.**

**راسئ چي په خپل ټولنه کي پرحيواناتو باندي ظلم کول دمنځه يوسو او څوک پري نږدو چي پر يوه ژوي دې ظلم وکړئ.**

**راسئ چي نور دژويو دښکار کولو څخه لاس واخلو. راسئ چي نور ژيوي سره ونه جنګوو او پري نږدو چي پر ژويو باندي ظلم کول زموږاو ستاسو په ټولنه کي په يو فرهنګ بدل سی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جورت درلودل

جورت درلودل هغه ښوالی دی چې موږ او تاسو کولی سو دهغه په مرسته خپلې غوښتنې اوهیلې دخپلې کورنۍ او ټولنې سره شریکې کړو. که موږ او تاسو جورت ونه لرو نه سو کولی چې دخپل حق څخه دفاع اوساتنه وکړو. که موږ او تاسو جورت ونه لرو نودټولنې ظالمان انسانان به زموږ او ستاسو څخه خپل حقونه واخلې او ظلم به راباندې وکړي او موږ او تاسو به نه سو کولی چې دبې زړه توب، جورت نه درلودلو له کبله خپل غږ پورته کړو،دخپل حق څخه دفاع وکړو.همدا ډول موږ ځینې وختونه دبې جورتۍ له کبله په خپل ژوند کې دځینوستونزو سره مخ کیږو او ددې ټولنیزو ستونزو څخه وتل بیاموږ ځینې وخت ډیره ګران تمامیږي.

مخکې له دې څخه چې زموږ اوستاسو حق،حقوق کوم څوک درپښولاندې کړي، موږ باید خپل غږ پورته کړو، درخپل توانه پوري دخپل حق څخه ساتنه وکړو او پرې نږدو چې کوم څوک دي موږ ته ستونزې پیښې کړي،نه یوازې داچې دخپل حق څخه ساتنه وکړو، باید دنورو مظلومانو دحق څخه هم سا تنه وکړو . کیدای سي زموږ دلږ بې جورتۍ اوبې زړه توب له کبله دې زموږ ټوله ژوند دستونزو او کړونو څخه ډک سي .کیدای سي دبې جورتۍ او یاهم ددې عمله چې موږ دخپل حق په غوښتلوکې شرم وکړو زموږ حق دې موږته راونه رسیږي او درپښودې لاندې سي.

دخپل حق په غوښتلو کې شرم هم بې زړه توب دی.موږ او تاسو باید تل جورت منده او زړه ور واوسو او دخپل حق په غو ښتلو کې دهیڅ یو شخص دراغیزې لاندې رانه سو. زموږ اوستاسو دټولنې زیات وګړي دخپل حق نه غوښتلو او ږغ نه پورته کولو له عمله دستونزو سره مخ سوي دي، داستونزې هغه وخت نورې هم ډیریدای سي چې یاد اشخاص همداسې چوف پاته سي اوغلې اوسي،یاد اشخاص خپل دحق په غوښتلو کې دشرم احساس کوي اوزما په اند دخپل حق څخه نه دفاع اونه غوښتنه هم یوډول بې زړه توب دی.

زموږ او ستاسو حق هیڅوک نه سي را څخه اخیستلی! مګر هغه وخت چې موږ بې زړه او بې جورت و اوسو. که موږ هر څومره کمزوري او بې توانه هم یو مګر بیا هم باید خپله زړورتیا ښکاره کړو او درخپل وس پوري دخپل حق څخه سا تنه وکړو.ځیني زموږ او ستاسو څخه خپلې غوښتنې او آن خپلې عادي خبرې هم دځینو خلکو په مخ کې نسی کولی او پر هغوی باندې یو ډول اغیزه،صام دیادو کسانو پریوتی وي، داکار ددوی دنه جورت درلو دلو دلیل دی. که چیرې زموږ خبرې پرځاي وي، خبرې مودټولنې او زموږ په ګټه کې وي، نوبیا وېره دڅه؟موږ باید په پوره ډاډ سره دخپل حق غو ښتوونکې سو، پرته دکومې وېرې خپله غوښتنه ووایو، که چیرې داسې ونه کړو نو زموږ حقونه به زموږ په مخکې در پښو لاندې کیږي اوموږ به خپل غږ نه سو پورته کولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځيني انسانان بيا خپل غوښتني او هيلي له دې کبله نه سي ښکاره کولی چي دهغوی په ګمان ددوی غوښتونو ته به غوږ ونه نيول سي، دا کار هم پر ځايا وښه کار نه دی، زموږ غوښتنه که اوريدل کيږي اوکه نه، که پلي کيږي او که نه،مګر موږ بايد خپل دحق غوښتوونکي سو، خپلې هيلي بربنډې کړو، ترڅو موږ ورسته لږ ترلږه ددې کبله دخپل ضميردخوا ونه زورول سو چي آن خپله غوښتنه مولا هم ښکاره نه سواى کړاى.جورت او زړور توب بايد دماشوم توب څخه په خپلوماشومانو کي پيداکړو.
که موږ چيرې خپلو ماشومانو ته دخبروکولو اجازه دمشرانو په منځ کي ورنه کړو، دهغوی هيلو او غوښتونو ته غوږ کينږدو،نظريې وانه ورو،مشوره ورسره ونه کړو، نو زموږ ماشومان خپل جورت او زړورتوب دلاسه ورکوي او خپل هيلې بيا موږ او ټولني ته نسي ويلی، خپل اودنور دحقوقو څخه ساتنه نسي کولی .ماشومان بايد دمشرانو مخ ته دخبر کولو اجازه ولري.
خپلې غوښتنې بايد ووايي، خپل حق بايد وغواړي اوخپل نظر بايد څرګند کړي.که موږ دخپلو ماشومانو خبرو او غوښتنو ته غوږ ونيسو نو زموږ ماشومان جورت پيدا کوي اوتل به په ټولنه کي خپل او دنورو دحق غو ښتونکي وي. همدارنګه ماشومانوته وړونکي کيسي اونکلونه کول، وړونکي فلمونه ورته ښکاره کول، زموږ ماشومان بي زړه اوبي جورته کوي.
که يو کس خپل دحق غوښتلو جورت ونه لري، خپلې غوښتني نه سي بيا نولی نوهتمن دهغه حقونه خوړل کيږي او همدرنګه که چيرې يوه ټولنه خپل دحقوقو غوښتوونکي نه سي دهغې ټولني دوګړو حقونه درپښولاندي کيږي. تل بايد خپل دمشروع روا حقونو غوښتوونکي اوخپل مشروع،روا هيلي اوغوښتني ښکاره کوونکي اوسو،همدارنګه بايد دخپلې ټولني دحقونو څخه هم ساتنه وکړو. نيک جورت درلودل موږ دستونزو څخه ليري ساتي، جورت موږ او تاسوته خوشحالۍ را کوي،جورت موږ ته پر مختګ راکوي،جورت مو ټولنه پيا وړي کوي او همدارنګه جورت زموږ څخه نيک کسان جوړوي.
حق بايد دکم جورتي له کبله هغه وخت لاپټ نه کړو چي زموږ په يوه کلمه (ويوکي) سره موږ دارته پورته کيږو.پرحق باندي زړه ورتيا او جورت بايد خپل عدت وګرځو ترڅوچي الله (ج) را څخه راضي(خوښ) واوسی. جورت بايد پرحق، نيکو ويناوو او کارونو کي ولرو،
نه په بدو ويناوو او کارونوکي،ترڅو په ټولنه کي دعزت خاوندان و اوسو. حق پټول او دخپل حق څخه ساتنه نه کول بي زړه توب دی او داکړنه موږ ته زيان رسوي، په دې نړۍ کي.زړور اومشروع حق غوښتوونکي انسانان خپل ځان او خپله ټولنه دستونزو څخه خلاصوي.
هيڅ يوظالم انسان پرجورت لرونکی انسان او ټولنه باندي ظلم نسي کولی او دهغوی حق نه سي خوړلی، په شرط ددې که چيرې هغوی پر حقه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رښتیا ویل اورښتنولي

یو انسان هغه وخت یونیک اخلاقه انسان کیدای سي، چې کله هغه رښتیا وایي.رښتیا ویل او رښتنولي هم دنیکو اخلاقو دجملې څخه ګڼل کیږي، رښتني انسانان تل په خپلو چارو کې بریالي وي او هیڅ وخت دوی دستونزو سره نه مخ کیږي. رښتني انسانان تل دنور انسانانو په منځ کي دعزت،درناوي او قدر خاوندان وي، برعکس کوم انسانان چي دروغجن وي هغوی دټولنې په منځ کي عزت او اعتبار نه لري.

ځیني انسانان په خپلو ویناوو او خبرو کې درواغ وایي ، دا ډول انسانان بي اعتباره اوداسي اشخاص ګرځي چې ټولنه ددوی څخه نفرت کوي. درواغ ویوونکي انسانان دوستان او ملګري نسي پید اکولی .که چیرې کوم وخت درواغ ویوونکي انسانان رښتیا هم وایي نو خلګ دهغوی په خبرو باورنه کوي، ځکه دوی په دروغوویلوکي دومره شهرت موندلی وي چې ځنیوخلکو ته یې رښتیاویل هم درواغ ښکاري.

موږ که چیرې دروغ ویوونکي یو نوکولی سو درواغ ویل پریږدو، تل مو باید خپلو ویناوو او خبرو ته پام وي، چي زه څه وایم آیا زما دا وینا چي زه یې کوم یامې وکړل حقیقت لري او که نه؟ که چیرې حقیقت نه لري نوزه ولې ځان په ګناه کي مبتلا (اخته)کوم اودرواغ وایم؟د درواغوپه ځای رښتیاهم ویلی سم. که مې چیري درواغ ویلي وي نو باید دخپلو درواغو په خاطر دالله (ج) څخه بخښنه وغواړم او بیا دا ناوړه او زیان رسوونکی کارتکرار نه کړم. زموږ او ستاسو څخه ځیني تل درواغ وایي. دمثال په ډول زموږ څخه یوکس پوښتنه کوي چي ته تېره ورځ چیرې وي؟

موږ هغه ځای دپروخت نه ورته ښیو چي هلته وو بلکي بل ځای ورته ښیو، داکار موږ دځینو لاملونو په سبب کوو اوهمداډول ننې عصري وسایلو هم موږ ته ددروغو ویلو زمینه برابره کړي ده، موږ ځیني په تلیفون کي درواغ وایوو، ځیني زموږ څخه په نورو ټولنیزو رسنیوکي درواغ وایې او دا درواغ که څه هم کوچني وي مګر درواغ خودي! موږ که مخامخ یا دیوې ټولنیزې رسنۍ دلارې خپل نوم داوسیدو ځای،کار او دژوند دنوروچارو په اړه نه غواړو کوم چاته معلومات ورکړو: نو درواغ هم باید ونه وایو، که نه غوړو یوکس ته دځان په اړه معلومات ورکړو: باید دهغه دپوښتنې دځواب څخه بخښنه وغواړو او هیله وکړو چي په راتلوونکي وخت کي دهغه څه په اړه چي نه غوړم چاته معلومات ورکړم زما څخه پوښتنه مه کوه، په دې کار کولو سره پوښتنه کونکی کس زموږ څخه نه خفه کیږي، که چیرې موږ هغه کس ته چي زموږ څخه یې پوښتنه کړې ده درواغ ووایو نو کیدای سي زموږ درواغ هغه ته رښتیاسي، موږ هغه کس ته دروغجن معرفي سو او خپل اعتبار دلاسه ورکړو .درواغ ویل کیدای سي دماشومتوب څخه عدت وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیرې موږ اوتاسو دخپلو ماشومانو مخ کي درواغ وایو: بیا زموږ او ستاسو ماشومان هم په راتلوونکي وخت کي درواغ وائې.

د بیلګې په ډول زموږ دروازه یو څوک ټکوې، موږ یو ماشوم دروازې ته ور استوو او هغه ته وایو که چا زما په اړه درځخه پوښتنه وکړه، نو ورته ونه وایې چي هغه په کور کي دی اوهمدارنګه که کوم چا درځخه پوښتنه وکړه چي تاسو په کورکي پلانکی یاپلانی شی موجود دی نوهغه ته مه وایه چي هو؟

اوهمداسي ډېر نور ډولونه شته چي موږ او تاسو خپلو ماشومانو ته درواغ ښیو اوخپله هغوی ته درواغوویلو روزنه ورکو.

ماشومان چي کله زموږ اوستاسو درواغ ویل وینې :په راتلوونکي وخت کي زموږ ماشوم هم درواغ وائې اود خپل ځان عدت یې ګرځوي.درواغ ویل هیڅ کومه ګټه نه لري!

په درواغو ویلو سره موږ هتمن خپل ځان یا کوم بل چاته زیان رسوو!داسلام مبارک دین درواغ ویل نه خوښوي او درواغ ویونکی یې لوی ګنهکاره بللی دی.الله جل جلاله موږ د درواغو ویلوڅخه منه کړي یو،په دې خبره دلا ښه پوهیدلولپاره د سُوْرَةُ الحَجِّ : 3نمبرایات ولولئ!رسوالله (ص)فرمایې:رښتیانیکي ته بیول کوي اونیکي جنت ته بیول کوي، اوسړی رښتیاوایي تردي چي دالله (ج)په نزد رښتونی ولیکل سي اودرواغ بدي ته بیول کوي اوبدي دوږخ ته بیول کوي اوسړی درواغ وایي تردي چي دالله (ج)په نزد دروغجن ولیکل سي.①

همدارنګه زموږ او ستاسو ټولنې هم دروغ ویونکي نه خوښوي او د درواغجنو لپاره یې متلونه ویلي دي.

یو پښتو متل دي چي وائي ددروغو مزل لنډوي.که غواړو چي دټولنې په منځ کي اعتبارلرونکي او دعزت(درناوي) خاوندان واوسو.باید درواغ ونه وایو، خلګ موباید په درواغ ویونکو سره نه بلکي د ریښتینو او رښتیا ویونکوانسانانو په توګه وپیژني.

موږ او تاسو باید خپل دوستان او ملګري ددرواغو په ویلو سره تشویق نه کړو، بلکي هغوی د دروغو ویلو څخه راوګرځوو.

همدا ډول خپل ماشومان او دکورنۍ نور غړي هم دهغو ددرواغو ویلو په صورت کي دهغوی په دې بد عدت وپوهوو،زیانونه یې ورته بیان کړو او هڅه وکړو چي یوه داسي لاره ومومو چي په را تلوونکي وخت کي هغوی دروغو ویلوته زړه ښه نه کړي.

موږ او تاسو باید درواغ ویل دخپلي کورنۍ او ټولني څخه ورک کړو، داعدت دمنځه یو سو تل رښتیا ووایو،که څه هم رښتیا ویل مو دوندي ترخه وي چي موږته زیان رسولی سي، مګر موږ باید درواغ ونه وایو ځکه الله (ج) دروغ ویونکي نه خوښوي.

١- صحيح مسلم حديث گڼه6637



## شګوم او زموږ ټولنه

زموږاو ستاسو په ټولنه کې ځيني ښځې او نارينه په تېره بيا هغه ښځينه اونارينه چي علم اوپوهه نه لري، يو کار يا هم شی په بد يا ښه فال يا ښه،بدشګون،شګوم باندی نيسي اوفکرکوي که چيرې داکار په داډول سره وسي : موږ او يا هم زموږ کورنی ته به کوم زيان ياګټه ورسيږي.

دمثال په توګه ځيني ددوی ځخه دشپې جارونه وهي، ځني بياجارو لوړ نږدي، ځيني دشپې نوکان نه غوځوي،ځيني نور بيا دځپليو چپه اوښتل ، تورې جامې اغوستل، ددواخترونو په منځ کي کوژده او واده کول دشپې دکور ځخه دتور ديګ ايستل اوبحرته وړل اوهمدارنګه دشپې دپلوه ځخه دکور ځخه دخميرې وتل زموږ په سيميزه لحجه دبړوي په نامه ديوه حيوان نارې، انګولا کول او همداسي بم (کرکوميو) نومې مرغه اواز،ناره په يوه سيمه کي کول په بد فال اوشګوم باندي نيسي.پورته او دې ورته نور ډيرې پيښي او کارونه زموږ دټولني ځيني وګړي په بدشګون نيسي.شګونونه يوازي بدنه بلکي ځينو ته خوښی ورکوونکي شګومونه هم زموږ په ټولنه کي شهرت لري.

دمثال په ډول سره:دراستې سترګې دباڼو رپيدل،دپايځې اوښتل ،دکارغه نومې مرغه په هواکي ګرځيدل اودې ته ورته نورې تصادفي اوغيرې تصادفي پيښوته يې بيا دنيکو شګومونو نوم ورکړی دی.دا معلومه خبره ده چي ټول کارونه او پيښې دالله(ج) دطرفه ځخه دي او هيڅ يوشی يا تصادفي پيښه دانه ثابته وي چي کومه بده يا ښه پيښه دي منځ ته راسي. په هرې کړنې باندي الله(ج) خبر اوعالم دی مګر که چيرې الله(ج) وغواړي نو ديوې خطرناکي وقعې او ياهم ديوې ښې اوبي خطره واقعې دپيښيدلو دوخت خبراو علم خپلو خاصو اوعامو بنده ګانو ته ورکوي، هغه که په واسطي، نښواو نښانو سره وي اوکه بيله واسطي اونښو نښانو ځخه. الله(ج) خپلو بندګانو ته دداسي وسايلو دجوړيدلو علم ورکوي يايې ورکړی ؤ اودی چي دهغه وسيلې په کارولو سره انسان ديوې پيښې درامنځته کيدلو ځخه خبريږي، مګرکومه تصا دفي پيښه ياکار چي موږ او تاسو ځيني يې ځيني وخت دنورو ښو او بدو پيښو درامنځ ته کيدلو زيږنده اولامل بولو بيله دې چي زموږ داګمان اوخبره بيله ځيرنې تجربې اوسيلې ځخه وي يوازي زموږ ناسم ګمان،وسوسه اووېره ده،په دماغ کي دا د زيان اوګټې فکردهغې پيښې له کبله ساتل او په زړه کی ترينه وېره کول زموږ اوستاسو ځخه داهيره وي چي خيراو شر دالله(ج) دطرفه ځخه دي،ياد ناسم فکر،ګمان او وسوسه موږ په ډول ډول روحي او جسمي ناروغيواخته کوي.

زموږ او ستاسو دشګومونو کيسي يوازی او يوازي افساني دي،کيدای سي داشګومونه دځينو تصادفي پيښو او ياهم کيدای سي ځينو اشخاصو دخپلې ګټې او ځينو نورو بيا ديو ډول خوښی اوخوشبينی په پار منځ ته راوړي وي او دوخت په تيريدو سره ياد شګونونه اوکړنې زموږ په ټولنه کي مروج سوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ اوتاسـو بايـد شـګونونه او فالونـه ونـه نيسـو ځکـه الله(ج) پـه هغـه کـارونو خبردی چي اراده يې لري او بيله دي چي دلوی خدای(ج) خوښه نـه وی هيڅ يـو مخلوق تـه پـه هغه پيښيدونکی کار بانـدي علـم نـه ورکوي.بـدفال شـګون ياشـګوم اوکړنــه نيـول او دکـومې پيښـې درامنځ تـه کيـدو علـت ګڼـل دګنـاه څخـه خـالي نـه دی.رسـوالله (ص)فرمايي:بـدفالي هيڅ شـی نـه دی،(يعنـي کـړل) اوغـوره فـال دی، خلګووويل ای دالله رسـوله! فـال څـه شـي دی؟رسـوالله (ص)وفرمايل:نيکـه خبـره چي پـه تاسوکي يوڅوک يې واوري.①

کيدای سي فال ،شګون اوکړنـه دلويـو ګنـاهونو دکولـو لپـاره لارپرانيـزي اومـوږ پـه لويـو ګنـاهونو کـي مبـتلا کـړي. مـوږ او تاسـو بايـد دټـولنې څخـه د ادفـال شـګون اوکړنـي نيولـو کـوچنی فرهنـګ دمنځـه يوسـو او پـري نـږدو چـي مـوږ دي پـه هغـو کارونو پـه سي روان سو چي داسلام دين يې نه خوښوي.فال نيول او شـګون نيـول زموږ او ستاسـو پـه کـارونوکي ورسـته والـی راولـي اومـوږ نـه پريـږدي چـي خپـل کارونـه پـه سم ډول سرتـه ورسوو.فال نيول او شګوم ياشګون نيول موږ پـه روحـي او جسمي ناروغيو اختـه کوي.

شګون نيول او فال نيـول مـوږ پـه ګنـاه کـي اختـه کوي.موږ اوتاسو بايد خپـل هغـه دودونـه اوکړنـي دمنځه يوسو اووي نکړوکومې چي داسلام ددين سره پـه ټکـر کـي وي. زموږ اوستاسوڅخه دهريوه کس دا مسؤليت او دنده ده چي داسلام دسپيڅلي دين پـه رڼاکي خپل ژوند پرمخ بوزو اونوروته يې لارښوونـه وکړو.

زموږ او ستاسـو دټولنې ځينـي وګـړي ددې لپـاره زيارباسـي چـي زمـوږ اوستاسـو دټولنې هغه دودونـه اودکلتورهغه څانګې را ژونـدی اوزرغـونې کـړي چـي بـي ګټـې اوآن زيان رسوونـکي دي،

يـاد وګـړي کـه کيدای سـي دهغـو دودونـواو دفرهنـګ دښـاخونودپياوړتيا اوغوړيـدا لپـاره دي زياروباسـي چـي د هغوپـه راژونـدي کيدا اوبيـامروج کيدا سـره زمـوږ او ستاسو ټولنـه پرمختګ کولی سي،پـه يادې کړنې کولو سره بـه يادوکسانو خپـل مبين دين اسلام تـه هـم تريـوې اندازي پوري خدمت کړی وی.

---

## فرهنګ

ديـوې ټـولنې ټولـو مـادي او معنـوي شـتمنيو تـه فرهنـګ ويـل کيږي.مـوږ افغانـان يولرغونی او وياړلی فرهنګ لرو او نسل په نسل دا وياړلی فرهنـګ درمـوږ پـوري را رسيدلی دی. موږ تل دخپل غوره او وياړلي فرهنګ څخه په هرډول حـالاتو کـي ساتنه کړې ده او نـه مودي پريښي چي کوم څوک زموږ فرهنګ تـه زيان ورسوي.

خو اوس دبـده مرغـه زمـوږ دفرهنـګ ځينـي برخې دمنځـه تلـو پـه حـال کـي دي دا دمنځه تلل يې ځيني لاملونـه لري چي په لاندې ډول سره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.......................................... ۱۰۶..........................................
۱ - صحیح مسلم کتاب السلام حدیث گنه5798
په سمندرکي دملغلرولټون..........................................................

لومړی لامل: اوسني پرمختللي وسایل چي تېولنیزي رسنۍ په کي لويه ونډه لري زموږ فرهنګ ته يې ستونزي راولاړي کړي دي، ځيني زموږ دفرهنګ نه غوښتونکي او ورسره بغض کوونکي دځينورسنيو دلاري غواړي زموږ پرهنګ ته زيان ورسوي او زموږ اوستاسو څخه ځيني دهغوی دشومو موخو ښکارګرځيدلي دي او دنورو ټولونو دفرهنګ تقليديي کړی اوکوي يې. ځيني ددې رسنيو دجملې څخه دننه زموږ په هيواد کي دي، ځيني نوريې زموږ دهيواد څخه دباندی زموږ دفرهنګ پرضد کارکوي اودهغوی هڅې تل همداوي چي زموږ مادي او معنوي شتمنيو ته زيان ورسوی.

يادمغرض،زيان رسوونکي کسان وه موږته تل خپل فرهنګ ښه نوموي او زموږ فرهنګ راته يوبد او ناوړه فرهنګ معرفي کوي. موږ او تاسو مسؤل يو چي ددې رسنيو پرضد خپل غږ پورته کړواو پري نږدو چي زموږ فرهنګ ته دې دوی زيان ورسوي او زموږ ټولنه دي زموږ څخه ليري کړي. موږ کولی سو چي دوی ته جواب ورکړو،البته په دې کارکولو کي زموږ دهغه رسنيو رول اړين دی چي په ريښتيا هم غواړي زموږ دټولنې لپاره خدمت وکړي.

دهغو دشمو موخو(هدفونو) څخه دټولنې دوګړو خبرول زموږ دخپلو رسنيو دنده ده.زموږ او ستاسو دولت هم بايد پري نږدي چي يوه رسنۍ دي زموږ په هيواد کي زموږ دمادې او معنوي شتمنيو پر ضد فعليت وکړي او هغه کسان چي دارسنۍ اوري، ګوري، يالولي يې دهغوی دنده هم داده چي نور دا رسنۍ ونه څاري او خپل ترتوانه پوري دهغوی څخه ليروالی اختيار کړي. موږ بايدتل ويښ و اوسو ښه اوبد ديوبل څخه توپير کړو او که خپله ياد کارنه سو کولی نو بايد دټولنې دنورو وګړو څخه مرسته وغواړو.

البته دیادونې وړده چي داسلام مبین دين او زموږ ژبه هم زموږ دفرهنګ دجملې څخه دي او زياتره ګواښونه هم زموږ همدغو دو دفرهنګ څانګو ته دي. که چيرې موږ دهمدغو څانګو څخه کلکه ساتنه وکړو نو موږ به خپل دفرهنګ ډيرو برخو څخه ساتنه کړې وي.

دوهم لامل: خارجي هيوادونو ته سفرونه او تګ را تګ. زموږ دټولنې ډېر وګړي دبيلا بيلو لا ملونو له کبله په خارجي هيوادونو کي ميشت دي. ددې ميشتو وګړو دجملې څخه ځيني دهغو ټولونو دفرهنګ در اغيزي لاندي راغلي دي او خپل فرهنګ يې شاته غورځولی دی، دا دفرهنګ شاته غورځول هم ځيني لاملونه لري دهوسا ژوند تېرولو ،دمالي شتمنيو دلاسته راوړلو،د زور زياتي، شوق او خوښي، دډېر مودې اوسيدلو او دخپل هيو واد او ټولنې سره دنفرت کولوله عمله، دا او دې ته ورته نور ډير لاملونه دي چي زموږ دټولنې هغه اشخاص چي په خارجي هيوادونو کي ميشت دي خپل دفرهنګ څخه ليروالی اختياره وي. کله چي ياد اشخاص خپل هيواد ته راستانه سي :بيا هم دوی دهم هغې بحرنۍ ټولنې دفرهنګ څخه په خپل هيواد کي ګټه اخلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل فرهنګ په ډول يې عملي کوي اودټولنې نورو وګړو ته هم دهم هغه بحرني فرهنګ دمنلو لاربښونه کوي. ددې پرځای چې هغه بحرني فرهنګ هيرکړې نو نوريې هم مروج کوي، ياد کسان ديوه هيواد پاله شخص دعوه نه سي کولی، ياد وګړي درهغو چي خپل فرهنګ ته په ربښتني ډول نه وي ژمن سوي زموږ هيواد ته کومه ګټه نه سي رسولی، ياد وګړي بايد خپل ځانونه اصلاح کړي، دنه اصلاح کيدلو په صورت کي بايد ټولنه د دوی څخه ليروالی اختيارکړي او دوی پري نږدي چي زموږ مادي او معنوي شتمنيو ته زيان ورسوي.

دريم لامل:اقتصادي ستونزې: زموږ دټولنې ځينی وګړي دخپلو مالي ستونزو دليرکولو لپاره دنورو ټولونو دمادي او معنوی شتمنيو دپياوړتيا لپاره خپل په هيوادکي فعاليت کوي او دخپلو مادي او معنوي شتمنيو ددمنځه وړلو په فکرکي دي.

ياد کسان دنورو دلاس لاندي خپل هيواد ته زيان رسوي او دهرپرمختګ مخه يې ډب کوي. زموږ څخه يې ځيني مادي او معنوي شتمني اخيستي او دځينونورو داخيستلو په لټه کي دي. دوی زموږ هرډول شتمني دخپلو بادارانو په لمنه کي وراچوي او هڅه يې تل دا وي چي څنګه دخپل هيواد مادي او معنوي شتمنۍ دمنځه يوسي. يادو کسانو ته هيڅ وخت آزاد انسانان نه سو ويلی، بلکي دوی غلامان او مريان دي. موږ او تاسو بايد دهغه خپل او پردي مخه ونيسو چي زموږ دمادي او معنوي شتمنيو د دمنځه وړلوپه لټه کي وی، البته داسلام دمبين دين په رڼا کي.

هغه وګړي چي زموږ دټولنې څخه دي او زموږ مادي او معنوي شتمنۍ دمنځه وړي نيکوکاره اودستاينې وړنه دي. څنګه يوکس دپرديوو په لمسون خپل مادي او معنوي شتمني دمنځه وړي.

څلورم لامل: بې علمې اوناپوهي. زموږ دټولنې ځني وګړي ددې له عمله دنورټولنو فرهنګ عملي کوي، چي هغوی علم او پوهه نه لري،هغوی په دې نه پوهيږي چي دنورو دفرهنګ تقليد کول ښه کړنه ده او که بده او دانه سي معلومولی چي کومه کړنه چي زه يې کووم هيواداو ټولنې ته مي ګټه رسوي او که زيان.

دټولنې ميشتوته نيک پوهوې دټولنې دپوهو وګړو دنده ده، هغه کسان چي علم او پوهه لري بايد تل هڅه وکړې چي دبي علمه او ناپوهو کسانو سره دهغوی په پوهوې کي دبيلابيلو لارو څخه کار واخلې اودهغوی سره مرسته وکړې ترڅو دټولنې ناپوهه اوبي علمه وګړي دجهل او ناپوهيو په تورو تيارو کي بند پا تې نه شي.پنځم لامل: ځان ښودنه. زموږ او ستاسو څخه ځينې دځان لوی اوعصري ښودلو او ياهم پرمختللي ښودلو لپاره، دنورټولونو مادي او معنوي شتمنۍ دځان لپاره غوره کوي اود اد ځان ښودني دود دبيلابيلو لارو څخه غواړي دټولنې نورو وګړو ته هم ورسوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی غواړي چې په دې کارکولو سره په ټولنه کي دعزت او قدر خاوند سي،دیاد فکردرلودونکو دامفکوره ناسمه ده،باوري یم چې هیڅ وخت هم زموږ هیواد پالـه اوفرهنګ پاله وروڼه دپردیو دفرهنګ تقلید کوونکی ته ددې لپاره درناوی نه کوی چې ده دخپل فرهنګ څخه ځان لیري کړی دی او دنورفرهنګ تـه یې ځان نـژدې کړی دی، یاده سوې مفکوره درلودونکي وګړی پـه خپل دې بدفکر کـي هتمن ناکامه دي او دوی خپل موخې ته نه سي رسیدلی.

شپږم لامل: جبراو زور زیاتی.

زموږ ځنـي مظلو مـان وروڼـه او خوینـدې پـه دې خـاطر دپردیـو دفرهنګ ښـکار ګرځیدلي دي چې هغوی دې کړنـې تـه مجبـور سوي دي، حـالاتو دوی تـه دنـورو دفرهنګ دمنلـو ګواښ کړی دی، دوی دکوم مجبوریت لـه عملـه دنـورو دمـادې او معنوي شتمنیو منلو تـه اړسوي دي،دوی تـه چې کلـه هم ددې حلاتو څخـه دوتلـو زمینـه برابره سي، نو دوی به هتمن هغه دجبراو زور زولنـې مـاتې کړې او ژربـه هغه فرهنګ ته شا کړي کوم فرهنګ چې دوی پـه خپلـه خوښـه نـه دی غوره کړی بلکي په دوی باندي په زورتپل سوی دی.

اووم لامـل:تعلیمي مرکزونـه. ځینـي دپردیـو تـرلا س لانـدي تعلیمـي مرکزونـه هـم زموږ ځیني ماشومانو، تنکیو ځوانـانو او ځوانـانو تـه دنورفرهنـګ لـولي. دهغوی دماشومتوب، دین، بي وزلې او نورو لارو څخه په ګټې اخیستلو پـه هغوی بانـدي دنورو فرهنګ مني،هغوی دې ته تشویق کوي چې دهغوی دناسم فرهنګ دمنلوپـه جـال کـي راګیـر او دهغوی ښکارسي اوورسته دهغوی دشومو موخو د وړپوره کولـو آلـه وګرځي.یـاد تعلیمـي مرکزونـه کیـدای سـي دټولـو نـورو لاملـو نـو څخـه خطرناک تمام سي، او ژر به زموږ په ټولنه کي داسي یو نفاق منځ تـه راولـي چې دهغه څخه دوتلو لاره به بیا ډیره ستونزمنه وی.

هغـه تعلیمـي مرکزونـه چـې زمـوږ ماشـومانو او ځوانـانو تـه دپردیـوو فرهنـګ زده کوي باید وي پیژنو او په ګډه یې مخه ونیسو پـري نږدو چې هغوی خپلو ناسمو اومنفي موخو ته ورسیږي.

خپل دکورنۍ غړی باید پـه داسي تعلیمـي مرکزونـو کـي ونـه روزو ،زده کـړه پـه ونـکړو چـې هغـه مرکزونـه زمـوږ دمـادې او معنـوي شتمنیوپـه زیـان وي، زمـوږ دفرهنګ دناسم ښودلو روزنـه زمـوږ دوسـتانو تـه ورکـوي او هڅـه یـې دا وي چې زموږ اولادونـه پرناسمو اونـاروا لارو ستانه کړي.

موږ او تاسو باید دهغو ټولو خطرونو پر وړانـدې ودریږو او پرضـد یـې غږاوچت کړو، چې زمـوږ هیـواد او ټـولنې تـه زیـان رسـوونـکي تـمامیږي. هغه خطرونـه کـه زمـوږ هیـواد اوټـولنې تـه پـه اوږد محالـه توګـه ګـواښ کـوونکي وي او کـه پـه لنډمحاله توګه ګواښوونکي وي.موږ باید دخپلو مادې او معنوي شتمنیو (فرهنګ) څخه ساتنه وکړو او هیڅ کورنې او بحرنې وګړی یا وګړو ته اجازه ورنـه کړو چې زموږ څخه زموږ فرهنګ واخلې اویاهم ورته زیان ورسوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څنګه کولی شو خپل فرهنګ خوندي وساتو؟

لومړی: علم او پوهه لاسته راوړل. ټولنه دپوهې په ګانه سینګارول.دوهم :نیک عامه پوهوي او یوبل ته دهغه عواملو او علتونو په اړه پوهوي ورکول او خبرورکول چي زموږ دغوره فرهنګ او دهغه ځانګو ته خطر پیښوي او یا یې هم ورته پیښ کړی وي.
دریم: پوهان او عالمان کولی سي چي دنورو دفرهنګ دمروج کولو څخه زموږ په ټولنه کي مخنیوی وکړي .څلورم: قومي مشران اومخور هم په خپل فرهنګ ساتلو کي پوره ونډه لري.
پنځم: ټولنیزي رسنۍ. دټولنیزو رسنیو په مرسته موږ او تاسو کولی سو خپل فرهنګ ته خدمت وکړو او پري نږدو چي زموږ په هیواد کي دي دپردیوو فرهنګ مروج سي.
شپږم: دولت. دولت دنده لري دهغو کسانو او کړیو مخه ونیسي چي زموږ فرهنګ ته ستونزې راولاړه وي.اووم:عام خلک. عام خلک دنده لري چي دپردیو دزیان رسوونکو پرهنګونو دمروج کیدو څخه مخنیوی وکړي. اتم: یووالی او پر خپل فرهنګ ټینګ پاتې کیدل.نهم: زموږ تعلیمي مرکزونه او تعلیمي کتابونه هم باید داسي وي چي دهیڅ پردي فرهنګ دراغیزې لاندي نه وي.پورته یادې سوې کړنې،کسان او کړۍ کولی سي چي زموږ داویاړلی،لرغونی فرهنګ او دهغه ځانګي خوندي او پیاوړي وساتي .
دیادونې وړده چي همدا موږ او تاسویو چي خپل فرهنګ ته زیان رسو. که موږ چیرې خپل فرهنګ ته زیان ونه رسوو: هیڅ یوکس او ټولنه نه سي کولی زموږ فرهنګ ته زیان ورسوی. موږ او تاسو یو چي خپل دفرهنګ دښمنانو ته مولاره هواره کړې ده چي هغوی زموږ مادې او معنوي شتمۍ دمنځه یوسي، او ورته زیان ورسوي.زموږ او ستاسو په ټولنه کي ښه او بدکوچني فرهنګونه هم شتون لری او که زه دلته دهغوی یادونه کوم نویو لوی کتاب به پري ولیکل سي، مګر موږ او تاسو باید دهغه دودونو کوچنیو فرهنګونو مخه ونیسو چي بد او زیان رسوونکي وي او زموږ په ټولنه کی مروج سوی وي.
هغه دودونو ته باید وده ورکړو او ورته کارو کړو چي په رښتیا هم مثبت اودستایلو وړوي، ګټه رسوونکي وه او دي او اوس دمنځه تلو په حال کي دي او یاهم دمنځه تللی دي. موږ اوتاسو په ګډه کولی سو خپلې ټولنې ته خدمت وکړو او دخپلې ټولنې هرډول پرمختګ ته لیڅي را ونغاړو.
دا ټولنه موږ په ګډ کارکولو سره پرمختللي کولی سو. زموږ ټولنې اوهیواد ته یوازي موږ اوتاسو ګټه رسولی سو،
نور وګړي او کړی زموږ اوستاسو وهیواد اوټولنې ته ډیر وخت کومه ګټه نه سي رسولی!موږ او تاسو باید پرخپلو ځانو باور دلاسه ورنه کړو او تل همت لرونکي او صبر کوونکي انسانان و اوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اسلام

موږ او تاسو مسلمانانو که څه هم دژوند په هرډول حلاتو کي دخپل دین څخه دالله(ج) په مرسته کلکه ساتنه کړې ده، دژوند دبلې هرې اړتیا څخه مو خپل پاک دین ته حق داولیت ورکړی دی، تل مودا هڅه کړې ده چې دالله(ج) ټول احکام پرځای کړو، چاته اجازه ورنه کړو چي زموږ ددین او زموږ ددیني ارزښتونو پر ضد لاس په کارسي، خو په اوسني عصر، وخت کي زموږ او ستاسو څخه ځیني مسلمانان دخپل دین څخه لیري سوي دي ،یعني خپلو دیني ارزښتونو او اسلامي احکامو ته څومره چي ښایي هومره پاملرنه نه کوي او لامل یې هم داسوی دی چي موږ مسلمانان دنورو ادیانو څخه دژوند په ډېرو چارو کي ورسته پاتې یو یاسو.

زموږ ددین دښمنانو زموږځینو څخه ګټه اخیستې ده، موږځیني یې دیوبل سره په شخړواخته کړي یو او په یوه او بل نوم موږ دیو بل پر واړندې جنګوي؟ځیني جاهـل اوس مسـلمانانو تـه وژونکـي وایـي حـال دا چـي اسـلام دژغورني،مهرباني،سلامتی... دین دی. داسلام دمبارک دین مخالفین تل په دې هڅه کي وه او دې چي داسلام سپیڅلي (پاک) دین بدنامه کړې، د دوی ددې بدې موخې ته درسیدو څخه وړاندې مسلمانان باید دهغوی مخه ونیسي، داسلامي احکامواو دالله(ج) پر پاک کتاب قرآنکریم باندي منګولې ټینګول ( په قرآنکریم باندی عمل کول) دحضرت محمد(ص) پرلاره تګ کول د مسلمانانو په منځ کي اتفاق، هغه اشخاص اوکړی پیژندل چې داسلام په جامه کي داسلام پر ضد کارکوي او په دې لټه کي وي چي دمسلمانانو ترمنځ ستونزې منځ ته راوړي، داسلامي عالمانو لویې ټولنې جوړول، دهغه رسنیو او لیکونو پیژندل او درخپل توان پوري دهغوی دشومو موخو مخه نیول چي داسلام دنامه څخه په ګټه اخیستلو غیرې اسلامي بیانونه اوفتواوي ورکوي، په ماشومانوتنکیو ځوانان او ځوانانوباندی داسلامي علومو زده کړه،

داسلامي عالمانو دخوا څخه داسلامي امورو یادونه، نصحت(واعظ)کول،یادې سوې او دې ته ورته کړنې موږ او تاسو په دې دونیا او اخرت کي دکامیابۍ ترپولې رسوې،موږ کولی سو په دې کړنو کولو سره دالله(ج) رضالاسته راوړو، اوانشاءالله هیڅ وخت به د یادو کړنو دعملي کولو په صورت کي مسلمانان دداسي یو وخت شاهدان ونه اوسي چي مسلمانان یوبل په کښي وژني، یوبل ته په کښې زیان رسوی او دمسلمانانو ترمنځ یوالی نه وي.

موږ او تاسو مسلمانان باید داسلام دنامه څخه په ګټې اخیستلو غیرې اسلامي کړنې ونه کړو، نه هم بل چاته دا اجازه ورکړو چي داسلام دنامه څخه ناوړه ګټه پورته کړې او په دې ناوړه او غیرې اسلامي کړنو کولو سره داسلام دین ونورو آدیانو ته یو بد دین ونوموې. زموږ او ستاسو مسلمانانو دا دنده ده چي اسلامي احکام پلي کړو.


(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي احکاموکي دهرې ستونزې حل شتون لري او د هرچا حقونو ته په کي پاملرنه سوې ده. داسلامي احکاموپلي کول موږ اوتاسو او زموږ ټولنې ته نیکمرغې په تحفه کي راکوي. که موږ غیرې اسلامي کړنې سرته ورسو، نو دنورادیانو به داسلام ددین څخه زموږ دهغو کړنو له کبله چي غیرې اسلامي دي مګر موږځیني يې داسلام پردین پوري تړو نفرت وسي، وبه نه غواړې چي داسلام دین چي دژغورنې،بریالیتوب او سلامتئ دین دی ورته داخل سي او داسلام دین ومنې. پرموږ اوتاسو مسلمانانو دا لازمه ده چي موږ یوازي په نامه مسلمانان ونه اوسو، بلکي په رښتیا اسلامي احکامو ته غاړه کښېږدو،اسلامي احکام پرځان پلي کړو او لکه څنګه چي داسلام خوږ پیغمبر او دهغه ملګرو داسلام لپاره زحمتونه ګاللې وه موږ او تاسو هم باید ددې پاک دین لپاره زیار وباسو او خپل مسؤلیت په ښه ډول سره سرته ورسوو.ومن الله توفیق

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

دلوی خدای جل جلاله په مرسته داکتاب (په سمندرکې دملغلرولټون)
د۱۳۹۴/۴/۲۴ ه ش نیټه پای ته ورسیدی.
دخیرد دعا په هیله ستاسو ورور محمود حمیدزی



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سرچيې چې په دې کتاب کې ورڅخه ګټه اخيستل سوې ده.


۱:صحيح البُخاري.تاليف الامام ابوعبدالله محمد بن اسما عيل البُخاري.
ژباړه.خپروونکي اداره مکتبه قاسميه.دخپريدونيټه ۱۳۹۲ه ش
۲:صحيح مسلم:تاليف ابو الحسين مسلم بن الحجاج القشيري. ژباړه.خپروونکی اداره احمدشاهي کتب خانه دچاپ کال ۱۳۹۰ه ش
۳:تذکرةُ الاولياء. تاليف فريدالدين عطار.ژباړه.خپروونکي اداره عمرعاصم نشراتي مرکز.دچاپ کال ۱۳۹۱ جدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلیکوال لنډه پیژندنه!

محمودحمیدزی په انګرېزي(MahmoodHamidzai) دخیرالله زوی،دحاجي محمداقبال لمسی او په ختنه اڅکزی دئ
. نوموړی د 1374لیږدیز لمریز کال دثور دمیاشتې په څلورمه نېټه چي د 1995زیږدیز کال دافریل دمیاشتې
24نیټې سرسمون خورې دکندهار ولایت دژړی ولسوالی په سنګحصار کلي کي زیږیدلی دئ. حمیدزي دیني زده کړې
دخپل کلي دملا امامانوڅخه لوستي دي.
لومړنی ښوونځی یې په سنګحصار لېسه، منځنی ښوونځی یې په قاضي عبدالمجید منځنی ښوونځی کي لوستی
او په کال 1396لیږدیز لمریزکال کي دژړی ولسوالی داسعدسوري لېسې څخه فارغ اودمکتب دوره یې پای ته رسولې ده.
حمیدزي:نیمه عالي زده کړې د ډاکټر مامون طاهري روغتیا علومو انستیتوت دنرسنګ په څانګه کي کړې
او دیاد انستیتوت څخه په کال 1399لیږدیز لمریز کال کي دپنځلسم پاس په سویه فارغ دئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**